نو کله چې دا واقعه رامنځ ته شوه، قريشو کې د بنو هاشم اثر او حيثيت زيات لوړ شو، ځکه هغوی ته د عبد المطلب څرگند کرامت ښکاره شو.

او د زمزم څاه کې د سرو زرو هوسۍ او د تورو په اړه کوم روايات چې راغلي دي، هغه ضعيف دي. خو خبره زياته مشهوره ده، د امام سعيد بن المسيب او امام زهري څخه روايت زيات راغلي دي، نو که چيرې دا کار شوی هم وي، خو د دې خبرې عقيدې پورې کوم ربط نشته. لکه دا د زمزم کوهي بنو جرهم د بنو خزاعه څخه پټه کړې وه، د دې څاه دپاسه يې لوی لوی کاڼي کيښودي وو، او بيا يې پرې خاورې اړولې وې، او دغه تاريخي رواياتو کې دي چې د سرو زرو هوسۍ او تورې يې هم پکې ښخې کړې وې.

د عبد المطلب نذر:

د عبد المطلب يو نذر مشهور دی، او د سيرت په باب کې بيانيږي، ځکه د نبي عليه السلام پلار عبد الله پورې تعلق لري. مصنف د عبد الرزاق (5/ 316 – 317) او دلائل د بيهقي (1/ 87) کې د امام زهري څخه، او طبقات د ابن سعد (1/ 84 – 85) کې په حسن سند سره د أبو مجلز څخه نقل دي، چې کله قريشو د زمزم کوهي کنستلو کې عبد المطلب سره جگړه کوله، نو هغه وخت دده يو ځوی حارث و، دغه وخت يې نذر وکړو کچيرې ماته الله عزوجل لس زامن راکړل، نو زه به يو ځوی د کعبې په خوا کې حلالوم.

خو دا دواړه روايتونه مرسل دي، صحيح سند سره مصنف ابن أبي شيبه ج ٣ / ص ١٠٤، رقم الحديث ١٢٥١٦ کې مختصرا راوړی دی او امام طبري رحمه الله په خپل تاريخ الرسل والملوک مشهور په تاريخ الطبري (ج ٢ / ص ٢٣٩، ط دار التراث) کې په صحيح سند سره چې راويان يې ټول ثقات دي، دا روايت لږ تفصيل سره راوړی دی:

عن قبيصة بن ذؤيب، أن امرأة نذرت أن تنحر ابنها عند الكعبة في أمر إن فعلته، ففعلت ذلك الأمر، فقدمت المدينة لتستفتي عن نذرها، فجاءت عبد الله بن عمر، فقال لها عبد الله بن عمر: لا أعلم الله أمر في النذر إلا الوفاء به، فقالت المرأة: أفأنحر ابني؟ قال ابن عمر: قد نهاكم الله أن تقتلوا أنفسكم، فلم يزدها عبد الله بن عمر على ذلك، فجاءت عبد الله بن عباس فاستفتته، فقال: أمر الله بوفاء النذر والنذر دين، ونهاكم أن تقتلوا أنفسكم وقد كان عبد المطلب بن هاشم نذر إن توافى له عشرة رهط، أن ينحر أحدهم، فلما توافى له عشرة، أقرع بينهم أيهم ينحر؟ فطارت القرعة على عبد الله بن عبد المطلب، وكان أحب الناس إلى عبد المطلب، فقال عبد المطلب: اللهم هو أو مائة من الإبل، ثم أقرع بينه وبين الإبل، فطارت القرعة- على المائة من الإبل- فقال ابْنُ عَبَّاسٍ للمرأة: فأرى أن تنحري مائة من الإبل مكان ابنك فبلغ الحديث مروان، وهو أمير المدينة، فقال: ما أرى ابن عمر ولا ابْنَ عَبَّاسٍ أصابا الفتيا، إنه لا نذر في معصية الله، استغفري الله وتوبي إلى الله، وتصدقي واعملي ما استطعت من الخير، فأما أن تنحري ابنك فقد نهاك الله عن ذلك فسر الناس بذلك، وأعجبهم قول مروان، ورأوا أنه قد أصاب الفتيا، فلم يزالوا يفتون بألا نذر في معصية الله.

مشهور تابعي قبيصه وايي: يوې زنانه نذر کړی و، کچيرې ما دا کار وکړو نو د کعبې په خوا کې به خپل ځوی حلالوم (ذبحه کوم) نو هغه کار يې وکړو، نو مدينې ته راغله چې د خپل نذر په اړه فتوه ترلاسه کړي، عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ته راغله، هغه ورته وويل: ما ته نور علم نشته خو دومره ده چې الله عزوجل د نذر په پوره والي امر کړی، نو زنانه وويل: آيا زه خپل ځوي حلال کړم . ابن عمر وويل: الله عزوجل د خپلو هم جنسو

وژل ناروا ګرځولي دي او ددې ځخه نوره زیاتي خبره یې ورته ونه کړه.

بیا هغه زنانه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته راغله او د مسئلې تپوس یې ترې وکړو. هغه ورته وویل: الله عزوجل د نذر پوره کولو امر کړی دی، او نذر دین دی. او منع یې کړې ده چې تاسي خپل ځانونه (هم جنس) مه وژنئ، او یقینا عبد المطلب بن هاشم دا نذر کړی و، کچیرې الله عزوجل لس زامن ورکړل، نو یو به پکې حلالوي، کله چې یې لس زامن پوره شو، نو قرعه یې واچوله چې کوم یو پدوی کې حلال کړي ؟ نو قرعه د عبد الله بن عبد المطلب راوختله. او هغه عبد المطلب ته په ټولو کې ګران و، نو عبد المطلب وویل: یا خو دا ځوی او یا دا سل اوښان حلالوم، بیا یې قرعه واچوله، نو قرعه د سلو اوښانو راوختله نو ابن عباس هغه زنانه ته وویل زما نظر دا دی چې ته د خپل ځوی په ځای سل اوښان ذبحه کړه، دا خبره مروان ته ورسیده چې هغه پدې وخت کې د مدینې امیر و، نو هغه وویل:

زما په نظر ابن عمر او ابن عباس د مسئلې صحت ته ندي رسیدلي (دا فتوه یې خطا ده) د الله په معصیت کې د نذر پوره والی نشته، ای زنانه، د الله ځخه ښښنه او توبه وغواړه، او صدقه وکړه، او د وسع مطابق د نیکۍ کار وکړه، او هر چې د ځوی حلالول دي نو ددې ځخه ته الله عزوجل منع کړې یې، نو خلک پدې فتوه سخت خوشحاله شول، او د مروان قول یې خوښ کړ، او دا یې فکر وکړو چې د مروان مسئله سمه ده، نو هغوی همیش دا فتوه ورکوله چې د الله په معصیت کې نذر ته اعتبار نشته.

نو ددې صحیح روایت ځخه دا ثرګنده شوه، چې عبد المطلب د نبي علیه السلام پلار عبد الله د حلالولو اراده کړې وه.

زمونږ په شریعت کې هم نذر جایز دی، خو غوره ندی.

ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: أَوَلَمْ يُنْهَوْا عَنِ النَّذْرِ، إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ النَّذْرَ لاَ يُقَدِّمُ شَيْئًا وَلاَ يُؤَخِّرُ، وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِالنَّذْرِ مِنَ البَخِيلِ» صحيح البخاري.

ابن عمر رضي الله عنهما وايي، آیا دا خلک د نذر ځخه ندي منع کړی شوي، یقینا نبي علیه السلام فرمایلي دي: یقینا نذر نه څه مخکې کوي او نه څه وروسته کوي، او یقینا په نذر سره د بخیل ځخه (مال وغيره) ویستلې کیږي.

مسلمانه وروره، غیر مشروطه صدقه وکړه، داسې مه وایه چې که دا کار مې الله وکړو نو بیا به زه دومره صدقه ورکوم، معنا که دا کار مې ونشو بیا صدقه نه ورکوم. دا د بخیلانو صفت دی.

خو که یو څوک د الله په نوم نذر وکړي، بیا یې پوره کول د مومنانو صفت دی. او د غیر الله په نوم نذر خو شرک دی، ځکه دا عبادت دی، او عبادت به خالص د الله لپاره کیږي.

نن سبا دا نذر خو نشته چې زه به ځوي حلالوم، خو داسې نذر جایز دی که الله ما ته ۸ یا لس زامن راکړل، او بیا ټول ځوانان شول، نو یو به زه د الله لپاره استشهادۍ ته ورکوم، دا نذر جائز دی.

د دغه نذر نیټه:

بیا صحیح روایتو کې دا خبره نشته چې ددې نذر پوره والي اراده عبد المطلب کله کړې وه، خو یو ضعیف روایت د واقدي دی چې دا د نبي علیه السلام د پیدایښ ځخه ثلور کاله مخکې عبد المطلب اراده وکړه چې خپل یو ځوي حلال کړي.

او تایید یې د بل حدیث نه کیږي، حکیم بن حزام رضي الله عنه چې د خدیجې رضي الله عنها وراره دی، وایي چې زه د أصحاب الفیل واقعې ځخه دیارلس کاله مخکې زیږیدلی وم، او کله چې عبد المطلب د خپل ځوی عبد الله د حلالولو اراده وکړه، نو زه هغه وخت پوهیدم، او دا د نبي علیه السلام زیږیدو نیټې ځخه پینځه کاله وړاندې و. والله أعلم.

المستدرك على الصحيحين للحاكم، 3/ 549. او امام الطبري په خپل تفسیر 23/ 85 او حافظ ابن کثیر هم په خپل تفسیر 4/ 18 کې ذکر کړې ده.

الله عزوجل دا عبد الله د ذبح کیدو نه وساتو ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راروان و.

دوام لري .... ان شاء الله.



څه وجه ده چې جهاد في سبيل الله تعالیٰ نه کوئ؟

اى د جهاد څخه ناستو ځوانانو!

اى هغه ځوانانو چې د خليفة المسلمين سره مو په سختۍ او اسانۍ بيعت کړى وو!

اى هغه ځوانانو چې په خپل بيعت کې مو ويلي وو، هغه چې تاسې د خليفة المسلمين سره کړى وو چې حق به وايو، د حق ملګرتيا به کوو، تر څو چې مو ژوندي يو او د هيڅ ملامتګر د ملامتيا څخه به نه ويريږو!

ولې له جهاد في سبيل الله تعالیٰ څخه کيناستئ؟

ولې مو جهاد في سبيل الله تعالیٰ پريښود او د حق پرستو مجاهدينو ملګرتيا مو پريښوده؟

ولې مو د بشمېره کونډو رنډو، يتيمانو ارمانونه له خاورو سره خاورې کړل؟

چې د الله جل جلاله د مدد او کومک څخه وروسته يې د دنيا په کارونو کې ټولې هيلې او ارزوګانې تاسې ته وې.

ولې مو په سختو حالاتو او شرايطو کې د مؤمنانو مجاهدينو جماعت پريښودلو او ځانونه مو ترينه څنډې ته کړل؟

آيا جهاد ختم شو چې تاسې په کور کيناستئ او خپلې اسلحې مو کېښودې؟

آيا اسلامي نظام په ټوله نړۍ حاکم شو چې تاسې جهاد في سبيل الله تعالیٰ نه کوئ؟

آيا کفار، مرتدين، مشرکين په ټوله نړۍ کې ختم شول چې د هغوى مقابلې او مبارزې ته مو شا کړه؟

آيا مؤمنان ورونه او مؤمناني خويندې د کفارو، مرتدينو، مشرکينو له زندانونو څخه را آزاد شول چې تاسې د بې غيرتوب ژوند غوره کړو؟

اى ځوانانو!

تاسې هغه په اورشيندونکو بمونو ټوټه، ټوټه شوې د مؤمنانو ورونو او مؤمناتو خويندو او ماشومانو جسدونه هېر کړل؟

تاسې د کفارو، مرتدينو، مشرکينو په زندانونو کې هغه اسيران مؤمنان ورونه او اسيراني مؤمناني خويندې چې ستاسې تر ورتګ پورې او د زندان د دروازو د درې ورې کولو په انتظار د اسارت شپې او ورځې سبا کوي د هغوى اميدونه او ارزوګاني مو شا ته وغورځولې؟

که دا کارونه نه وي نو ولې جهاد في سبيل الله تعالیٰ نه کوئ؟

په ياد ولرئ که د الله جل جلاله په لار جهاد في سبيل الله تعالیٰ کې خرچ ونکړئ او د هغه په لاره کې جهاد ونکړئ او د خپل اهل و عيال سره په کور کې د بستر او پالنګ ژوند غوره کړئ، نو خبردار چې ځانونه مو په خپلو لاسونو د هلاکت او بربادۍ کندې ته ګوزار کړل،

الله جل جلاله فرمايي: {وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوَا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}. [سُورَةُ الْبَقَرَة : ١٩٥]

ژباړه: او مال اولګوئ په لاره د الله جل جلاله کې او مه غورځوئ(خپل ځانونه) په خپلو لاسونو هلاکت ته او نيک عملونه کوئ يقيناً الله جل جلاله مينه کوي د نيک عمل کونکو سره.

مفسرينو د هلاکت مطلبونه ډېر ذکر کړي دي چې دوه يې زه دلته ذکر کوم بعون الله تعالیٰ:

۱-: معنیٰ لکه څنګه چې ترمذي کې راغلي ده چې هغه (ترک الجهاد) دى، يعنې چې جهاد پرېږدي نو بس ځان يې هلاک کړو.

۲-: يا (بِجَمْعِ الْمَالِ) د مال په جمع کولو او کورونو کې پاتې کيدل.

لکه په حديث د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه کې راغلي دي چې د هغه په زمانه کې يو سړى د مهاجرينو نه د قسطنطينيه په جنګ کې د کافرانو په صفونو باندې يوازې حمله اوکړه تردې چې هغه يې ځيرى کړل (او بل طرف ته واوريدو) نو خلکو اوويل: ځان يې هلاکت ته ګوزار کړو، نو ابو ايوب انصاري رضي الله عنه اوفرمايل: اى خلکو! مونږ پدې آيت ښه پوهېږو او دا زمونږ په باره کې نازل شويدى، مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ملګري شو او د هغه سره معرکو او جنګونو ته حاضر شو، نو کله چې اسلام خپور شو، مونږ انصار راجمع شو او دا مو اوويل چې الله جل جلاله اسلام غالب کړو او ابتداء کې مونږ د اسلام د غلبې لپاره د خپل اهل او مال نه تير وو، نو اوس به مونږ واپس لاړ شو او د خپل اهل سره به کېنو او د خپلو مالونو حفاظت به کوو، نو الله جل جلاله زمونږ په باره کې دا آيت نازل کړو.

نو د تهلُکه (هلاکت) نه مراد په خپل اهل او مال کې اوسيدل او جهاد في سبيل الله تعالیٰ

پریښودل دي.[ابوداود، الترمذي وابن کثیر]

نو ای جهاد ته شا اړونکو ځوانانو!

مونږ وایو چې صحابه کرامو رضي الله عنهم په وخت کې خو اسلام غالبه و، او انصارو صحابه کرامو رضي الله عنهم دا فیصله کړې وه چې نور به واپس لاړ شو او د خپل اهل سره به کېنو او د خپلو مالونو حفاظت به کوو، چې الله جل جلاله د هغوی په باره کې دا آیت نازل کړو.

چې تاسې ولې او په کوم دلیل د جهاد في سبیل الله تعالیٰ څخه کېناستئ؟

څه وجه ده چې جهاد في سبیل الله تعالیٰ نه کوئ؟

ځکه اسلام خو په ټوله نړۍ نه دی حاکم او په ټوله نړۍ کې د کفارو او د هغوی د غلامانو زور دی!

مسلمانان ورونه او خویندې د کفارو سره په جېلونو کې د اسارت شپې او ورځې سبا کوي! د کفارو ظلمونه او وحشتونه اوس هم هر ځای کې په مسلمانانو باندې روان دي!

چې تاسې ولې د جهاد في سبیل الله تعالیٰ دې سپېڅلې فریضې ته شا کړه...؟

په رب العالمین سوگند! که جهاد في سبیل الله تعالیٰ ونکړئ او جهاد في سبیل الله تعالیٰ ته شا کړئ الله جل جلاله به سخت عذاب درکړي الله جل جلاله فرمایي: {إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} [سُورَةُ التَّوبَة : ۳۹].

ژباړه: که اونه وتلئ تاسو، عذاب به درکړي تاسو ته عذاب دردناک او په بدل کې به راولي بل قوم غیر ستاسو نه، او ضرر نشئ ورکولی تاسو هغه ته هیڅ شی او الله جل جلاله په هر شي قدرت لرونکی دی.

یعنې پدې آیت کریمه کې هغه خلکو ته چې د تبوک د غزا نه پاتې شوي وو په خاص توگه سخت وعید، او په عمومي توگه سره هغه ټولو خلکو ته چې د الله جل جلاله په لاره کې د جهاد في سبیل الله تعالیٰ نه وروسته پاتې کېږي.

یعنې که تاسو نه وځئ نو الله جل جلاله به تاسو په داسې سخت عذاب درد رسونکي سره هلاک کړي، چې بارانونه به درباندې بند کړي، یا په آخرت کې مراد دی. {فتح البیان}

او په احادیثو کې دي چې کوم قوم جهاد پرېږدي الله جل جلاله به یې ذلیله کړي. او د چا چې د جهاد وس کېږي او نه وځي نو الله جل جلاله به عمومي سزاگانې ورکړي.

یعنې که تاسې جهاد نه کوئ، نو ځانونو ته هیڅ مه خوشحال کېږئ، د الله جل جلاله لښکرې دومره ډېرې دي چې ختمېدل یې نشته او ستاسې پر ځای به نور خلک پیدا کړي چې هغوی به د الله جل جلاله په لاره کې جهادونه کوي.

او تاسې الله جل جلاله ته هیڅ ضرر نشئ ورکولی هغه د مخلوقاتو نه غني دی.

لکه الله جل جلاله فرمایي: {فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ} [سُورَةُ المَائِدَة: ۵۴]

ژباړه: زر دی چې رابه ولي الله جل جلاله داسې خلک چې مینه به کوي الله جل جلاله د هغوی سره او هغوی به مینه کوي د الله جل جلاله سره نرمي کونکي به وي د ایمان والو سره سختي کونکي به وي په کافرانو، جهاد به کوي په لاره د الله جل جلاله کې او نه به وېرېږي د ملامتیا د ملامت گر نه دا فضل د الله جل جلاله دی ورکوي دا چاته چې وغواړي او الله جل جلاله پراخه (فضل والا) دی پوهه دی.

او په حدیث کې راځي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: (إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ) [رواه أبو داود/كتاب الإجارة/باب في النهي عن العينة]

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی: چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي دي: کله چې تاسو ناروا (سودي) تجارتونه شروع کړئ، د غواگانو لکۍ مو ونیولې، زمینداري مو غوره کړې او جهاد مو پرېښود نو الله جل جلاله به درباندې ذلت مسلط کړي، دا به درنه نه لرې کوي تر دې چې تاسو خپل دین ته راوگرځئ (جهاد في سبیل الله تعالیٰ ته)

یعنې دا ذلت دی کنه چې دا نن چې یې مونږ او تاسو په خپلو سترگو گورو چې بعض هغه کسان چې د وېرې او د ځان ساتلو لپاره او د خپل ژوند، زندگۍ د ښه کولو لپاره دې کفري او شرکي نظامونو ته تسلیم شول، چې اوس ورباندې د همدغه کفري او شرکي نظامونو ساتونکو مرتدینو شروع کړې چې کله یې یو ځای کې وژني او کله یې بل ځای کې وژني او د ځان پوښتنه هم نه شي کولی.

نو تاسې ته وایم ای د جهاد څخه ناستو ځلمکیو! که کامیابي د دنیا او آخرت غواړئ، نو د الله جل جلاله د رضاء لپاره د جهاد في سبیل الله تعالیٰ سنگرونو ته بیرته راستانه شئ او د دې کفارو، مشرکینو، مرتدینو په خلاف بیا د حی الجهاد ناره پورته کړئ او د خپلو د اسلامي خلافت د مؤمنانو مجاهدینو ورونو سره یو ځای شئ بعون الله تعالیٰ.

#اخوکم_ابومصعب_المهاجر

معاصر کفر

د معاصر کفر د پیژندنې اړتیا:

د حق او د باطل تر منځ روانه تونده معرکه د آدم علیه السلام له پیدایښت او د شیطان علیه اللعنه د سرغړاوي له مهاله را پیل شوې؛ چې د قیامت تر ورځې به جریان مومي.

د یادې جګړې د دواړو لوریو د مقابلې بنسټیز لاملونه د معنویاتو له چینې خروبېږي.

ممکن دا جګړه ځینې وختونه د معنویت د سرچینو ور هاخوا د مادیت د سرچینو څخه هم خروبه شي خو دا ځانګړنه یوازې د شیطان تر لښکرو پورې ځانګړې ده.

په لنډ ډول دومره ویلی شو چې په دې جګړو کې د مادیت پر خلاف د معنویت شتون تلپاتي دی.

لکه څومره چې حق پیژندنه اړینه ده همدومره باطل پیژندنه هم اړینه ده، تر څو له شرارت او فتنې نه یې خوندي پاتې شو او د حق ارزښت او د باطل پرېوتې او مسخه شوې څېره لا نوره هم راته څرګنده شي.

همدا د الهي کتاب منهج او تګلاره ده چې د حق او باطل دواړو لاره یې روښانه کړې؛

یو لور ته یې د رڼاګانو لارویان - انبیاء - یاد کړي او بل لور ته یې د تورتمونو لارویان هم په خپله غېږه کې یاد کړي او د هغوی خباثت یې امت ته بربنډ کړی.

یو طرفته یې موسی، عیسی، ابراهیم، نوح او محمد علیهم السلام یې یاد کړي او بل طرفته یې شیطان، هامان، قارون، فرعون، نمرود او ابولهب یاد کړي.

یو خوا یې د اسلام او د هغه ښکلاګاني روښانه کړې؛ بلخوا یې د مسخه شوي یهودیت، عیسویت او بت پرستی بد رنګی بربنډې کړي.

همدا مفهوم یو شاعر د شعر په ژبه داسې وړاندې کړی دی:

عرفتُ شرًّ لا لشر لکن لتوقیه
ومن لا یعرف شرًّ یقعُ فیه

ما شر د شرارت لپاره نه بلکې د ځان ساتنې په موخه وپېژند؛ هغوی چې شر نه پیژني په همدې شر کې به را ایسارېږي.

په همدې بنسټ نن سبا د نورو بدلونونو تر څنګ د کفر بڼو هم بدلون او پېچلتیا موندلې.

نن یهودیت په هماغه ساده بڼه نه دی پاتې کوم چې د مدینې په اطرافو کې مېشت و.

نن یهودیت په ډول ډول فریبونو او نومونه د ګردې نړۍ پر مادي او معنوي شتمنیو خپلې اغزنې پنجې ښخې کړې.

نن عیسویت په درست جهان کې خپل مبلغین د رنګارنګ مؤسسو او نورو تشکیلاتو په بڼه خواره کړي.

نن د سیکولریزم فتنه کابو د هر کور تر انګړه غزېدلې او ټول حاکم نظامونه یې اغیزمن کړي.

نن ګرد نړیوال تجارت د کپیټلیزم له بې انډوله او سودي تګلارې څخه اغیزمن دی.

نن ګرده نړۍ د لیبرالیزم په اخلاقي بې لارۍ بې لارې شوې ده او نن...

دریغه! نن د سیکولریزم او ډیموکراسۍ فتنه د اور د لمبو په څېر خورېږي خو د مؤمن امت څه باندې یونیم میلیارد وګړو کې یې یو میلیون وګړي هم د کفر او ارتداد په نوم نه پیژني؛ که یې پیژني هم په اصلي بڼه یې نه پیژني او نه یې د باطلوالي د ثابتوالي وړتیا لري.

نن د امت له نیمایي څخه زیات علماء د سیکولریزم د کفري مذهب په اړه ناخبره دي.

په داسې مهال، چې د سیکولریزم شرارت تر بل هر کفري مذهب اوسمهال خطرناک دی.

راځئ! د معاصر کفر بڼې وپیژنو!

راځئ! سیکولریزم، کمونیزم، نیشنلیزم، ریشنلیزم او کپیټلیزم وپیژنو!

راځئ! په فرقان کتاب پسې اقتداء وکړو؛ لکه څنګه چې فرقان کتاب د خپل نزول هممهاله او وړاندیني کفریات روښانه کړي؛ د هر کفري قوم بطلان یې څرګند کړی؛ راځئ! همداسې موږ هم د خپل وخت کفري ادیان خپل ځان او نورو ته ور وپیژنو.

راځئ! د باطل پیژندنه د حق د لا استحکام او لا رڼاوي په موخه وکړو.

راځئ! لومړی د اسلام ریښتینی فهم او بیا د فساد شریره څېره وپیژنو.

راځئ! ابراهیمي تاریخ بیا را ژوندی کړو؛ د نن مهال فکري بُتان مات او په وړاندې یې د بېزارۍ اعلان وکړو.

راځئ! په خپلو روزنتونونو او مدرسو کې د امت بچیان د ماډرن ارتداد څخه باخبره کړو.

راځئ! دښمن پیژندنې ته وخت ورکړو ترڅو په رڼا کې یې دښمن ته دښمن او دوست ته دوست ووایو.

راځئ! د اسلام او کفر د اختلاط جرړې وکاږو؛ ترڅو د هغو ډلوټپلو په څېر نشو چې کفر او اسلام یې سره ګډ کړی.

راځئ! له کفر سره په شعوري ډول دښمني پیل کړو.

راځئ! د طالبي امارت له برخلیک څخه عبرت واخلو؛ هسې نه چې بیا الله مه کړه د اسلام ساتنې په نوم کفر ساتنې ته په چوپړ ویاړ وکړو.

او راځئ!..

خبره را نه اوږده شوه خو دومره به ووایم چې د معاصر کفر پیژندنه باید د مجاهد، مناصر او بالاخره د هر مؤمن له لومړیتوبونو څخه وي.

هندوان او طالبان مشرکان

د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دفاع طالب مشرکینو له چوکۍ ساتنې او وطني ګټو ځار کړه.

طالب مشرکین به تاسې ته نور د خپل کفار د اثبات لپاره نورې څومره بیلګې وړاندې کړي؟

څه فکر کوئ د غرب له لورې د دوی په واک کې د ورکول شوې میډیا د تبیلغاتو په مټ به دوی په دې وتوانیږي چې دوی خپل هر کفر توجیه کړي او د اسلام جامه ورواغوندي؟

داسې هیڅکله نه ده، اسلام یو روڼ او بشپړ دین دی هر څه په کې د لمر په څیر روښانه دي هغه کړنې چې طالب مشرکین یې نن سبا تر سره کوي بواح کفر دی، دادی طالب مشرکینو د خپلو کفري کړنو په لړ کې د خپل کفر یوه بله بیلګه وړاندې کړه..

دوی به اخر تر کله خپلې هرې کفري کړنې ته د حکمت، مصلحت او د وخت د ضرورت په نومونو دلایل تراشي، دوی هیڅکله ددې توانایي نه لري چې په خپله ګټه او د خپلې ورسپارل شوې چوکۍ د ساتنې په هدف حربي کفارو سره د دوستۍ، مومنانو سره د دښمنۍ په اړه قراني نصوص تحریف او تبدیل کړي.

طالب مشرکینو په نورو خلکو هم د ځان ګمان کړی، دوی فکر کوي چې ګوندې ټول خلک به ورسره ددوی دا خود ساخته په قطر کې د رانډ کارپوریشن له لورې طرحه شوې او ډیزاین شوې دیموکراسي د اسلام په نوم ومني.

ځکه یې نو ورځ تر بلې د کفري کړنو ګراف لوړیږي او دادی تازه یې د مشرکو هندوانو له لورې د رسول الله صل الله علیه وسلم د توهین په بدل کې هندي مشرکانو سره د دوستۍ نوی باب پرانیست.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځمکې په سر تر ټولو افضل انسان، غوره نبي، پوهه روزونکی، ځېرکه رهبر، د اخلاقو غوره نمونه، د امانت، دیانت، صداقت او مېړانې سمبول، خلاصه داسې انسان که یې په ستاینو هر څومره کتابونه ولیکل شي، بیا هم کمه ده، له همدې وجې به حسان ابن ثابت رضي الله عنه د شعر په ژبه ویل:

وأحسن منك لم تر قط عيني
وأجمل منك لم تلد النساء
خلقت مبرءا من كل عيب
كانك قد خلقت كما تشاء

ژباړه: سترګو مې هیڅکله له تا ښکلی انسان نه دی لیدلی
میندو له تا ښایسته ځوی نه دی زیږولی
له هر عیب او نیمګړتیا پاک پیدا شوی یې
ګویا که ته په خپل فرمایش پیدا شوی یې

بیا په مسلمانانو د دغه محبوب نبي تابعداري لازم ده، او د دفاع لپاره به یې له سر او مال څخه مسلمان تېرېږي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت هم د ایمان له واجباتو څخه دی، د انس رضي الله عنه څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (لا يؤمن أحدكم حتى أكون أحب اليه من والده وولده والناس أجمعين) [البخاري].

ژباړه: یو څوک په تاسې کې تر هغې مؤمن کېدای نه شي چې زه ورته د خپل پلار، بچیو او ټولو خلکو څخه محبوب نشم.

په یو بل روایت کې دا ټکی هم راغلی چې له خپل ځان څخه به هم زه ورته ډېر ګران اوسم.

خو افسوس!

نن بیا ډیر عجیب وخت دی، د وخت تش په نوم اسلامي نظام د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عزت د سپکاوي په بدل کې خپلې ملي او وطني شرکې ګټې پالي.

د مشرکو هندوانو له لوري په بار بار د رسول الله صلی الله علیه وسلم توهین وشو، خو طالب مشرکینو یې عجیبه جواب ورکړ!

پر ځای ددې چې هغوی ته یې د دغه ستر ظلم ځواب ورکړی وای!

که جرته په طالب مشرکینو کې اسلام پاتې وي اوس به یې هندي مشرکینو ته د اسلام زور ښودلې وي!

پر ځای د دې چې د نبي صلی الله علیه وسلم د توهین کوونکو په اړه یې نبوي سنت "د هغوی وژل" عملي کړي وای!

دوی خپلو وطني او ملي ګټو ته ترجیح ورکړه.

دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د توهین کوونکو مشرکو هندوانو سره د دوستانه اړیکو په شروع کېدو د خوښۍ مجلسونه وکړل.

دوی د نبي صلی الله علیه وسلم د دوښمنانو سره به دوستۍ یو بل ته زیري ورکړل.

دوی دومره خوشاله ول چې دغو کافرو هندوانو ته یې آن د مؤمنانو د وژلو وعدې هم ورکولې او دا یې د ځان لپاره ویاړ ګاڼه.

له دوی د ایمان سره سره، هغه افغاني غرور هم کډه وکړه کله یې چې دغو مشرکو هندوانو ته د سرتیرو د استولو او د کفارو له لوري د هغوی د روزولو په اړه د بریا چکچکې وهلې.

دوی رسول الله صل الله علیه وسلم ته د تکراري توهین باوجود اوس هم دا د غوا زامن مشرک هندوان خپل ورونه او دوستان ګڼي .

هغه به څنګه ایمان وي چې وطني او ملي ګټې پکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ناموس څخه غوره وي؟

هغه به څنګه ایمان وي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوښمنان پکې هم دوستان شي؟

هغه به څنګه ایمان وي چې له نظام څخه د کفارو په خوشالی دوی خوشالیږي او له نظام څخه د کفارو په خفګان دوی خفه کیږي؟

هغه به څنګه ایمان وي چې د هغه چا سره د دوښمنی قسم وکړي، څوک چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عزت په سر د خپلو سرونو شیندلو ته تیار دي.

خو حیرانېدل نه دي په کار!!!

لوښي هغه څه څڅوي چې د هغې په داخل کې وي، که طالب ملېشي نن د الله عزوجل د رضا پرځای د ملګرو ملتونو رضا غوره بولي، د شریعت پر ځای د مشروعیت پسې منډې وهي، شرعي حدودو د امریکا او نړیوالې ټولې له ویرې نه تطبیقوي، د قرآني قوانینو پرځای د مرتد ظاهر شاه او د تېر جمهوریت د وخت د انسانانو په لاس جوړ شوي وضعي قوانین تطبیقوي او یا د امریکا په تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې د آي ایس آي او سي اي آي په شمول د نړۍ د استخباراتو له لوري ډیزاین شوي پاکستاني اسلام د تطبیق لپاره هڅې کوي .

که د رسول الله صلی الله علیه وسلم له توهین کوونکو د غچ پرځای د هغوی سره دوستي پالي.

که د هندي او ایغوري مسلمانانو د مرستې پرځای نریندرا مودي او شي جینګ پینګ ته ډالۍ لېږي.

که د اسلام پرځای ورته وطن او ملي ګټې مهمې دي، که د الولاء والبراء عقيدې پرځای د قوميت او وطنيت عقيدې ته خلک رابولي او که د ټولې نړۍ د کفارو پرځای يوازې او يوازې د اسلامي دولت له مؤمنو مجاهدينو سره جنګېږي، نو په دې مه حيرانېږئ!

ځکه دا د دوی هغه باطله عقيده، نظريه او خباثت و، چې ډېرى کلونه دوی له مسلمانانو پټ وساته، ډېرى کلونه دوی مسلمانان په لونګۍ او سپينو جامو وغولول؛ اوس يې وخت دی چې الله عزوجل يې اصليت روښانه کړي، خباثت يې ښکاره شي او د دوی په زړونو کې پرتې د کفر، شرک او ارتداد عقيدې په ډاګه شي.

خو دغه مرتد طالبان او د هند په شمول د دوی ټول باداران دې واوري چې د اسلامي دولت اتل سرښندويان د هر ډول کفر، شرک او ارتداد څخه بېزاره دي، هر ډول مشرک، مرتد او کافر چې په هره بڼه وي د اسلامي دولت د مېړنيو مجاهدينو دښمن دی او هر هغه څوک چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په شان کې د سپکاوي په موخه خپلې ژبې اوږدې کړې، ژبې به يې پرې کړو او بدنونه به يې وشيندو، بإذن الله تعالی.

دا د کعب بن اشرف بچي دې په دې نه خوشالېږي چې د دوی ورونو مشرکو طالبانو ورته د امن ډاډينې ورکړي او دوی به ګوندې خوندي شي ، دوی خو خپلو نورو مشرکو ورونو روافضو ته هم دا باټې وهلې چې ددوی د امن ساتنې د کوششونو باوجود يې د کابل ، هرات ، مزار ، کندوز ، کندهار ، تخار او په نورو سيمو کې د وينو ويالې روانې دي .

نو اې د کعب بن اشرف بچو !

د محمد بن مسيلمه بچي لا ژوندي دي .

زمونږ او ستاسې تر منځ جنګ خورا اوږد او خونړۍ دی، داسې جنګ که لمبې يې نن تاسې ونه سوځوي ، هرو مرو مو سبا سوځوي ان شاء الله ، مونږ ستړي نه يو، تر څو چې ژوندي يو له تاسې څخه به د يو ، يو ظلم غچ اخلو ان شاءالله

درانه حساب ورکولو ته په تمه اوسئ...!

د کفري ډرامو ممثلین

(سليلُ البتّار على من تشبّه بالمجوس والكفار)
غوڅونکې توره په هغه چاچې چې هغوی د مجوسو او کفارو سره ځانونه مشابه کوي .

الحمدلله الذي أعلى الإسلام وأعانه ورفع قدر كل من أتبعه ودانه والصلاة والسلام على من بعث بالكتاب فبلّغه وأبانه واشهد علي ذالک خالقه سبحانه أمابعد

په صحیح او کره حدیث کی له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی چی نبی صلی الله علیه وسلم، وفرمایل : لتتبعن سنن من كان قبلكم، شبرا شبرا وذراعا بذراع، حتى لو دخلوا جحر ضب تبعتموهم»، قلنا: يا رسول الله، اليهود والنصارى؟ قال:فمن

ژباړه : خامخا به تاسې تابعداري کوئ د هغه چا د طریقو چې هغه ستاسې څخه مخکې تیر شوي دي ، داسې تابعداري چې لویشت په لویشت او متر په متر به یې کوئ تردې چې هغوی د سمساري غار ته ننوتې وي نو تاسې به په دې کې هم د هغوی تابعداري وکړئ .

ابوسعید رضی الله عنه فرمایی، مونږ ورته وویل : ای دالله رسوله ته یهود او نصارا یادوی نو ، هغه جواب کی وفرمایل: نوبل څوک یادوم؟ صحیح البخاري د حدیث شمیره ۷۳۲۰

د رسول الله صل الله علېه وسلم د همدې وړاندوېنې ریښتنولي ثابته شوه او دادی په دې امت کې د همداسې کړنو او عقایدو مرتکبین پیدا شول چې بعینه د همدې حدیث مصداق وګرځیدل .

سره له دې چې سپین له تور ، خه له بدو او هدایت له ګمراهۍ څخه جدا شوې او خه صفا ښکاره شوې یانې دحجت په اتمام (د دلایلو او نښو په پوره والي او ښکاره والي) کې فکر نه کوم که د چا څه عذر باقي پاتې وي.

الله تبارک وتعالی خپل دغه ذوالعزم نبي اورسول محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ترهغې ژوندې وساته تر دې چې ټول دین یې ورته له اسمانه پوره رانازل کړاو کله یې چې همدا کامل دین دده په واسطه خپلو بنده ګانو ته ورساوه ، په ټولو یې حجت تمام کړ مطلب ددې دین لیلها کنهارها ده شپه یې هم لکه د رڼې ورځ په شان رڼه او روښانه ده ، نو کله چې رسول الله صل الله علیه وسلم دا اهمه وظیفه او وجیبه پای ته ورسوله پوره یې کړه او خپله ذمه یې فارغه کړه نور نو الله عزوجل خپل ځان ته وغوښت انا لله وانا الیه راجعون .

درسول الله صل الله علیه وسلم د بعثت موده درویشت کاله زیات و کم وه ، نو په همدې موده کې یې موږ چې رسول الله صل الله علیه وسلم ته کوم دین د الله له لوري رانازل شوې و نو دا زموږ د عمل لپاره یوه لازمي او واجبي قاعده شوه او هغه دا چې کوم فعل ، قول او عمل چې د محمد صل الله علیه وسلم څخه راپاتې وي نو هغه به دین او پرې عمل به د اجر او ثواب باعث وي او کوم څه چې د رسول الله صل الله علیه وسلم څخه نقل نه وي او صحابه کرامو د هغې اداء او التزام نه وي کړې او اوس همغه اعمال د اعتقاد او ثواب په بناء ترسره کوي نو هغه بدعت دي چې حرام او خرافات یې هم بللې شو .

نو د داسې اعمالو مرتکیبین تاوانیان هسې د خپلو وختونو او ځانونو بربادونکي او ستړې کونکي دي ، الله عزوجل دداسې خلکو په اړه د سورت کهف په ۱۰۳ او ۱۰۴ نمبر ایاتونو کې داسې فرمایي : }قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا * الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا{

ژباړه : ورته ووایه ای نبي! چې ایامونږ تاسوته خبردرکړو دهغو خلقو باره کی چی دټولو نه زیات تاونیان دي ، دعملونو په اعتبار سره هغه خلق دي چی عبس ګرځیدلی کوششونه دهغوی په ژوند ددنیاکی اوسره له دې چې دوی ګمان کوي چې بې شکه دوئ ښه عمل کونکي دي او د داسې عمل متعلق دالله تبارک وتعالی نه بعد درسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان هم وګورئ

صحیح البخاري کي دأم المؤمنين عایشة رضي الله عنها څخه روایت دي هغه فرمایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : من أحدث في أمرنا هذا ما ليس فيه فهو رد

ترجمعه: چا چې ایجاد که زمونږ په دې دین اوشریعت کې هغه څه چې په دې کې نه وي، نودغه عمل یې رد یعنې مردود دی . ۲۵۱۲ شمیره حدیث .

قطعُ الوَريد

لمن قلّدالغربَ وترك شريعةالرب المجيد: د هغه چا رګ پرې کول چې د غرب تقلید کوي او د قوي رب شریعت پریږدي .

پښتانه متل کوي وایي : اوښه ، اوښه غاړه دې کږه ده وایي اوښ ویل کوم ځای مې سم دی .

نو د وطنیت په بدبویه عقیده د روزل شویو او د امریکا په تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې د امریکا په مشرۍ د ټولو کفارو او طواغیتو له لورې د سکولریزم په وندر د تړل شویو طالب ملیشو هم همدا کېسه ده په عقیده ، کارونو او نورو ټولو اړخونو کې یو ځای هم جوړ نه دی ، نه د اسلام په سپیڅلي دین پوهیږي ، نه یې عملي کوي او نه هم ورته کوم ارزښت لري هر څه یې کاږه واږه دي ، موږ به یې د کوم اسلام ماتونکي عمل یادونه وکړو او کوم اړخ څخه به یې تصویر واخلو ، خو څه موده وړاندې مې ددوئ په یوه بله نادوده سترګې ولګیدې ، د آی ایس آی په روزنتون کې تربیه شوي او بیا د قطر په سالونونو کې تجربه شوي مشران یې لګیا دي د خپلو رافضي او غربي بادارانو په نقش قدم د خپل وژل شوي مشر ملا منصور شپږمې کلیزې مراسم یې جوړ کړې د هغه ملا منصور چې ددوئ د ټولو امام او استاد کرنل امام یې په خپل کتاب کې په چرسي او بې بندوباره یادوي ، هغه چې د پاکستان د کراچۍ ، لاهور او کېټې په شمول په نورو ښارونو :ې بې شمیره کورونو مارکیټونو او جایدادونو د لیلام کېسې یې هم علني شوې ، هغه چې مشهور قاچقبر او د افغان مسلمانانو د وینو سوداګر و ، هغه چې ایران سره د اسلامي دولت په خلاف د شویو تړونونو څخه په واپسۍ کې په مرموز ډول ووژل شو او بیا یې جسد ته د بدبوۍ له لاسه څوک ورنیږدې کیداې نه شول .

نو په همدې مراسمو کې د اروپایانو او رافضیانو په پل روان طالب ګوډاګي مشران لګیا دي یو طرف یې په میز د ملا اختر عکس ایښې په میز ګلان غوړیدلي او کتابچه پرته ده هر کس راځي او ددې کاغذي پړانګ خاطرې په کې لیکي .

په ځای ددې چې اسلامي امت سره دده د ظلم او خیانت دده د توري ښېرې څخه توري پردې پورته کړي دا په وینا او لیکنو کې خپل اتل معرفي کوي ، هو به هو څنګه چې غربیان څنګه چې اروپایان ، څنګه چې روافض او څنګه چې د اشرف غربي د تیر حکومت مرتدینو او مشرکینو هر کال د خپلو جواسیسو مشرانو په یاد غونډې جوړولې ، هلته به یې له شریعت خلاف ناروا اعمال ترسره کول دغسې نو طالب ملیشې هم د هغوی په پل روان دي ، مخکې له دې چې د طالب د لسګونو اسلام ماتونکو اعمال په کتار کې ددوی دا له اسلامه خالي عمل د اسلامي شریعت په تله وتلو ، نو تاسې د قاسم سلماني ، احمد شاه مسعود، مزاري ، رباني او همدا راز ددوی د پلویانو او د ملا اختر او د ملا اختر د لارویانو تر منځ کوم فرق محسوسوئ ،دا لاندې انځورونه، دې پاس انځور سره پرتله کړئ .

للـه الحمد خوشاله په دې یو چې پرون که د اسلامي دولت زمرو د مسعود او مزاري او د بل هر ازاري داسې شرکي مراسم او بدعات د خپلو اتلوالو بریدونو هدف ګرځول دوی به یې بې دریغه وژل منډې اوپروتونه به یې ورکول .

نو نن دادی همغسې د اسلامي دولت سرښندونکي غازیان د همغه تېرو مرتدینو په پله روان طالب ګوډاګیان وژني او ویروي یې ، چې

د ملا اختر د کلیزې مراسمو څخه راوتلي ستړي ستومانه طالب مشران او کشران د کورونو او امریکایي دفترونو په ځای د اسلامي دولت یو اتل استشهادي شهرام موحد تقبله الله دجهنم کندو او اورونو ته ولیږل .

په پلازمینه کابل کې د اسلامي دولت د جنګیالیو د استشهادي برید له کبله د طالب ملیشو په لیکو کې مرګ ژوبله واوښته.

مؤسسة العزائم

افغانستان – کابل

22 مئ 2022

أعماق خبري آژانس: د افغانستان په پلازمینه کابل کې د اسلامي دولت د جنګیالیو د استشهادي برید له کبله د طالب ملېشو په لیکو کې د هغوی یو شمیر غړي مړه او ټپيان شول.
امنيتي سرچينو "أعماق" خبري اژانس ته ویلي: چې د اسلامي دولت یو جنګیالی وتوانېد چې د یکشنبې په ورځ په کابل کې د "حامد کرزي" هوايي ډګر ته څېرمه یوه لوی هوټل چې طالب ملېشو د خپل پخواني مشر "اختر منصور" د "یادګاري" مراسم پکې په لاره اچولي وو؛ ته ځان ورسوي.
سرچینې په ډاګه کړه، چې استشهادي بریدګر په سیمه کې د ملېشو له خوا لګول شوي ټول امنیتي کمربندونه له منځه یوړل او د هوټل د دروازې په لور په داسې حال کې ورانديې شو چې یو شمېر ملېشې او د هغوی مشران پکې راټول شوي وو، بیا یې د دوی په منځ کې د خپل بارودي کمربند په واسطه استشهادي برید تر سره کړ، چې په ترڅ کې یې یو شمېر غړو ته مرګ ژوبله واوښته او 5 موټرونه یې ویجاړ او له کاره وغورځېدل.
دا په داسې حال کې ده چې طالب ملېشو د چاودنې پر نوعیت او د هغې پر پایلو یوه لویه پرده واچوله، ځکه چې د "لوړې کچې مراسم" پکې په نښه شوي وو چې د ملیشو خورا لوړ پوړو قمندانانو پکې برخه اخیستې وه.

که څه هم طالب ویاندویان هر یو په درواغو او دجل کې دوکتوراوې لري او تل یې کوشش دا وي چې په دوی ترسره کېدونکي د اسلامي دولت بریدونه بېخي کمرنګه وښایي ، خو اوس ټولو خلکو پېژندلي ، که څه هم نه یې وآیي خو اوس یې څوک په رښتیا هم باور نه کوي ، د ملا اختري له تلین څخه په راوتونکو دغه خونړي او مرګوني برید د هوټل په دروازه کې هغه مهال ترسره شو چې دوی څه زیات مشران او کشران راغونډ شوي لسګونو کسانو ته یې مرګ ژوبله واوښته خو دوی ویل برید په کیلو میترونو لرې په دوه تنه عوامو ترسره شوي حال دا چې په هغه برید کې ژوبل شوي یې هم

دادی تراوسه مري ، چې دا پاس مردار یې ژوندي مثال دي .

نو ماته په همدې مناسبت د یو شاعر دا بیت رایاد شو چې وايي :

وإذا التمست دخول أمر فالتمس ...
من قبل مدخله سبیل

نو طالب مشرکین د ارتداد او شرک په داسې دروازو ننوتي چې راوتل یې ترې اوس محال دي ، طالب مشرکینو له ملا اختري وړاندې د ملا محمد عمر رح کلیزه هم لمانځلې وه .

نو راځئ ! اوس به وګورو چې په شریعت کې داسې کړنې کوم اساس او ثبوت لري او که نه ؟

د احادیثو په استناد په اسلام کې خو د چا په وفات له درې ورځو د زیات غم کولو جواز نه شته مګر ښځه به د خپل خاوند په مرګ څلور میاشتې او لس ورځې غم کوي ، نور که هر انسان خلک هر څومره معزز ګڼي هر څومره مشر او قاید وي ، نو دده په مرګ به نور مسلمانان له درې ورځو زیات غم نه کوي نه به دا غم ورځ په ورځ او یا میاشت په میاشت او یا کال په کال راتازه کوي او دغه ارز د یادولو او تلین نمانځلو مراسم په شریعت کې نه شته او نه هم د یو چا په پیدایش داسې مولودونه او غونډې او د اذادۍ او خوشالی عرسونه شته لکه دا ګمراهان یې چې کوي ، لکه دنړی کفار او مرتدین چې ترینه دسالګرۍ اوجنم دن په نوم تعبیرونه کوي ، همداوجه ده چې اهل علم ددغه بدعتیانو او صوفیانو له لوري دعیدالمیلاد لمانځنه قبیح او ناروا بدعت ګڼي ، ځکه چې ددې په جواز په شریعت کې هیڅ نوعه ثبوت اودلیل نه شته، بلکه ددې اختر اړوند نقل دي چې داپه شپږمه پیړۍ کې یو فضول خرڅ او اسراف کونکي بادشاه مظفرالدین کوکبری المتوفی ۶۳۰ ه) ایجاد کړی دی، ددې وجهې نه شیخ الاسلام رحمه الله فرمایي: فإن هذا لم یفعله السلف مع قیام المقتضي له وعدم المانع منه ولو كان هذا خیرا محضا أو راجحا لكان السلف رضي الله عنهم أحق به منا فإنهم كانوا أشد محبة لرسول الله - صلى الله علیه وسلم - وتعظیما له منا وهم على الخیر أحرص:

ترجمعه : پس بی شکه دغه کار(مولود)سلفو نه دی کړی ، سره له دې چې دې کاربانـدی قادر وو او څه مانع هم ورته نه وو موجود، نو که چرته داکار خیروی او یا محض راجح وی نو خامخا سلف رضی الله عنهم دوی به ډیرلایق و، له مونږ نه ددې په کولو کی ځکه هغوی ډیر زیات سرګرم و، له مونږ نه په محبت کولو کې داالله درسول صلی الله علیه وسلم سره او ډیر عزت کونکي وو دهغه له مونږ څخه اودغه ډول هغوی په خیر ډیر حرص کونکی وو، وګوره د (اقتضاء الصراط المستقیم) ۲۹۵ صفحه .

داکار ولی بدعت اوناروا دی؟

اول دلیل دکایناتو بهترین او عندالله معظم ترین شخصیت جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم الله تبارک وتعالی لکه څنګه چې پیداکړی دغه ډول یې وفات کړی هم دي چې له هغه نه وروسته دهغه په امت کی بهترین خلق هغه دهغه صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین دی اوپه هغوی کی بیا خلفاء راشدین هغه حیثیت اومقام لري چې خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغوی متعلق أمت مسلمه ته امرکړی چې : علیكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین من بعدي تمسكوا بها وعضوا علیها بالنواجذ

نو اوس دي یو کتونکی وګوري چې نه خو خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل ژوند دخپل پیدایښ ورځ ولمانځله او نه یې د خپل کوم ملګري د وفات او یا هم د شهادت کلیزه ولمانځله، ګنی د بدر احد او نورو غزاګانو کې خو بې شماره صحابه کرام د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند شهیدان شوي او ځینې وفات شوي، چې د أمت ټول ربښتوني اوحقیقي مسلمانان د یو ادنی صحابي مقام او مرتبې ته نه شي رسیدلی خو نبی صلی الله علیه وسلم ددوی څخه دیو کس کلیزه هم نه لمانځې.

((الهمُّ والغمُّ بوفاة الرسول المكرَّمْ))

لویه پریشاني او غټ غم هغه د مکرم رسول صل الله علیه وسلم وفات

دویم دلیل: دغه ډول درسول الله صلی الله علیه وسلم دفات ورځ په صحابه کرامو دومره درنده اودغم څخه ډکه ثابته شوه مسنداحمد کې انس بن مالک رضی الله عنه ددې متعلق فرمایي: فما رأیت یوما كان أقبح ولا أظلم من یوم مات فیه صلى الله علیه وسلم:

مایوه داسې ورځ نه ده لیدلې، چې هغه ډیره بدرنګه اوډیره تیاره وي، په هغې کې له هغې ورځې نه چې نبي صلی الله علیه وسلم په هغې کې وفات شو .

د حدیث شمیره ۱۳۰۶۰

په ځینو روایاتو کې الفاظ داسې دي چې:

فلما كان الیوم الذي مات فیه أظلم من المدینة كل شيء.

چې کله په کومه ورځ نبی صلی الله علیه وسلم وفات شو ، نو په مدینه کې په هرشي تیاره راغله او په یوروایت دبیهقي کې دي چې:

أظلمت المدینة حتى لم ینظر بعضنا إلى بعض، وكان أحدنا یبسط یده فلا یبصرها (دلائل النبوة للبیهقي ۲۶۶/۷)

مدینه کې داسې تیاره شوه چې مونږ به خپلوکې چاته نه شکاریدو، تردی چې مونږ کې به یوکس لاس اوږود که نو هغه به یې نه لیده او دترمذي او ابن ماجه په کې دي چې :

فلم أر یوما أقبح منه فما

فرغنا من دفنه حتى أنكرنا قلوبنا.

بس مونږ له دی نه بده ورځ بله نه وه لیدلي، تردی چی مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم ددفن نه لا نه وو فارغ .

وګوره سنن ابن ماجه رقم الحدیث ١٦٢١جامع الترمذی ٣٥٨٠.

دغه ډول دعمربن الخطاب غوندی دباهمته او جرأت مند اوجلالي انسان دبرداشت نه دا ووتله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات ته قایل شي، چی واقعه دصحاحو، سیرت اوتاریخ کتابونوتفصیلا ذکر کړی ، خو سره له دې ددومره عالیقدر اومحترم انسان چی الله تبارک وتعالی ته په ټول مخلوق کې مقرب او محترم دی نه اول خلیفه ابوبکرصدیق اونه دویم خلیفه عمربن الخطاب او نه دریم اوڅلورم خلیفه عثمان اوعلي رضی الله عنهم اجمعین، دده دوفات کلیزه اوماتمیزه ولمانځله، اونه یې ددې دپاره چرته اجتماعي او یاهم انفرادي څه کړني او لیکنې ترسره کړې ، خو نن دشرعي نظام اواسلامي (!) حکومت دعوه کونکي درسول الله صلی الله علیه وسلم او دهغه دزرګونو صحابه کرامو رضوان الله علیهم أجمعین اود کروړونو تابعینو سلفو، فقهاؤ، محدثینو اوامامانو رحمهم الله خلاف ددوی ددشمنانو اومخالفینو دبدترین مخلوق اصلي کفارو اود روافضو مشرکینو دودونه اودستورونه ترسره کوي اوبیا دی هم دوی ددین او اسلام مجاهدین او دهغی نافذونکي وي.

انا لله وانا الیه راجعون

إذا كانت الآباء مثل أب لنا
فلا أبقت الدنيا
على ظهرها أبا
اَلْبَلِيَّةُ وَالْمُصَابَة في وفَيَاتِ الصحابة.

غټ امتحان او لوې مصیبت هغه د صحابه کرامو وفات دی .

دویم دلیل: دغه ډول له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه بعد به امت کی غوره او افضل انسان ابوبکرصدیق رضی الله عنه وفات کیږي، عمر رضی الله عنه خلیفه دی ، خوهغه یي دوفات کلیزه نه لمانځي، بیا ورپسی افضل انسان عمر او بیا علی اوعثمان رضی الله عنهم شهیدان کیږي، خو یو دبل کلیزې نه لمانځي، دغه ډول نور اوچت صحابه بدریان داحد دبیعت الرضوان صحابه رضوان الله علیهم اجمعین شهیدان کیږی ، خو نور ژوندي صحابه کرام رضوان الله علیهم دهغوی کلیزې، غمیزي او ماتمیزې نه لمانځي، ماته دلته دامام مالک بن انس رحمه الله خبره رایاده شوه فرمایي : لن يصلح هذه الأمة إلا ما أصلح أولها" وكلما ضعف تمسك الأمم بعهود أنبيائهم ونقص إيمانهم عوضوا عن ذلك بما أحدثوه من البدع والشرك وجعلوه من الدين.

ترجمعه : هیڅکله به ددی أمت و روستي اصلاح نه شي، مګرپه هغه څه چی ددې امت اوایل)صحابه کرام اودهغوی تابعین(پری اصلاح شوی دي، نو کله هم چې دامتونو تمسک دخپلو انبیاؤ په شریعتونو کمزوری شوی ، نو د هغې په بدل کی هغه څه ورکړل شوي چې دوی له بدعاتو او شرکیاتو څخه ایجاد کړي او هغه یی د اصل دین پرځای ګرځولي دي.

وګوره تأسیس التقدیس ص ١٥٩لأبی بطین ص١٥٩

)التنبیه المعقول لأهل البصرو العقول)

دنظر او عقل والا ته معقول خبر ورکول .

نو په همدې اساس باید لوستونکي فکر وکړي ، او د اکثره خلکو حال احوال وګوري او ولولي نو دا به ورته د رڼا ورځې په څېر ښکاره شي چې دوی د الله عزوجل د شریعت او اتباع او اطاعت په ځآی د خپلو خواهشاتو او د ابلیسي وسوسو څخه د جوړو افکارو هغه مذموم (رټل) شوې او ناکاره تقلید شروع کړي چې په اسلام کې هیڅ اساس نه شته خو د حال مطابق او موافق یي د بې علمه او بې شعوره خواهش پیرستو تش په نوم کلیمه ویونکو له لورې ډېر ژور او دروند استقبال ترلاسه کړې چې همدغه استقبال دغه مبتدعینو ته لا جرات ورکړې او ځان ورته په حقه ښکاري ځکه چې ډېر ګمراهان یي خوښوي اوددی په جوازکی دهغه متشابهاتو او مذمومو تأویلونو څخه په خپلو دعوتونو او تقریرونو کی کار اخلي، چې دامام مالک رحمه الله دپورته ذکر شوې خبرې بعینه مصداق ګرځیدلي، چې د وطنپاله طالبانو دغه راز غربي او شرکي مراسم عملي کول یي یو مثال دی .

مونږ مخکې هم ذکر کړه چې د رسول صل الله علیه وسلم او صحابه و څخه خو دغه لمانځنې او دغسې کلیزې نقل نه دي او نه هم له صحابه و پس د تابعینو اتباعو هم دا کار نه دې کړې ، نو چې یو عمل د قول ، فعل او تقریر په بڼه د اسلامي امت د مقتدا او رهبر څخه ثابت نه وي نه د هغه له صحابه و ثابت وي نه په تابعینو کې داسې کړنې چا کړې وي، نه ورته په آئمه و ، محدیثینو او فقهاو کې چا ورته په خه نظر کتلې وي، نو بدعت او خرافات به نور څه ته وایي ، خو هسې سړی حیران شي او تعجب وکړي ، چې دا د کرنل امام شاګرد د حمید ګل او بجوه عسکر اوس نو دومره معتبر شو چې هم قهرمان شو ، هم شهید شو او دادې داسې کلیزې یي لمانځل کیږي ته به وایي دا نو یو ثابت شرعي اصل دي ځکه چې دا د دین پتنګان (!) یي په داسې شوق ترسره کوي.

درنو لوستونکو ! د وطنپرستو مشرکو طالبانو ټولې کړنې په همدې درقیاس کړئ ، ددوی هر عمل له همداسې چټیاتو او خرافاتو ډک دې مونږ به ددوی کوم عمل د شریعت په تله درتلو ، ددوی ټوله عقیده او تګلاره له همداسې ګمراهیو څخه سرچینه اخلي .

وقد أعددت للحدثان حصنا
الحُجَجُ والأَدِلَّة على بطلان
قومٍ تشبَّهوا مع الكفرة الأَذِلّة

د هغٍه چاپه بطلان حجتونه او دلایل چې د ذلیله کفارو سره ځانونه مشابه کوي .

مخکې مو په دې خبره وکړه چې دا د اروپایانو ، غربیانو روافضو او نورو کفارو ، مرتدینو او مشرکینو مشابهت او تقلید دې او اوس خو طالب مشرکین کوشش کوي په داسې شرکیاتو او خرافاتو ځانونه خپلو بادارانو ته مخلص وښایي او ځانونه داسې ببر ، ببر کړي چې دادی دوی نو هم هغه د کندارو خبره په داسې چمونو باره پوهیږي ، نور یي نو ثواب او وبال په کېسه کې نه دي

راځئ ! دلته لنډ ولولئ چې د کفارو ، مرتدینو او نورو مشرکینو سره د داسې مشابهت او د هغوی د کړنو او فهنګ د تقلید حکم څه دی ؟

امام بخاري رحمه الله صحیح البخاري کي په کتاب الجهاد کې تعلیقاً او امام ابوداود رحمه الله په خپل سنن کي مرفوعاً په ٤٠٣١ نمبر حدیث کی دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت نقل کړی، چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

من تشبه بقوم فهو منهم .

ترجمعه : څوک چې د کوم قوم سره ځان مشابه کړي نو دا د همغوی څخه دي .

د ذکر شوي حدیث په شرحه کې علماء لیکي چې څوک د کفارو او نورو مشرکینو سره په لباس ، ناسته ولاړه ، عدتونو ، دود دستور .. کې ځان مشابه کړي نو دا کس د همغوی حکم اخلي .

سبل السلام لعلامة الصنعانی رحمه الله (المتوفی ١١٨٢ه) ٢/٦٤٧

مرقاة المفاتیح ٧/٢٧٨٢ للاعلی القاری الحنفی رحمه الله

(المتوفى ١٠١٤ ه)
التيسيربشرح جامع الصغير ٢/٤١٠و ١/٤٣٤ العلى بن زين العابدين المناوى القاهرى رحمه الله (المتوفى ١٠٣١ه)
انجاح الحاجة ١/١٨٢ لعبدالغنى الحنفى رحمه الله (المتوفى ١٢٩٦ ه)

نو اوس دې لوستونكې خپله فيصله وكړي چې د مشركو طالب مليشو داسې كړنې او دا رافضي او غربي لمانځنې ددوئ د غربي او رافضي بادارانو سره مشابهت دى او كه نه ، تاسې مخكې ولوستل چې په اسلامي شريعت كې خو ددې هيڅ اصل او ثبوت نه شته بلكې رسول الله صل الله عليه وسلم مسلمانان له داسې كړنو څخه په كلكه منعه كړې دي ، د الله رسول صلى الله عليه وسلم مونږ دډيرو داسې أمورو څخه منعه كړي يو چې هغه داهل كتابو يا نورو مشركانو له عقايدو، عباداتو او ياهم د هغوئ د ځانګړو عادتوڅخه شميرل كيږي او هر څوك چې لكه د وطنيت پرسته طالبانو په څير د رافضي او غربي كفارو او مشركينو پيښې او تقليد كوي نو هغه يې له خپل امت څخه ويستلي دي .

لكه جامع الترمذي كي حديث دي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا ، لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ , وَلَا بِالنَّصَارَى ، فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ ، وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ ..

ترجمعه هغه كس زمونږ څخه نه دې، چې زمونږ نه بغير له نورو سره ځان مشابه كوي، ځانونه مه مشابه كوئ، ديهودو سره اونه له نصاراو سره ، بې شكه سلام د يهودو هغه په كوتو اشاره كول دى اوسلام دنصاراو هغه دلاس په ورغوي وي.

جامع الترمذى دحديث شميره ٢٦٣٨ .

په دې حديث كې صراحتاً ټوله مسله واضح شوه ، يو څوك چې د سلام په مشابه والي له هغوئ څخه ګرځي او د يهودو او نصاراو حكم اخلي نو طالب مشركين به د دومره سترو مراسمو په كشابهت د رافضي او غربي كفارو او شركينو په حكم كې نه راځي ؟

خاماخا دا مشركين هم د خپلو مشركو بادارانو په پل روان دي ، ځكه نو ددوئ او هغوئ حكم يو دې ، يو شاعر وايي :

فلاتسأل عن المرء وسل عن قر ينه
فكل قرين بالمقارن يقتدى

ددې احاديثو له فقه په ښكاره دا مالوميږي چې طالب مشركينو په خپله په ځان همدا حكم ولګاوه ، دا مسله موږ په تفصيل سره په (رساله المنهج المبين) كې ذكر كړې د لا وضاحت په خاطر يادې رسالې ته مراجعه كولاې شئ .

(الخيرُ الظاهِرفي حصُولِ اللَّألئِ والجواهِر)

په ترلاسه شويو لعلونو او ملغلرو كې ښكاره فايده او ګټه .

نو دې نتيجې ته رسيږو چې ولاء اوبراء د ايمان اصل او اساس دې نو د ايمان ساتنه او تحفظ هلته ممكن دي چې شريعت چا سره د دوستۍ امر كړې دوستي به ورسره كوې او چا سره يې چې درته د دښمنۍ امر كړې نو خه سخته دښمني به ورسره كوې هغې سره به په هيڅ عمل او عدت كې هيڅ قسم مشابهت نه كوې .

مثال : رسول الله صل الله عليه وسلم فرمايي چې يهود او نصارا په نكريزو ويښتان نه سره كوي نو تاسې يې مخالفت وكړئ يانې تاسې يې سره كړئ .

سنن ا بن ماجه د حديث شميره ٣٦٢١

: دغه ډول رسول الله صل الله عليه وسلم فرمايي : بريتونه كټ كړئ اوږيرى پريږدئ او په دى كې د مجوسو مخالفت وكړئ.

صحيح مسلم د حديث ٢٦٠

: په يو بل حديث كې راغلي چې فرمايي : خلك به تر هغې په خير وي چې په روژه ماتي كې عجله كوي بيشكه چې يهود په افطار كې وروسته والى كوي .

سنن ابن ماجه د حديث شميره ١٦٩٨

: داهم ثابت دي ، چې يهودو به دحيض په وخت كې دښځې سره نه يو ځاى خوراك كاوه، او نه به ورسره يوه كوټه كې اوسيدل ، نودهغوئ په مخالفت كې ايت نازل شو ، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم امر وكړ چې:

اصنعوا كل شيء، إلا الجماع

ابن ماجه رقم الحديث د حديث شميره ٦٤٤

او دمسلم په روايت كې دجماع په ځاى د الاالنكاح لفظ راغلى، چې مراد ترينه يودى او هغه داچې دحيض په حالت كې دښځې سره هرڅه كولى شې، مګر جماع ورسره نه شې كولى .

صحيح مسلم د حديث شميره ٣٠٢

او داښكاره ديهودو مخالفت دى.

: دغه ډول يهودو به اشتمال كولو يعنى يو جامه به يې له ځانه تاوه كړه او فرج باندې به يې بله جامه نه وه ، نو دناستى په وخت كى به يى عورت ښكاريده نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دهغوئ دمخالفت په بنياد وفرمايل: إذا كان لأحدكم ثوبان فليصل فيهما فإن لم يكن إلا ثوب واحد فليتزر به، ولا يشتمل اشتمال اليهود

سنن ابي داودد حديث شميره ٦٣٥

: ديهودو بل خاصيت دا و، چى هغوئ په پاى پوش يعنې څپلو پڼو او بو ټانو اوموزو وغيره كى لمونځونه نه كول ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

خالفوا اليهود فإنهم لا يصلون في نعالهم، ولا خفافهم

ديهودو مخالفت وكړئ ځكه هغوئ په پڼو او موزو كې لمونځونه نه كوي تاسو يې كوئ سنن ابي داود د حديث شميره ٦٥٢

: بل داهم وګورئ رسول الله صلى الله عليه وسلم به ثوابي دعاشورا لسم دمحرم روژه نيوله او صحابه و، ته به يې هم دهغى امركولو نو صحابه و، ورته وفرمايل چې اى دالله رسوله :

إنه يوم تعظمه اليهود والنصارى.

داخو داسې ورځ ده چې يهود او نصارى يې تعظيم لمانځي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : چې كله راروان كال راشي، نو مونږ به نهمه ورځ ورسره هم روژه نيسو ، خو راروان كال رانغى مګر رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شوى و.

سنن ابي داود د حديث شميره ٢٤٤٥

: بل اجتناب دمشابهت نه هم وګورئ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم په جنازه كې به تر هغى په مقبره كې ودريده، ترڅو به چې مړى لحد كې نه وو ايښودل شوى، چې كله به مړى لحد كې ځاى پر ځاى شو، نو بيابه نبي صلى الله عليه وسلم په ځمكه كيناسته نو يو ځل پرې ديهودو يو عالم تېر شو او ورته يى وويل : هكذا نفعل، موږ هم داسې كوو نو ددى سره بيا راويي فرمايى : نبي صلى الله عليه وسلم، كيناسته او ملګروته يې هم وفرمايل : اجلسوا خالفوهم .

كينئ ددې يهودو مخالفت وكړئ.

سنن ابي داود دحديث شميره ٣١٧٦

: بل روايت هم وګورئ ، جابر رضى الله عنه فرمايى: مونږ دالله رسو ل ته وويل: اى دالله رسوله ! مونږ عزل كو، خو يهود داخبره كوي، چى دا موءودة صغرى (د ژوندى لور خښولو) وړو كى صورت او مثال دى، نو نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل : كذبت اليهود.

يهود دروغ وايي ځكه كه الله وغواړي، چى له دې نطفى نه څه پيدا كړي، نو

عزل به یی منعه نکړي.
جامع الترمذي دحدیث شمیره ١١٣٦

: کله چې صحابه و، داذان باره کې مشوره کوله چې په څه طریقه خلک په خپل وخت د لمانځه لپاره راجمعه کړو ، چا وویل چې د لمانځه پر وخت به اور لګوو ، چا د ناقوس وهلو (لوی شکر کې) د اواز کولو مشوره ورکړه ، خو رسول الله صل الله علیه وسلم په نزد دغه دواړه مشورې په دې رد شوې چې دا د یهودو او نصاراو عمل و ، بیا بلال ته امر وشو چې اذان جفت او اقامت طاق وایه .

صحیح البخاري د حدیث شمیره ٦٠٣

دا او دې ته ورته ډیر احادیث به تاسې د احادیثو په کتابونو کې په تالاش ومومئ چې په هغې کې رسول الله صل الله علیه وسلم خپل امت په کلکه د کفارو ، مشرکانو مجوسو او اهل کتابو سره له مشابهته منعه کړی دی .

الأقوالُ الفاصلَة في الرَّدِّ على الرُّسُومَاتِ الباطلة

د باطلو رسوماتو په رد کې فیصله کونکي اقوال .

په تیر بحث کې موږ او تاسې دې نتیجې ته ورسیدو چې رسول الله صل الله علیه وسلم په ډیره سخته خپل امت د کفارو ، مشرکینو او مجوسو سره له هر ډول مشابهت څخه منعه کړي .

نو راځئ اوس د څو صحابه و اقوال هم د کفارو سره د مشابهت په حرمت ولولئ :

د عبد الله بن عمرو – رضي الله عنه نه امام بیهقي رحمه الله په السنن الکبری کې په صحیح سند سره نقل کړی چې هغه وفرمایل : من بنى ببلاد الأعاجم فصنع نيروزهم ومهرجانهم وتشبه بهم حتى يموت وهو كذلك حشر معهم يوم القيامة) .

څوک چې د عجمو (مجوسو) سره د هغوئ په ښارونو کې اوسیده او د هغوئ سره د هغوئ نوروز او مهرکان ولمانځي او د هغوئ سره مشابهت وکړي او په همدې حال کې ومړ نو د قیامت په ورځ به یې حشر هم همدوئ (مجوسو) سره کیږي . ٩/٢٣٤ .

دغه ډول مصنف عبدالرزاق ١/٤١١ کی دعمر رضی الله عنه نه په صحیح سند سره نقل کړی ، چی هغه وفرمایل: لا تعلموا رطانة الأعاجم ولا تدخلوا على المشركين كنائسهم يوم عيدهم فإن السخطة تنزل عليهم .

تاسو مجوسو دخبرو کولو طریقه مه زده کوئ او مه د مشرکانو په اخترونو کې د هغوئ کلیساو ته ورځئ ، ځکه چې په دې سره به په تاسې د الله غضب نازل شي .

دغه ډول داهم واورئ، چې دغه دکفارو شعایر دستورونه او میلی دا ددوئ دین دی اوپه دې کې شرکت کول یا دې سره مینه او یا په دی رضا لرل اویا دا د ځان لپاره غوره کول دا د هغوئ ددین تابعداري ده .

عمربن الخطاب رضی الله عنه به فرمایل: اجتنبوا أعداء الله في دينهم.

دالله د دشمنانو نه د هغوی د دین په کارونو کې د شرکت او ملګرتیا نه ځانونه وساتئ .

رواه البيهقي ٩/٢٣٤

دغه ډول دالله تبارک وتعالی ددې قول په باره کې چې په سورة الفرقان ٧٢ نمبرایت کې فرمایي : والذين لا يشهدون الزور.

ددې په تفسیر کی د محمد بن سیرین، امام مجاهد، امام ربیع امام ضحاک ابوالعالیة او امام طاووس رحمهم الله ددوئ ټولو څخه نقل دي چې له دې نه مراد – دنصاراو او مشرکانو اخترونه دي وګوره اقتضاء الصراط المستقیم ص ١٨١ .

له دې معلومه شوه چې دکفارو مشرکانو په دودونو (مراسمو)کې شرکت دا د مسلمان کار نه دی بلکه مسلمان له دې نه منعه شوی دی .

علامة أبو القاسم هبت الله بن الحسين الطبري الفقيه الشافعي رحمه الله فرمایي :

ولا يجوز للمسلمين أن يحضروا أعيادهم لأنهم على منكر وزور وإذا خالط أهل المعروف أهل المنكر بغير الإنكار عليهم كانوا كالراضين به المؤثرين له فنخشى من نزول سخط الله على جماعتهم فيعم الجميع نعوذ بالله من سخطه.

او جایز نه دي، مسلمانانو ته ،چې دکفارو او مشرکانو اخترونو ته حاضرشي، ځکه هغوئ په یو منکر او ناحقه کاربانديي دي، نوچې کله ورسره په دې کې دحق والا دباطل والاو سره یو ځای شي، بغیر له دې چې په هغوئ رد وکړي، نوددوئ مثال په هغې بانديي درضا لرونکو او د هغه چا دی چې له هغه نه متأثر شوی وي، نو پس مونږ ویریږو له دې نه چې دالله غضب به په دې ډله راولیږل شي اودغه غضب به ټولو ته عام شي مونږ پنا غواړو په الله بانديي دهغه د غضب څخه

دغه ډول الشيخ إدريس التركمانيرحمه الله دهغه چا باره کې چې هغه دغه دمولود او میلاد النبي په نوم دځان نه ایجادشویو اوجوړو شویو عرسونو او پروګرامونو ته ورځي او یاهم دغه ورځ لمانځي، نو دده دغه عمل دا د کفاروسره تشبیه کوي او د رسول الله صلى الله علیه وسلم د سنت له طریقې یې مخالف ګڼي فرمایي:

ومن قلة التوفيق والسعادة ما يفعله المسلم

الخبيث في يوم يعرف بالميلاد فيشتري لأولاده القصب والشمع والقفص فيقع في البدع ويخرج عن طريق النبي المختار صلوات الله عليه وسلامه آناء الليل وأطراف النهار وفي فعلته هذه قد تشبه بالكفار ترجمه : دتوفیق اونیک بختی دکموالي په وجه هغه څه چې یو خبیث مسلمان یې په هغه ورځ کوي ،چی هغه دمیلاد په نوم مشهوره شوې ده نودې خپل اولاد ته کنګی شمع اوقفص واخلي نوپس واقع شي په بدعاتو کې او درسول الله صلى الله علیه وسلم له طریقې څخه د ورځی په اول او اخر کې ووځي اوپه خپل دې کار کې دا دکفاروسره مشابه شو.

علامه ترکمانی مزید فرمایي:

وقد أجمع الأئمة على ما شرط عمر بن الخطاب – رضي الله عنه – وسائر الصحابة أن أهل الكتاب لا يظهرون أعيادهم وشعائرهم في بلاد المسلمين فإذا منعهم الشرع فمن لم ينكر عليهم في إظهار ذلك وشاركهم في شيء من أفعالهم أو ساعدهم بإعارة شيء أو كثر سوادهم حشر معهم .

یقیني اجماع کړې دعلم خاوندانو دهغه څه په وجه چې عمربن الخطاب رضی الله عنه او دغه ډول نور صحابه و، شرط ګرځولی و، په یهودو او نصاراو باندې چی هغوی به دمسلمانانو په ښارونو کی دخپلو اخترونو او خپلو شعایرو ښکاره والی نه کوي نوچې شریعت یې منعه کوي او څوک ددوئ دغه ښکاره والی بد ونه ګڼي اوشریک شي ورسره په دې کې په څه برخه د هغې کې او یا ورسره کومک اومرسته وکړي په څه امانت ورکولو کې او یا ددوی ډله دغه اجتماع غټه کړي ،نو ددوی سره به حشر کړی شي.

أللمع في الحوادث والبدع ١/٢٩٣ وكذا ٢٩٦/ ٢٩٧

دکفارو اومشرکانو دشعایرو په اداکولو او د هغوی په رسوماتو کې دشرکت متعلق علامه جلال الدين السيوطي رحمه الله فرمایي :

ومما يفعله كثير من الناس في أيام الشتاء ويزعمون أنه ميلاد عيسى عليه السلام فجميع ما يصنع أيضا في هذه الليالي من المنكرات مثل: إيقاد النيران وإحداث طعام وشراء شمع وغير ذلك فإن اتخاذ هذه المواليد موسما هو دين النصارى ليس لذلك أصل في دين الإسلام ولم يكن لهذا الميلاد ذكر في عهد السلف الماضين بل أصله مأخوذ عن النصارى وانضم إليه سبب طبيعي وهو كونه شتاء المناسب لإيقاد النيران .

ترجمه : د بعضې هغه څخه چې ډیرخلک یې دژمې په ورځو کې کوي اودا باور لري چی دا د عیسی علیه السلام

ميلاد دی نو ټول هغه څه چې دوی يې دمنکراتو څخه په دې شپو کې کوي مثلا د اور لګول او طعام تيارول اودشمعو اخستل او غيره نور هرڅه نو دغه ددې ميلاد عرس جوړول دا د نصاراو دين دی، ددې لپاره په اسلام کې هيڅ دليل نه شته اونه ددې ميلاد په جواز دسلفو په اقوالو کې څه ذکرشته بلکه دا د نصاراو څخه اخستل شوی دی ،البته يو طبيعت سره جوړ سبب يې ملګری شوی چې هغه دغه دژمې ورځې دي، چې داورد لګولو سره مناسب دي.
الأمربالاتباع ص ١٤٥.

دغه ډول په صفحه ١٤٦ کې بيا فرمايي:
ومن ذلك أعياد اليهود أو غيرهم من الكافرين أو الأعاجم والأعراب الضالين لا ينبغي للمسلم أن يتشبه بهم في شيء من ذلك ولا يوافقهم عليه.

ترجمه ددی ممنوعه کارونو له قبيلې څخه هغه ديهودو اودغه ډول دنورکفارو اودمجوسو او دګمراه بانده چيانو اخترونه دي، چې مسلمان ته لايق اومناسب نه دي چې ددوی‌سره ځان په دې کې په څه برخه کې مشابه کړي او يا ورسره ددوی په کړنو کې توافق وکړي

توفيق المعبود بذكرالخلاصة والمقصود

ددې بحث په خلاصه ذکر کولو د معبود ذات توفيق.
درنو لوستونکو! د صحابه کرامو او داسلاف صالحينو د پورته ذکرشو يو اقوالو خلاصه ، مقصود او فائده داشوه چې هرهغه کار وينا اوعمل چې هغه دکفارو ددين دُود اوشعايرو او خاصياتونو څخه وي که هغه خوشحالي لمانځل وي او که غميزه او ماتميزه سالګره ميلاد کې هر قسم دستورات ترسره کول وي ، داټول حرام اوداسلام ددين مخالف اعمال دي ، په اجماع د امت سره په داسې مراسمو کې شرکت کول ، يا يې خه ګڼل ، ورسره مرسته کول ، لوښي لرګي چوکۍ او نور لازم وروړل يا ورسره ددغه مراسمو په چمتوالي هر ډول همکاري کول دا ټول حرام او ناروا عمل دي ، دا ټول همدې کفارو سره د مشابهت او بيا دوی سره د حشر سبب دی والعياذبالله تعالی کمامر فی قول الترکمانی او صحيح حديث کې تېرشو چې څوک دکوم قوم سره ځان مشابه کړي دابه له هغه قوم څخه وي، نو اوس تاسې ووايې چې په اسلام کې رسول الله صلی الله عليه وسلم اوياهم چرته کوم صحابي او ياهم چرته کوم تابعي او ياهم چرته کوم تبع تابعي اوياهم وروسته فقهاء او محدثينو کې يو کس هم له دوی‌نه دغه ډول غميزه يا چرته دپيدايش خوشحالي وغيره لمانځلی ده؟!

نو دا خو د لمر په څير روښانه ده چې نه يې ده لمانځلې ، نو بيا دغه د ټول اسلامي امت په سترګو کې د شګو اچونکي ، دغه د بايډن نوي عسکر او د امريکا امن ساتونکي ، دا د جهاد او مجهاد د سپيڅلو ارزښتونو بدنامونکي وطن پرسته طالبان په کوم دليل ددغه رافضي او غربي دودنو او عادتونو لمنځل او ترسره کول ځان ته روا او حلال ګڼي دوی اکثر دامام الهمام فقيه لامثال ابوحنيفه رحمه الله دتقليد بې حده کلکه دعوی هم کوي، نو ايا دهغه داجتهاد نه هم دکفارو اومشرکانو ددی شعيري دلمانځنې په جواز کوم استنباط دحنفي فقهی په کتابونو کی شته؟! اګرکه دابه دليل هم نه وي، خو هسی دارخاء العنان په طرز اوطريق خپلو عوامو مسلمانانو ورونو ته ددې وطني طالبانو ضلالت اوګمراهي اود کفارو سره ددوی سيالي او مشابهت ورپه ګوته کول مو مقصود دی، که نه په دې کې شک نشته چې دکفارو سره مشابهت کول او د دغه ډول دهغوی اخترونو ،عرسونو، ميلو او شعايرو لمانځنه که هغه دخوشحالی وي که دغم .. په هغی کې شرکت کول سيالي کول او د هغې مبارکي ورکول وغيره دټولو مذاهبو په نزد حرام دي، علامه ابن القيم رحمه الله په دې باندې دمذاهبو اتفاق نقل کړی فرمايي:
وكما أنهم لا يجوز لهم إظهاره فلا يجوز للمسلمين مما لاتهم عليه ولا مساعدتهم ولا الحضور معهم باتفاق أهل العلم الذين هم أهله. وقد صرح به الفقهاء من أتباع الأئمة الأربعة احكام أهل الذمة٣/١٢٤٥ دغه ډول ابن قيم رحمه الله کفارو ته دهغوی داخترونو او يادهغوی د روژو په باره کې د مبارکۍ ورکونکو متعلق فرمايي: دا د کفر شعائر دي او په دې کې دوی ته مبارکي ورکول په اتفاق سره حرام دي، که دغه مبارکي ورکونکي په دی کارسره له کفرنه بچ پاتې شي ، نو دحرام مرتکب خوضرور شو او دا داسې ده لکه صليب ته په سجده کولو چې چاته مبارکي ورکړي ، ابن قيم رحمه الله فرمايي : بل ذلك أعظم إثما عند الله وأشد مقتا من التهنئة بشرب الخمر وقتل النفس وارتكاب الفرج الحرام ونحوه.

بلکه دا مبارکي ورکول دوی ته داخترونو، دا له دې څخه هم لويه ګناه او دالله په نزدډيرغوصه کيدو سبب دی چې يوکس ته دی دشرابو په څښلو ،دبې ګناه نفس په قتلولو اودحرام فرج په استعمال اوددی په شان په نورو ناوره ا عمالو مبارکي ورکړای شي.
أحكام اهل الذمة ١/٤٤١

اواخرکي خاتمه ددې ليکنې دجلال الدين سيوطي رحمه الله په دې وينا سره کوم چې هغه فرمايي
[واعلم أنه لم يكن على عهد السلف السابقين من المسلمين من يشاركهم في شيء من ذلك فالمؤمن حقا هو السالك طريق السلف الصالحين المقتفي لآثار نبيه سيد المرسلين المقتدي بمن أنعم الله عليهم من النبيين والصديقين والشهداء والصالحين جعلنا الله منهم بمنه وكرمه إنه جواد كريم ولا يذظر الرجل إلى كثرة الجاهلين الواقعين في مشابهة الكافرين والعلماء الغافلين وموافقتهم فقد قال السيد الجليل الفضيل بن عياض - رضي الله عنه -: عليك بطريق الهدى وإن قل السالكون واجتنب طريق الردى وإن كثر الهالكون. اللهم اجعلنا من المهتدين المتبعين لآثار سبيل الصالحين ولا تجعلنا من الهالكين المتبعين لآثار سبيل الكافرين الضالين بمنك وكرمك إنك جواد كريم

اوپه دې پوه شه چې دمخکنيو سلفو څخه په مسلمانانو کې هيڅ څوک هم داسې نه وو چې هغوی څخه چا ددې کفارو په مراسمو کې شرکت کړی وي، نو حقيقي اوريښتونی مؤمن هغه د سلفو صالحينو په طرز اوطريقه دسيدالمرسلين صلی الله عليه وسلم دفرموداتو تابعداري کوي، نو په دې کار کې دا مؤمن اقتداء کونکی دهغه چا وي، چې الله پرې انعام کړی چې هغه له انبياو، صديقينو، شهداءو او صالحينو څخه دی ، الله دی مونږ په خپل احسان او کرم ددوی له جملې څخه وګرځوي ، د عزت او ذلت ورکونکی الله عزوجل دی يو کس دې د هغه چا ډيروالي او ځواک ته نه ګوري چې هغه د کفارو سره مشابهت کې واقع وي ، دا ټول هسې خس او خاشاک دي دوی به د حق په وړاندې هيڅکله هم استقامت او مقاومت ونه شي کړاې باذن الله ، او دې ته دې هم يو کس نه ګوري چې ددوی په صف کې خو علماء دي او يا پرې ولې علماء د رد کولو څخه غافله دي په دې اره به د جليل القدر شخصيت فضيل بن عياض رحمه الله دا قول راواخلو چې فرمايي : په تا لازم دي چې د هدايت په لاره روان واوسې ، اګر که دغې لارې رلاويان کم وي او د باطلې لارې له تللو څخه ځان وساته اګر که په دې لاره تلونکي هلاکيدونکې ډير وي.

نظم

د تمکین یادونه !

تمکین و، شریعت و، څه له خونده ډکې شپې وې .
څه مینه، محبت و، څه د ژوند خوږې کیسې وې .

د هر قوم، نژاد، ژبې او رنګ خلک راټول و.
په پاکه عقیده سنبال، ګلرنګ خلک راټول و.
له عزم، غیرتونو ډک له ننګ خلک راټول و .
د یو شرعي نظام په سر په جنګ خلک راټول و.

ترمنځ یې اخوت و ، مهاجرې پرګنې وې
څه مینه محبت و، څه د ژوند خوږې کیسې وې

اذکار، تلاوتونه و، اباد مو جماتونه و
ښادۍ وې ، که غمونه و، که نور مو عملونه و
په سنتو برابر و هغه څه خواړه وختونه و
زموږه تازه شپې وې او نه دومره بمبارونه و

تدریس و ، علمیت و او ابادې مدرسې وې
څه مینه محبت و ، څه د ژوند خوږې کیسې وې

خوراک به مو جوار و، یا به اوړې کې توتان و.
هغه کور به شتمن و ، چې پخ کړې الوګان و
یخنۍ کې څادرونه و ، نه موږ سره پټوان و
جامې به مو زړې وې او شلیدلې به بوټان و.

منمه چې غربت و خو بس سمې شنې مزې وې
څه مینه محبت و څه د ژوند خوږې کیسې وې

بیا لارې په موږ بندې شوې او عام شولو بمبار .
په هر یو زنده سر به کیده هرچرته ګذار .
پراته و شهیدان په هر یو خوږ او هره لار
کورونه ، جماتونه یې کړل له یو مخه هوار .

ظلمونه و ، وحشت و او بیا هره شپه چاپې وې
څه مینه محبت و، څه د ژوند خوږې کیسې وې .

بیا هم مونږه ساته دارالاسلام او سنګرونه .
کول به مو په شپو ورځو په غرونو کې مزلونه .
له لوږې او سترﻳا نه به مو اخستل خوندونه .
په سر به ګرځیدل که زموږ شل قسمه جازونه .

راکړې رب همت و ، زموږ لوږې ارادې وې
څه مینه محبت و ، څه د ژوند خوږې کیسې وې.

څو اوښکې څڅوو به ، د تمکین په ښکلي یاد کې
تنګ شوې مونږه ټول یو، د طاغوت په دې فساد کې
راځئ ! سره یو ځای شو په ټولي د استشهاد کې
راځئ! سرونه کیږدو د تمکین په پوخ بنیاد کې

تمکین زموږ عزت و، او پرې هسکې مو شملې وې
څه مینه محبت و ، څه د ژوند خوږې کیسې وې .

د عرفان مور

لنډه کیسه

دا د خنساء رض الله عنها په پل روانه مجاهده مور د اورکزیو له قبایلي سیمې رامهاجره شوې وه ، د اسلامي خلافت تمکین ته زموږ هجرت هم تازه و، زیات وخت مو نه کیده ، د مامند سور کمر د وړوکي ښار بازار په سر، په غونډیو د څو پرتو مهاجرو له کورنیو یوه هم ددې مومنې مور کورنۍ وه ، د پاکستان کفري نظام د سپورې لاندې د خپل ښیرازه کلي د سهولتونو ډک ژوند خپل خپلوان او کورنۍ یې له ډیر پخوا پریښې وه او د جهاد د اغزنو لارو د غورځو ، پرځو او کړاونو ډک د هجرت ژوند یې غوره کړی و ، اسلامي خلافت سره له یو ځای کیدو وړاندې یې د پاکستان مرتد نظام ظلمونو ، وحشتونو او دوی سره د اورکزیو قبایلي زمرو د سختو جنگونو شاهده پاتې شوې دا مور دې ټولو سرو تودو په زړه ، په خپل فکر او عقیده ډیره سخته روزلې وه ، مشر زوی یې لا تر اوسه ورک دی او دا یې د راتلو لارې څاري او داسې فکر کوي چې تر اوسه به د پاکستاني مرتدینو د زندان په نامه د ظلم په کومه ژرنده دل کیږي .

دې مومنې مور خپل مجاهد خاوند وحیدالله ته هیڅکله هم دا احساس ورنه کړ چې دا د هجرت او جهاد په دې سخته لار له تللو پښیمانه ده ، بلکې تل به لکه د یوې مظبوطې تکیه په څیر د خپل مجاهد خاوند شاته ولاړه وه ، له زنداني او ورک زوی راوروسته یې نور درې زامن سعد ، محب او عرفان هم د جهاد په گرمو لمبو کې د لوبیدو او په دې لاره کې د سختو طوفانونو سره د مقابلې لپاره د خپلې روزنې لاندې نیولې و او تل به یې دا ویل چې زه به د خنساء رض الله عنها تاریخ راژوندی کوم ، هغې خپل څلور زامن د الله له دینه ځار کړل او زه به هم دا خپل گلالي بچي د کلمې د لوړاوي په هدف د لمبو هرې لمن ته غورځوم .

د اچین ولسوالۍ اړوند مامند درې په لر ، بر کې پراته د مهاجرینو کلي اوس د نړۍ له لر، بره د راغلیو مهاجرو کورنیو څخه ډک و ، هغه وخت دومره عام بمبار نه و، په لومړیو خطونو به بمبارونه کیدل او په کلیو کې به هم وخت ناوخت په مهمو اشخاصو او اهدافو کفارو خپل بې رحمه گذارونه جاري ساتل ، خو ددې هر څه سره ، سره د مهاجرینو ژوند له ډیر خوند او معنویته ډک و ، غریبې وه خو د هر مهاجر او مهاجرې په زړونو کې خاني وه ، ددوی تر منځ د الله لپاره محبتونه ، یو بل کره راشه ، درشه ، د جهاد او قتال په کیسو او خاطرو ډک مجلسونه ، له لمونځ کونکو ډک جماتونه ، د مومنو تور سرو لپاره په خپلو کورونو کې شرعي دورې او درسونه ، له ماشومانو ډکې مدرسې او مکتبونه ، وخت په وخت د جنگ لومړیو لیکو ته د زمرو زلمو تشکیلونه ، په سنگرونو کې تاوده جنگونه او تر شا یې د مومنو میندو د دعا ډکې لپې ، شپه او ورځ د لوی رب طاعت او عبادتونه... هغه څه و چې د ټولو مجاهدینو ، مهاجرینو لوېو او وړو ژوند ته یې یوه نا اشنا خوښي ، سکون او زړه راښکون ورکړی و .

ددې مجاهدې میرمن خاوند وحید الله هم د سور کمر په بازار کې د خیاطي دوکان درلود ،دا بازار د اسلامي خلافت تمکین څخه د وړاندې وختونو په څیر

ابـاد نـه و، خـو دغـه وخـت هـم نسـبتا خـه و ، یـو څـو دوکانونـه پـه کـې خـلاص و ، وحیـد اللـه بـه پـه ډیـره مینـه د خپلـو مهاجرینـو ورونـو جامـې ګنډلـې ، چـې د هـر لمانځـه لپـاره بـه اذان وشـو ، نـو د بـازار کـوز سر تـه د خـوړ پـه غـاړه جـوړ ژیـړ رنګـه پاخـه جـمات تـه بـه د نـورو مهاجـرو سره یـو ځـآی ور روان شـو ، د زندانـي او ورک زوئ پسـې بـل زوئ یـې سـعد پـه کتیبـه کـې و ، محـب د روژنـې او تربیـت لانـدې و او د عرفـان د ماشـومتوب د شـوخۍ پـه اوج کـې د ادب لمـن نـه پریښـوده هـم یـې د موحـدې او مجاهـدې مـور څخـه روزنـه ترلاسـه کولـه ، هـم بـه مکتـب او مدرسـې ته تللـو او هـم بـه یـې چـې کله پـلار د ورځـې لـه کاره ماښـام سـتړی خپلې لـه مینـې او عاطفـې ډکـې جونګـړې تـه سـتون شـو نـو بیـا بـه یـې عرفـان تـه د اسلام د تـیرو فاتحانـو او د جهـاد د ډګـر د اتلانـو کیسـې کولـې ، وحیـد اللـه بـه هـم خپـل د تشـکیل نوبـت تـه پـه ډیـره لیوالتیـا شـیبې شـمیرلې .

روژې تـه لا ورځـې وې ، د وحیـد اللـه څنـګ تـه ورغلـم ، پـه خپـل دوکان کـې پـه خپـل کار بوخـت و، زمـا پـه ورتللـو زیـات خوشـاله شـو پراخـه تنـدې یـې سـپین پرقیـده ، پـه روغبـړ کـې یـې د خپلـې مینـې او اخلاصـه د ډکـې خنـدا ګلونـه رابانـدې وشـیندل .

ورتـه مـې کـړه : وروره ژونـد دې څنګـه روان دی؟

پـه خـوږه خنـدا یـې راغبرګـه کـړه : وروره تـه بـاور وکـړه داسـې خـوږ او لـه سـکونه ډک ژونـد چـې اوس یـې لـرم مـا یـې هیـڅ تصـور هـم نـه و کـړې ، مـوږ خـو تاتـه پتـه ده چـې لـه ډیـره وختـه لـه خپـل کـور کلي څخـه مهاجـر شـوي یـو ، مخکـې تنظیمونـو کـې مـو هـم د هجـرت شـپې تـیرې کـړې ، خـو د اسـلامي خلافـت تمکـین کـې د ژونـد بیـا نـو بیـل خونـد دی ، لـه هـر حالتـه خونـد اخلـم ، هغـه کـه پـه جماعـت لـه نـورو مهاجرینـو سره لمونـځ دی ، هغـه کـه د تشـکیل پـه ورځـو شـپو کـې د سـنګر خـوړې ترخـې دي ، هغـه کـه خپلـو بچـو تـه د نفقـې ګټـل دي او هغـه کـه بـل هـر حالـت دی ، لـه یـوه حالتـه چـې بـل تـه منتقـل کیـږم نـو خونـد تـرې اخلـم .

الحمـد للـه مـې وویلـه، ورزیاتـه مـې کـړه : هـو حقیقـت ده ، دلتـه د ژونـد هـر اړخ کـې ځانتـه بیـل خونـد او خـواږه دي ، څنګـه تشـکیل وخـت خـو دې هـم نـور پـوره دې او دادې روژه کـې نـو د وړوکـې اخـتر نـه مخکـې خـو سـتاسـې کاروانـه هـم ډیـر زیـات وې څنګـه بـه کـوې ؟

پـه مینـه یـې ځـواب راکـړ : تشـکیل تـه مـې سـخت پـه لیوالتیـا انتظـار کـوم ، زمـوږ خـو اصـل کار همـدا تشـکیلونه او جنګونـه دي .

څـه بـه مـو سر خـوږوم ، روژه راغلـه او پـه لمـړی لسـیزه کـې زمـا او د وحیـد اللـه د تشـکیل نوبـت شـو ، دواړه غـوړې څنـې او تـورې سـترګې د لومـړې خـط پـه طـرف روان شـو ، هغـه وخـت د مامنـد اړونـد مجاهدینـو د شـډل څخـه لانـدې د ګـردي او کرکنـۍ پـه سـاحو کـې د اشرف غـربي د ملیشـو او د طالـب ملیشـو پـه وړانـدې شریـک سـنګرونه سـاتل ، ددې حالاتـو د سـپمې ټـول اوسـیدونکې شـاهدان دي چـې د جمهوریـت او امـارت عسـکرو د خپلـې شریکـې بـاداري امریـکا د طیـارو پـه سـیورې کـې پـه لـوړو غونډیـو او خـوا شـا سـیمو کـې ښـې لـور تـه د افغـان مرتـد حکومـت او چـپ لـور تـه د امـارت مرتـد تنظیـم عسـکر پـه زنځـیري شـکل پراتـه و، یـو بـل سره یـې خـه راشـه ، درشـه درلـوده پـه مخابـرو کـې بـه یـې یـو بـل تـه د اسـلامي خلافـت د مجاهدینـو ترصـد ورکاوه ، یـو بـل سر بیخـي نیـږدې او څنـګ پـه څنـګ و ، یـو طـرف درې رنګـه بـیرغ ریپـده او تـر څنـګ یـې سـپین کفـن هـم د امریکایـې طیـارو د سـورې لانـدې د غلامـې مانورونـه کـول، پـه خـړو غونډیـو او پراخـه ډاګونـو کـې پـه سـپینو میدانونـو د امـارتي مشرکینـو خیمـې او سـنګرونه او پـرې ریپیدونکې بیرغونـه د سـیمې ټولـو خلکـو لیـدل خـو یـوازې د امریکایـې ډرونونـو پرمختللـو کیمـرو او ددوئ دوربینونـو تـه نـه ښـکاریدل ،خـو پـه مقابـل کـې پـه ګڼـو ونـو او پراخـه کلاګانـو کـې پـه ډیـر احتیـاط او پـټ حرکـت کونکـې مجاهدینـو بـه لـه ډرنونـو سر نـه شـو پورتـه کـولای .

زمـوږ د خـط امـر هـم وحیـد اللـه و ، د تشـکیل لـړې ورځـې مـو وتلـې وې او زیاتـې یـې پاتـې وې ، دا ځـل راسره اسـتا د فـردوس بهـار، مولـوي مدثـر دیـروي، نجیـب اللـه اورکـزی، عبیـد اللـه اورکـزی، عبـد اللـه آفریـدی، حذیفـه کنـدوزي، یوسـف کنـدوزی، قـاري سـیف اللـه کنـړی، ابـو بکـر کنـړی تقبلهـم اللـه أجمعیـن او د مهمنـد ایجنسـۍ یـو څـو مجاهدیـن ملګـري و.

د کفـري ملـت پـه خـلاف مـو مورچـې خـوري ،ورې پرتـې وې ، د اورې ورځـې شـپې وې ، پراخـه اونـو ګـڼ سـوري کـړې و ، ماذیګـر و ،مـوږ د مندتـو (خوبانیـو) پـه باغونـو کـې پـه خندقونـو کـې لـه ملګـرو سره خـوږ مجلـس وکـړ، مولـوي مدثـر چـې د مسـاجدو د ترمیـم ، شرعـي دورو ، د لمونځـو د اهتـمام او همـدا راز د تربیتـي درسـونو د انتظـام چـارې هـم ورترغـاړې وې ، زمـوږ څخـه لـږ وړانـدې پـه یـوه مورچـه کـې ګوتـه پـه ماشـه ناسـت و ، دغـه وخـت یې پـه یـو ملګـري غـږ کـړ : وروره بیګا مـې شـیخ منصـور تقبلـه اللـه پـه خـوب کـې ولیـد (شـیخ منصـور هـم اورکـزی مهاجـر و چـې پـه عربـو کـې خپـل غـټ کاروبـار پریښـود او د اسـلامي دولـت تمکین تـه یـې هجـرت وکـړ ، شـیخ د حافظ صیـب نیـږدې ملګـری و ،اللـه عزوجـل ورتـه زیـات علـم ورکـړې و چـې پـه تمکـین کـې یـې د نـورو سـترو کارونـو ترڅنـګ د مجاهدینـو پـه تربیـت او روزنـه کـې لـوی لاس درلـود چـې د امریکایـې ډرون پـه بریـد کـې پـه شـهادت رسـیدلی و) مولـوي صیـب مدثـر خپـل ملګـري تـه زیاتـه کـړه : خـوب کـې شـیخ صیـب منصـور پـه یـوه کوټـه کـې ناسـت وې پکـول یـې پـه سر وې او پـه خنـدا راتـه ووایـې چـې نـور راځـه پـه خـیر .

چـې ددې خـوب بـه څـه تعبـیر وي ؟

ملګـري یـې د مولـوي صیـب د داړ لپـاره ورتـه کـړه : تـه د شـیخ صیـب پسـې پـه مسـتقیم مسـیر روان یـې او هغـه پـه همـدې لار د تللـو او اسـتقامت غوښـتنه درڅخـه کـړې ، خـو مولـوي صیـب مدثـر لکـه پـه زړه کـې چـې ددغـه خـوب پـه تعبـیر مکمـل مطمـین وي چـې نـور یـې نـو دومـره وخـت پـه دنیـا کـې نشـته او شـیخ منصـور ورتـه د ورتللـو بلنـه ورکـړې ، ځکـه نـو چـوپ شـو او نـور څـه یـې ونـه ویـل .

نـور نـو ماښـام خپـل تـور څـادر زمـوږ پـه سرونـو د ډول ، ډول مرغیـو پـه ډکـو شنو اونو راخـور کـړ ، د مرغیـو شـور او بـره د امریکایـي ډرنونـو غنـګار یـو بـل کـې ورکیـدل ، وحیـد اللـه امـر صیـب د مورچـو د ملګـرو څخـه غیـر د سـنګر نـور ملګـري پـه دوه ګروپونـو وویشـل ،ټولـو تـه یـې یـو طـرف وروښـود چـې فـلاني ځـاې تـه بـه ځـان ورسـوئ، هملتـه بـه روژه هـم ماتـه کـړئ ، څـو چـې لمونځونـه او اذکار کـوئ زه درځـم ان شـاء اللـه بیـا بـه د پیـرې ترتیـب رابرابـر کـړو.

خپـل راښـودل شـوي ځـای تـه ورسـیدو ، روژه مـو ماتـه کـړه د ماښـام او ماسـخوتن لمونځونـه مـو هـم وکـړل ، نـور مـو نـو ټاپونـه پـه سـینو پـورې کلـک کـړل ، د بوټانـو مـزې مـو راکـش کـړل ، اسـلحې مـو څنګونـو تـه کـړې او پـه همـدې انتظـار و چـې اوس بـه وحیـد اللـه امـر صیـب راځـي او مـوږ بـه پـه خپلـو مورچـو او پهـرو ویـشي ، همدغـه وخـت د نیمـه نږیدلـې کوټې پـه دروازه د دنګـې ځوانـي او ګـورو څڼـو پـوخ عمـری وحیـد راننـوت ، لـه مخـې سره یـې د پیـرې تقسـیم اوقـات ، ټـاکلي ځایونـه، د شـپې نوم او نـور اړونـد اصـول یـې راوښـودل نـورې اړونـد سپارښـتنې یـې هـم وکـړې ، نـور نـو د خوریـدو وخـت و او بایـد مجاهدیـن خپلـو ټاکلـو سـاحو تـه ولاړ شي ، خـو بـره نـو امریکایـي ډرونونـو داسـې بـد حـالات جـوړ کـړې و ، چـې بیخـي د ددغـه نیمـې ړنګـې کوټـې څخـه هم د وتلـو شـان نـه و ، وحیـد اللـه امـر صیـب مخکـې شـو لـه کوټـې ووت ، لا بـه یـې څـو قدمـه نـه و اخسـتي ، چـې امریکـآیي ډرون طیـارو لـږ ورځېرمـه پـه مورچـه کـې ناسـت دوه د قـران حافظـان مجاهدیـن پـه خپلـو غبرګـو توغندیـو وویشـتل ، وحیداللـه پـه ځـای ددې چـې بیرتـه کوټـې تـه راسـتون شي پـه دې خاطـر چـې دده پـه راتللـو پـه کوټـه کـې نـور شـته ګـڼ ملګـري ټارګیـټ نـه شي نـو همداسـې یـې د ړنګـې کلا دیـوال تـه منـده کـړه ، شـېبه وروسـته مـو بیـآ د دوه غبرګـو چاودنـو غږونـه واوریـدل

پوهه شو چې وحید الله هم د روژې په دې مبارکه میاشت کې خپل رب سره کړې وعده پوره کړه ، وحید هم شهید شو .



بهر د ډرونونو ګذارونه روان و، په کوټه کې شته ګڼ ملګري په دوه نظرونو وویشل شول ، یوې ډلې ویل چې دا کوټه ټارګیټ ده وحید هم له همدې کوټې ووت ، هغه دې ګذارونه یې پرې وکړل نو همدا کوټه ولې او ټول به په یو ځای لاړ شو ، چې ووځو خه ده ، ممکن کوم ملګری بچ شي ، خو بله ډله بیا په دې نظر وه چې وتل خه نه دي که ووتلو نو دا په زوره ځان ډرونونو ته ورښودلو په مانا ده ، په همدې کشمکش کې یو ملګري د جنت د نعمتونو او د رب د لقاء د خوندونو خبرې شروع کړې ، ملګرو ته یې د صبر ، ثبات او د جهاد په اغزنه لار د داسې مرحلو د اجرونو بیان شروع کړ ، ټولو ملګرو اذکار شروع کړل .

نآشنا حالت و، هر مجاهد رب ته په التجا و، او دا یې یقین و، چې دا مو د ژوند آخري شیبې دي. د ګناهونو استغفار او د حسن خاتمې دعاګانې شروع وې، لکه چاته چې له مرګ مخکې خبر ورکړل شي چې د رب دربار ته روان یاست نو ځانونه چمتو کړئ، ټولو ملګرو د رب په دربار کې زاري کولې او ډېر په اخلاص یې د عقبی د بې مثاله نعمتونو غوښتنې کولې. پدغه دوران کې د بلیک واټر طالب ملیشو لخوا په مخابرو کې سخته خوښي څرګندیده، چغې او شپیلکونه یې وهل ، همدا ناري یې وهلې ځانونه ټینګ کړئ داعشیانو !

په داسې حال کې چې زموږ د ملګرو د سوځیدلو جسدونو څخه لوګي پورته کیدل ، خواوشا یې د شیندلو جسدونو په ټوټو لمبې بلې وې، څوک زخمیان و او له نازکو وجودونو یې تودې وینې روانې وې د چا په ژبه د شهادت په حال کې د مبارکې کلیمې ذکر و او د هجرت په دې پاکه خاوره یې له خپل کلي کوره لرې اخري سلګۍ وې ، په همدې سختو حالاتو کې د روافضو مقتدیانو او د امریکا غلامانو طالبانو رشخندونه وهل او لږ وروسته یې دا ناري شروع کړې چې اوس نو ټینګ شئ موږ درغلو کوم چې ژوندي پاتې یاست موږ مو وژنو .

او دا خبره موږ ټولو ته د اندیښنې د زیاتیدو سبب شوه ، ځکه دا لومړی ځل نه و بلکې له دې وړاندې هم څو ځل داسې شوي و، چې امریکایي درنده ګانو به زموږ مورچې بمبار کړې نو وروسته به یې پرې د طالب په نوم خپلې ملېشې رامرش کړل ، هغه وخت یې لا د دوحې تړون هم نه و امضاء کړې بلکې غلام او بادار یو بل ازمایل ، کله چې بیا د امریکا په تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې امریکا ته د طالب ملیشو د تسلیمۍ رسمي تړون لاسلیک شو نو بیا خو دا خبرې بیخي علني او ښکاره شوې .

په کوټه کې شته ملګرو یو بل ته وکتل ، اوس څه کول په کار دي ؟

په دې خبیثانو خو دا باور نه شته ، ځکه دوی څو ځله مخکې هم همداسې کړې ، هسې نه دا طالب مشرکین راشي په زخمي حالاتو کې مو ژوندي ونه نیسي څه داده چې ووځو او په کومو مورچو کې چې ملګري ډورنونو شهیدان یا زخمیان کړي د هغې خوا وشا مورچې ونیسو چې د طالب مشرکینو مخه ونیسو تر څو په دارالاسلام راونه خیژي .

نو پدې موافقه وشوه چې بیرون وځو او په میدان باندې د الله ددغه دښمنانو سره مقابله کوو. که دلته پدې ورانې کلا کې حصار شو، نو له دې ځایه جنګ نه کیږي، یو ملګری مخکې شو اونور ملګري ورپسې روان شول. دامریکایي درنده ګانو د بمبارونو په پایله کې ددې رنګې کلا له صحن څخه ووتلو ، د شاوخوا ونو لاندې مو د سنګرونو د نیولو اراده وکړه.

پدغه وخت کې مجاهدینو یو زخمي مجاهد ولید، څو ملګرو غیر اختیاري دغه زخمي پسې ورمنډه کړه، ځکه هلته هر مجاهد داسې وو لکه سکه ورور، نو دغه خطرناک حالت کې هم ځلور پنځه مجاهدینو باندې د عاطفې، لطف او شفقت جذبې داسې غلبه وکړه چې د ځانونو او د امنیتي اصولو پروا یې ونه کړه، او هغه زخمي مجاهد یې راوچت کړ چې بیخي پرهر ، پرهر و، اندامونه یې ټول مات، رامات ول او آخري سلګۍ یې وې، د نزدې ورو بوټو او ونو په لور یې روان کړ. دغه صحنې بیخي د صحابه وو او سلفو د زمانې ایثار انسان ته ورپه زړه کاوه .

استاد فردوس بهار چې دغه وخت د دنګې او قوي ځوانۍ خاوند و، بل ملګري ته یې خپل سامان ورکړ، ترڅو په یواځې ځان دا زخمي په شا کړي، ځکه د ځلور پنځو ملګرو راغونډیدل امنیتي خطا وه، دوئ لا څو قدمه نه و، اخستي چې د ډرون نور توغندی راورسیدل ، څو مترۍ کې واقع بوټو ته له رسیدو مخکې دا ټول شهیدان د رب دربار ته ورغلل. تقبلهم الله.

استاد بهار زخمي شو ، خو هوش او حواس یې جوړ و، او د یو وړوکي بوټي ترڅنګ کیناست، خو ډرون الوتکي ځارلی و، بل ګزار یې پرې وکړ چې په دې ګذار سره د استاد یو لاس په مکمل ډول ذره ، ذره شو چې بیا وروسته یې تري همدا میده ، میده لاس په روغتون کې په مټ کې پرې کړ، خواته یې پروت استشهادي یوسف کندوزی هم په پښو شدید زخمي شو، په تش میدان دا مجاهدین شهیدان او زخمیان پراته ول، څو متره ساحه ددوئ په غوښو او هډوکو ډکه وه ،د ونو رژیدلې او سوځیدلې پاڼې او ځانګې د کانو او خاورو سره یو ځای د شهیدو او زخمي زلمو په سرو او ګلګون شویو جسدونو پرتې وې ، د عرش مالک د اوه آسمانونو له پاسه د هغه ګلالیو ځوانانو کباب شوي حسین جسدونه ننداره کول، چې له لرې پرتې سیمو یې د اسلام د نصرت په پار هجرتونه راکړي وو، او نن یې د اشغالګرې امریکا، افغان مرتدو عسکرو او سیکولر طالب ملیشو پر وړاندې اول خط او صف کې د نړۍ له امتحانه په ممتازو نمرو ګټلو او د شهادت سند ترلاسه کولو په نتیجه کې په جیګو سترګو د رب انعاماتو په لور ګامونه واخستل. (نحسبهم کذلک والله حسیبهم ولا نزکي علی الله أحدا) .

سخته شپه وه او پدغه مجاهدینو تیره شوه، ټوله شپه ډرون الوتکو پدغه سیمه اتن کاوه ، د ورتګ هیڅ چاره نه کیده، زخمي مجاهدینو څخه وینې بهیدې، د ډیرو یې لاسونه او پښې پرې وې .

بلې خواته ټول امیران او مسؤولین په تشویش کې وو، ځکه سنګر سره رابطه قطع شوه او پرلپسې د ډرونونو ګڼ ګزارونه وشول، خو تر سهاره کومه چاره ونشوه. سخته شپه وه او تېره شوه، کله چې مونځونه وشول او رڼایي خپره شوه، نو د هغه سپمو ځایي کلیوال سیمې ته ورغلل او د مجاهدینو حالات یې معلوم کړل چې ۹ شهیدان دي او ۴ زخمیان دي.

لمړی یې زخمیان راوچت کړل، خو طالبانو په عوامو هم د زیګاویک ډزې کولې او هغوی یې د زخمیانو اوچتولو ته نه پرېښودل، خو بالآخر پر یوه مخفي لار دا زخمیان ددې سیمې څخه وویستل شول. او بیا شهیدان هم راوچت شول، چې د وحید الله او مدثر مولانا په شمول ۹ ملګري شهیدان ول. تقبلهم الله.

دغه مجاهده میرمن چې د خپل مجاهد خاوند له شهادته خبره شوه نو په بې صبرۍ یې خپل مخ او تندی نه واهه بلکې د الله حمد او ثنا یې وویله او نورو ښځو ته به یې ویل زما خاوند خپل رب سره خپله وعده پوره کړه او الله دې ماته او زما بچو ته هم دا توفیق راکړي چې خپل رب سره مو کړې ژمنې پوره کړو .

دې مومنې او مجاهدې مور د خپل خاوند له شهادته وروسته خپل زلمي زامن سعد او محب په کور ایسار نه کړل بلکې هغوی لا زیات تشویق او ترغیب کړل.

زامن يې هم په کور نه و او اوس نو وحيد هم نه و چې ددوئ د کور يو څه ګذاره روانه وساتي په دوئ ډير سخت حالات راغلل ، کشري زوئ يې عرفان چې په شوخئ کې ددې ټول کلي په همزلو مشهور و، اوس يې نو هغه مستي او شوخي نه وه ، اوس به نو اکثره نهر ويده کيده ، سحار به هم ډيرې وخت په نهره خيټه مکتب او مدرسې ته تللو ، ډير کله به يې ژړل او له خپلې موره به يې خوراک غوښته خو مور به يې په صبر دلاسه کاوه ، ددې مجاهدې مور له خولې هيڅکله ، هيچا، هيڅ ډول شکايت وانه وريده ، که به يې ګاونډيانو ترې د عرفان د ژړا علت وپوښت نو هم ورته به يې په خندا وويل : دا خو تاسې ته معلوم دی چې همداسې شوخ دی ژړا او لانجه يې عدت ده .

دا مور پوهيده چې اوس نو د ټولو مهاجرينو يو حال دی ، ډير وخت به يې فقط په سپينو جوشيدلو وريجو ګذاره روانه ساتله ، فقط خپل رب ته به يې د ترمو اوښکو په بدرګو د نيمو شپو په سجدو کې ددغه سختو حالاتو په اجرونو کې د جنت نعمتونه او د خپل رب ديدنونه غوښتل .

رښتيا چې د هجرت په خرو ماښامونو او تنهايي کې په لوږو او شبيګرونو کې په بې وسې او بې کسې کې خپل رب ته په ژړاګانو او دعاګانو کې ډير خوند و.

سعد په کتيبه کې و، ډير وخت وروسته به خپل کور ته راتللو ، سعد به چې راغې نو د خپلې مجاهدې مور لاسونه به يې ښکل کړل ، مور به يې خپل زلمی ګلالی زوی خپلې سينې ته راجوخت کړ او همدا به يې ورته ويل : پام بچيه چې په جنګ کې شا ونه ګرځوې ، د خپل ميړني پلار په قدمونو مخ ته ځه ، ګوره چې د بذدلې او تيښتې له کيسو دې خبره نه شم .

سعد به هم څو شپې د خپل واړه ورور عرفان او ورو خويندو سره کله په نهره او کله د سپيرو وريجو په خوړلو تيرې کړې او بيا به په ډيره خوښې د خپلې کتيبې د ملګرو په طرف روان شو ، د خپلې ناوې ښځې مينې او موسکا هم سعد د سنګر له تودې غيږې هيڅکله راونه ګرځاوه ، اخر سعد هم په يو تشکيل کې په يو تاوده جنګ کې خپل روح الله ته وسپاره .

مور يې چې خبره شوه نو دده په شهادت يې هم وير ونه کړ ، بلکې پاتې دوه زامنو محب او عرفان ته يې د شهادت په لاره د تللو ټينګار کاوه ، د سعد ځخه ناوې ښځه پاتې شوه .وړکې عرفان د مشر ورور له سورې هم بې برخې شو ، له پخوا يې کړاونه او غمونه لا زيات شول ، د عرفان دلوږو عجيبه داستان دې ، ماشوم عرفان او ورې خويندې به يې ډير کله په نهاره په دې تمه ويدې شوې چې سحار به د خوراک څه ومومي خو سحار به بيا د خوراک لپاره څه نه و، يوه ورځ چې عرفان د معمول په څير ډوډئ غوښته ، مور يې په دې دلاسه کړ چې ته زر اودس وکړه لمونځ وکړه او الله ته سوال وکړه الله به درته ډوډئ درکړي ، عرفان هم زر اودس وکړ او په منډه د خپل ورور سعد کوټې ته لاړ هلته يې لمونځ کړې و او ورندار يې په ګرنيټ مشغول کړې و چې د ګرنيټ طريقه ورته وخايي په همدې کې پرې ګرنيټ راخلاص شوې و ، چې په دغه غمجنه حادثه کې د عرفان ورندار (دسعد ښځه) د عرفان وره خور سلمه او عرفان سخت ژوبل شول ،چې همدلته بيا روغتون ته انتقال شول ، د تمکين په روغتونونو کې د دوايانو او امکاناتو کمې به تل موجود و ، لومړې يې خور او ورپسې عرفان هم په شهادت ورسيدل .

دي مهاجرې او مجاهدې میرمن بیا هم خپل ثبات له لاسه ورنه کړ او د هجرت له دردمند او له کړاونو له ډک ژوند څخه د ستنیدو تصور یې هم کله ونه کړ، بلکې یواځینی پاتې زوی محب یې تل په لومړیو لیکو کې جګړې ته هڅاوه ، محب اوس زلمی و او الله عزوجل پرې د یوې خیالي ځوانۍ لورینه کړې وه .

د مور یې اوس ټوله تمه محب ته وه ، په ډیره مینه یې ورته کوژده هم وکړه ، واده ته یې تیارې روان و ، خو هلته په دارالاسلام د امریکایي کروزنو او ډرونونو په زور راختلي دښمن طالب مشرکینو غوښتل چې پرمختګ وکړي ، محب هم له مور څخه رخصت واخست او د طالب مشرکینو سره د جګړې په هدف د دارالاسلام څخه د دفاع په موخه د تورې بورې د میلوې ساحې سنګرونو ته وخوت چې هملته د طالب ملیشو په ترصد او کوردینات په داسې حال کې چې د نورو سنګرونو په څېر امریکایانو دطالب مرتدینوپرمختګ لپاره د محب دوی سنګر هم ماتول غوښتل ځکه یې نو په سنګر څو پرلاپسې ډرون بریدونه ترسره کړل چې محب سره د نورو مجاهدو زلمو په شهادت ورسید .

د یواځیني زوی محب په شهادت هم ددې موحدې او مجاهدې میرمن حوصلې ماتې نه شوې ، بلکې د هر بچي په شهادت به یې نورو مهاجرو میرمنو ته ویل ماته د خپلو بچو په شهادتونو مبارکي راکړئ ، دا د غره په څیر درنه او باعظمه مهاجره میرمن د محب له شهادته وروسته هم نورو مهاجرو خویندو ته نه یوازې دا چې د ایثار ، عظم ، همت او اردو یوه لا مثاله نمونه ګرځیدلې وه بلکې تل به یې خپلې مهاجرې خویندې د جهاد او هجرت په اغزنه لار د تللو لپاره ثبات او استقامت ته تشویقولې .

ویاړ په داسې میړنیو میندو .

د داسې مجاهدې مور په انقلاب خیزه غیږ کې روزل شویو بچو څخه همدا تمه کیده ، چې ځانونه د الله په دین ټوټه ، ټوټه کړي .

دا د خنساء رض الله عنها لاروۍ اوس هم له تیرو لسو کلونود پاکستاني مرتدینو په زندانونو کې د ورک مشر زوی لارې څاري او وایي که چرته مې دا زوی الله په خیر راولي او دا هم د اسلامي خلافت په کاروان کې د خپل پلار او ورونو په لار لاړ شي نو زه به ددې جوګه شم چې ووایم : ما هم د خنساء رض الله عنها د تاریخ د راژوندي کیدو هڅه کړې .

د ایثار دنګ منار

کله چې شوروي سرې لښکرې په افغانستان راننوتې نو د بادغیس ولایت ، قادیس والسوالۍ خیرخانه قریې د ساداتو یوې دینداري کورنۍ هم خپل بچي د شوریانو په خلاف د جهاد لیکو ته واستول چې ددوئ په ډله کې د سېد نور الله زوئ (سید محبت) د شورویانو او ددوئ د لاس پوڅو کمونستانو په خلاف د مقاومت په لیکو کې د خپلې میړانې او اخلاص په مټ ځانګړې نوم پیدا کړ ، د شورویانو سره په مخامخ نښتو کې یې ډیر شورویان د جهنم کندو ته واستول ، اخر هم په یوه مخامخ نښته کې بندي او بیا دوه کاله زندان تیرولو څخه وروسته شهید کړای شو ، د ساداتو دغه متدینې کورنۍ د شورویانو په خلاف زیات شهیدان او زخمیان ورکړل خو د جهاد له لیکو په شا نه شول او تل یې دا کوشش و چې څنګه سرې لښکرې ماتې شي او یو اسلامي نظام حاکم شي دا بیا بیل بحث دې چې څنګه د داسې لکونو کورنیو د ارمانونو او قربانیو سره د آی ایس آی او سي آی ای مهار کړیو د جهاد تش په نوم مشرانو لوبې وکړې ، او لا هم د امارتي مشرکینو له لورې دا لوبې او معاملې روانې دي ، اوس راځو دې ته چې همدې کورنۍ ته الله عزوجل یو داسې میړنې زوئ ورکړ چې په درسته نړۍ د حقیقي شرعي نظام د قیام د بنیاد ګذارانو څخه وګرځید .

هو! په ۱۳۵۹ کال د ساداتو په همدې شهید پروره کورنۍ کې سید محبت ته الله عزوجل یو ګلالې زوئ ورکړ چې نوم یې ورته عبدالجلیل کیښود ، د پلار له شهادته وروسته یې مور بي بي او نیکه یې سېد نور الله (عبد الجلیل) د خپلې ځانګړې روزنې لاندې ونیوه ، هغه چا رښتیا ویلي چې د باز له ځالې باز پاڅیږي .

عبدالجلیل له ماشومتوبه د یوې میړنې مور په غیږ کې وپالل شو ، مور یې ورته په زانګو کې د دیوانو او پیرانو د خیالي کیسو په ځای د اسلام د فاتحانو کیسې کولې ، نوموړی به یې د ستر خالد ، سعد بن ابي وقاص ، عبیده بن جراح او د اسلام د نورو اتلانو په کیسو ویده کاوه ، عبدالجلیل له ماشومتوبه د سنګر ، غزا ، فتحې ، شهادت ، اسارت او زخمونو له نومونو او ارزښتونو سره اشنا و، له ماشومتوبه له انقلابي روحیې سره مل رالویده ، لومړنې زده کړې په خپل پلارني کلي کې پیل کړې ، کله چې د ۱۱ کلونو شو نو د خپل نیکه سره هرات ولایت ته ولاړ ، هلته یې خپلو دیني او عصري زده کړو ته دوام ورکړ ، د خپلې ځانګړې وړتیا او استعداد له مخې د ۱٦ کلونو و، چې د امارت په تیر دور کې په ګمرک کې وظیفه ورکول شوه ، دغه وخت یې انګلیسي ژبه هم یاده کړه ، د ۲۰ کلونو په عمر به و ، چې د تفسیر او حدیث علوم یې ترلاسه کړل ، او همدغه وخت ورته الله عزوجل د توحید سپیڅلې عقیده هم ورنصیب کړه په شل کلنۍ کې په تجارت پیل وکړ او بیا یې د حج د سپیڅلې فریضې د اداینې لورینه هم پرې رب وکړه ، د تجارت له لارې یې دغه وخت زیاتې پیسې ترلاسه کړې وې .

دا هغه مهال و چې د امریکا په مشرۍ د ناټو ګڼو یرغلګرو هیوادونو په افغانستان هجوم راوړ ، بیخي د اشغال د پیل شپې وې ، د امریکآیي اشغالګرو رعب او هیبت دومره خور و چې چا یې په خلاف په یو پټ مجلس کې هم سپن نه شو کولاې ،خو عبد الجلیل سره له همدې وخته د جهاد فکر موجود و او په همدې لټه کې و چې څنګه په تش لاس د وخت ددې ستر ښامار مقابلې ته راووځي .

د عبد الجلیل یو ملګری کیسه کوي چې دغه وخت زه په بادغیس کې په یوه مدرسه کې په زده کړو بوخت وم او عبدالجلیل په هرات ولایت کې خپل کاروبار درلود، نو یوه ورځ مې څنګ ته راغی له نورو خبرو وروسته یې راته کړه : څه کیسې دې دنیا کې ؟ ورته مې وویل : بس دنیا ده څوک ځي او څوک راځي .

ویل یې : نه له سیاسي پلوه دې پوښتم ، د امریکا یرغل ته په کوم نظر ګورې ؟

ورته مې په ټوکه وویل : بس امریکا راغلي او خدمت کوي .
عبدالجلیل جدي شو : الله بنده د جهاد په اړه دې څه نظر دی ؟
ورته مې کړه : ته خپل کار سره کار لره یو دوکاندار سړی یې ستا یې د جهاد سره څه ، ته په جهاد څه پوهیږې .
بیا یې راته په ډیر متانت وویل : د امریکایانو په خلاف جهاد داسې فرض دی لکه څنګه چې لمونځ روژه او د اسلام نور ارکان فرض دي او باید لاس په کار شو .
همغه وچې د عبدالجلیل په مرسته او هڅونه مو بیا مسلحه مبارزه پیل کړه ، لنډه دا چې مونږ ټول سره یو ځای شو، د آمریکا پر وړاندې مو مبارزه پیل کړه، په لمړیو کې ستونزې ډیرې وې. ماین به مو را واخیست، په خره به مو وتړلو او په ډیره یره او پټه به مو انتقالاوه ، د غرونو او قریو په منځ کې به د دوکانداری او تجارت په نوم به مو وسایل انتقالول ، د شپې مهال به مو د امریکایانو د ټانګونو مخته ماین خښولو په منطقه کې بلد نه و، لارې یې نه وې را معلومې، ډیر غرونه او کمرونه ول، کله، کله به له لوړو کمرونو هم وغورځېدو، د شپو تور تم و، لاسونه او پښې به مو زخمي شول او وینې به ترې رواني شوې. قریشي په ناز او نعمتونو کې را لوی شوی و، سختي یې نه وه لیدلې خو بیا هم کله به چې له لوړه ځایه وغورځېد، ور غږ به مې کړلو: ژوندی یې؟
ویل به یې: هو.
ورته کړه به مې: لاسونه، پښې کوم ځای خو به دې نه وي ژوبل شوي؟
ویل به یې: الله دې قبول کړي.
ډیر استقامت به یې کولو، یوازې دومره به یې ویل: ای ربه! ته یې قبول کړې.
ډیرې سختې شپې او ورځې یې تیرې کړې. د بدن ډیر غړې یې ټپي ول او له همدې به یې تبه هم وه خو نه به مایوسه کېده، ډیر کله به ماین کار نه کاوه، بیرته به مو وړلو تر دې چې هدف ته به ورسیدو د جنګ او مبارزې ډیر تږی او پر دې ډیر حریص و تشه ګېډه به په غرونو کې وږې ګرځېدو تر څو یو ځای پیدا کړو او ماین خښ کړو خو له دې حالت څخه ډیر خوښ و. په دې سفرونو کې قاري جنتي لقماني چې په ننګرهار کې شهید شو، له مونږ سره و یوه ورځ وغورځېدلو، زنګون یې مات شو، هډوکی یې د باندې راووت خو بیا هم له مونږ سره پر لار روان ما غوښتل له لاسه یې ونیسم. راته کړه یې: جنت مفته نه ګټل کیږي، له الله څخه یې اجر غوارم.
په همدې حالت کې له مونږ سره د لارې مل و، شکسته بند نه و، ډاکتر نه و، دوا نه وه چې د پښې درملنه یې وکړو، پښې یې په همدې حالت کې کوږ جوش خوړلی و او هډوکی پوخ شوی و. کله مو چې ننګرهار ته هجرت وکړ، خپله پښه یې را وښوده چې هډوکی له غوښې څخه د باندې جوش خوړلی و)پوخ شوی و(
یو وخت په مونږ چاپه راغله، د رمضان مبارکه میاشت وه، لنډه دا چې رب وژغورلو او ځان مو وویستلو، غرونو ته لاړو 4 ملګري مو شهیدان شوي وو، پلې وو، شپه شوه، وږي وو، ډیر ستړي په غره کې د کوچیانو یوې باندې ته ورسیدو ، مونږ ته یې ځای رانکړ، ویل یې ځای نه درکوو، ملګرو غوښتل له زوره کار واخلي خو قریشي "تقبله الله" پرینښودل ویې ویل: صبر کوو.
لنډه دا چې خلکو ته مو وویل: د جومات فرشونه ټول نکړي، بوږې نه غواړو، یوازې شپه هلته تیروو. جومات په دښته کې و، هوا ډیره یخه وه خو مونږ وږي هم وو، د ماخوستن له لمانځه وروسته چې کله خلکو ولیدل چې مونږ آرام یو نو زمونږ لپاره یې تروې (شرومبې)او بوږې راوړه چې ستړې انسان ته ډیرې تاواني دي. مونږ ته یې ویل چې تاسو څرنګه خلک یاست؟ له زور څخه هیڅ کار نه اخلئ، نورې مسلحې ډلې ستاسو په څېر نه دي له دې کیسې مې مطلب دا و چې قریشي "تقبله الله" ډیر صابر انسان و، تر دې چې یوه مړی بوږی یې له چا په زور نه اخیسته، لوږه یې زغمله خو خلک یې نه ځورول.
د قریشي امر صبب د صبر پایله وه چې همدا خلک الله عزوجل بیا پوره زمونږ مرستندویان کړل ، بیا به یې هر وخت په ډیر اخلاص زمونږ هر خدمت کاوه .، قریشي به ویل: د صبر میوه مو ولیدله؟
یقینا په غرونو کې به مو په هفتو او میاشتو پلی سفر کاوه خو دا سړی به خوښ و تر دې چې اخلاص به یې ورځ تر بلې ډیریده.

عبدالجلیل دغه وخت په ځان مخلص ملګري راټول کړل ، چې ددوی په ډله کې د سیمې لس کسه تکړه علماء هم و ، دوی به په ډیر خه انداز هم د امریکایانو خلاف دعوت کاوه هم به یې مجاهدین جهاد ته هڅول او هم یې د مجاهدینو روزنه او تربیت کاوه او هم یې وسلواله مبارزه پیل کړه او په تجارت ګټلې خپلې پیسې یې په دې تولو چارو کې مصرفولې ، امریکایانو او ددوی مرتدو افغان استخباراتو د عبدالجلیل او ملګرو موندلو پسې یې زیات کوشش کاوه چې ګڼ ملګري یې شهیدان ، زخمیان او اسیران شول اخر عبدالجلیل په ۱۳۸۸ کال بادغیس ته ولاړ ، په خپلې قریه خیر خانه کې

يې د مخلصو مجاهدينو يوه ډله رابرابره کړه او د امريکآيانو په خلاف يې په علني شکل جګړه پيل کړه ، د حاجي صيب عبد الجليل او ملګرو د شجاعت ، اخلاص او نيکي اخلاقو له امله په سيمه کې ګڼ نور ځوانان هم ددوی له ډلې سره يو ځای شول ، ورځ تر بلې يې جنګي وړتياوې او مهارتونه زياتيدل او نفوذ يې پراخيده .

په ١٣٩١ کال کې بيرته د مشرانو له لوري هرات ته وغوښتل شو، او بيا نو د جګړې ليکې پراخه شوې د بادغيس په شمول په فارياب ، هرات او نورو ساحو کې يې د جهاد سنګرونه تاوده وساتل د هرات تر ځنګ يی د تګاب په ياري ولسوالی کې هم نظامي مرکزونه درلودل او د مجاهدينو تربيت او روزنه يې کوله ، د کرخ او اوبه والسوالی د مجاهدينو مسوليت دغه وخت هم ورته وسپارل شو چې دغه وخت يې د مجاهدينو تعداد ١٥٠ تنو ته رسيده ، يو ملګرې يې ددې ورځو د جنګونو او کړاونو يوه خاطره شريکوي او وايې :

يوه ورځ د هرات "اوبه" والسوالی ته په تشکيل تللو، د امارت ګروپونه هم را ټول شول، غوښتل مو د سيوشان په لور ولاړ شو، مونږ خپله 45 ملګرې وو، خپل منځ کې په څو ګروپونو ويشل شوي وو، تر دې چې د اوبه ولسوالی د چنارانو سيمه کې مو لمړی ورځ ده، د شپې 25 ځرخيو "هليکوپټرو" خلک پلي کړل، امريکايان دي او دوه لوريو ته پوخ سرک دی او د امريکايانو ځمکنی قوه هم راغله، له ښکته او پورته لوري د والسوالی اربکيان هم راغلل، مونږ په سيمه کې نا بلده وو، خو په دې سيمه کې بلدي طالبان هم راسره و ، لومړي شپه مو وه ، ځنګه چې د سهار له لمانځه وروسته له جوماته ووتلو، ځرخی راغلي او کښيناستې، نورو طالبانو پښې سپکې کړې او مونږ يې يوازې پرېښودو تر دې مونږ يې بيخي خبر هم نکړو او ځانونه يې وويستل. مونږ يوازې له خپل ملګرو سره پاتې شوو او جنګ پيل شو؛ په آسمان کې Bm52، څهار ماشينه يا 713، جنګي جيټان، جنګي چورلکې ډيرې وې، د الله عزوجل د نصرت په هيله مو جنګ پيل کړ، د نورو ګروپونو په طالبانو غږونه کوو خو هيڅوک ځواب نه راکوي، لنډه دا چې د شپې تر 11 بجو مو جنګ وکړ، له هر لوري محاصره يو، په قريشي "تقبله الله" مې غږ وکړ، ورته مې کړه: مشوره بايد وکړو تر څو دحل يوه لار ولټوو. تر وروستی سلګی جنګ کوو چې ټول شهيدان شو او يا کوم لور ته محاصره ماتوو او د ځان لپاره يوه لار وباسو؟

مهمات مو هم ختمېدو ته نږدې ول، مشوره مو وکړه لنډه دا چې يو لور ته غر و او همغه لور ته سرک هم و، د ځمکې له لوري امريکايان راغلل، دې پايلې ته ورسېدو چې په همدې لور ځانونه وباسو.

قريشي وويل: لږ تر لږه له 3 ساعتونو تر 5 ساعتونو اوږده دښته ده، ځنګه به ورسېږو، مونږ ټول د طيارو په واسطه ويشتلی شي.

ما ورته وويل: له ما سره يو بل ملګری يو ځای کړئ مونږ انغماسي کوو ان شاء الله، پلانکي ځای کې د ټانګونو مخه نيسو او تاسو د غره پر لور ځانونه وباسئ، يو بل هلک مې له ځان سره ملګری کړ، يو کلاشن او يو راکټ مو واخيستل ، له کلي ووتو، د غره په لور سرک ته ور روان شوو، دا بل راسره ملګری هم د بادغيس دی، زما او ددې ملګري څېرې هم يو شان دي او هم نامې هم يو ، د ټانګونو ته نږدې شوو، موږ په دې پره کې و چې ټانګونه به مو ګوري دغه وخت يو ډول مرغان راپيدا شول لاندې په خاورو کې يې وزرونه وهل خر ګردونه يې جوړ کړل موږ هم دې ګردونو کې پنا روان و، دې مرغانو يو عجيب قسم اوازونه هم کول لکه څوک چې ژاړي .

راسره ملګری په ژړا شو ويل يې: دا څه دي؟

ما ورته کړه: دا د الله مرسته او نصرت دی.

مونږ دواړه په ژړا د ټانګونو په لور ور روان وو. مرغان له مونږ سره د لاړې مل دي، ځان زمونږ مخ، مخ ته په ځمکه ولي او د چغو غږونه يې پورته کيږي "په داسې حال کې دا پيغام ليکم چې اوس مې هم هغه صحنه سترګو ته ودريده او دادی له سترګو مې اوښکې روانې دي يقينا د رب نصرت مو په سترګو ليدلو، لنډه دا چې ځانونه مو ټانګونو ته په داسې حال کې ورسول چې مونږ ټانګونه ګورو او هغوی مونږ نه ګوري چې په مونږ ګوزار وکړي، ملګرو ته مو غږ وکړلو چې زمونږ خواته راشئ، ملګري له ټپيانو سره را روان شول، له مونږ موټر سايکلونه او اضافي اسباب ټول پاتې شول، په دې وخت کې 4 د سپرلی موټرونه راغلل، دا داسې حالت دی چې امريکايانو موټرونه ګرځېدل بند کړي ول، ملګري مو له ټپيانو سپاره کړل چې په موټرونو کې د غره په لور لاړل، زه او 4 نور ملګري په موټرو کې ځايه نشو او پاتې شوو نو پلې مو حرکت پيل کړ، مرغان له مونږ سره مل دي، په آسمان کې طيارې ګرځي او په ځمکه ټانګونه، دښته نه کور لري او نه ونې او نه هم د پټيدو بله کومه ذريعه شته ، ټانګونه له مونږ سره د 20، 30، او 50 مترونو په واټن کې دي، کله چې مونږ ځانونه غره ته ورسول، امريکايان هم خبر شول چې مونږ ځانونه ويستلي نو مونږ پسې غره ته راغلل په داسې حال کې چې وږې او تږې يو او ټپيان هم لرو، په غره کې پاتې شو، جيټان ګرځي، شپه يې پر مونږ د ورځې په څېر کړه، ډېر فشنګان يا مهتابی يې فاير کولې، تر دې چې دوه ورځې او شپې کيږي خوب مو نه دی کړی، ډوډۍ مو نه ده خوړلې، په اصل کې هيڅ شی نشته چې ويی خورو، له 45 ملګرو 18 پاتې يو، اوس مهال زمونږ هر ملګری دوه ميله تر دې چې ځيني ملګري درې ميله اسلحه لرو، ورګرځو قريشي "تقبله الله" ته، هغه په دويمه شپه يوې سمڅې ته ننوتی و او له لوږې او ستړيا بې هوښه شوی و، په داسې حال کې مو را وويست چې بې هوښه دی، تر څو مو يو ځای ته ځانونه ورسول چې ډوډۍ او اوبه د ځان لپاره پيدا کړو خو بيا يې هم صبر کولو، ډېر خلک له صف څخه لاړل خو قريشي "تقبله الله" به بيا هم ويل چې صبر وکړئ.

د خپل اخلاص جنګي وړتياو او په مجاهدينو کې د پراخه نفوذ او محبوبيت له کبله عبدالجليل ته ډير ژر د څلورو ولايتونو مسوليت هم ورترغاړې شو ، بيا يې نو په پراخه کچه په امريکايانو او د دوی په مرتدو غلامانو قوي عملياتونه ترسره کړل پرخه اسلحې او ساحې ورته الله ورکړې ، زيات مجاهدين يې تجهيز او مسلح کړل ، ددې هر څه سره يې د اسلحو ، مهماتو او باردو انتقالات هم کول او ورسره يی استهشادي مجاهدين هم روزل ، هغه وخت چې دا ټول کاروانه د سر دسودا په مانا و خو عبدالجليل به په ډيره ميرانه مختلفو محاذونو ته باردو او مهمات رسول د

عبدالجلیل یو نیږدي ملګري خراسان غږ مجلې سره په دې اړه خپله یوه خاطره شریکه کړه ، دا مجاهد ورور وایي چې یو ځل عبدالجلیل چې دغه وخت په نصرت هم شهرت درلود راته وویل چې هلمند ته مهمات او بارود وړو ، د انتقال لاره قاچاقي وه په یوه ډیره سخته او پراخه دښته کې تیره شوي وه موږ سره یو لنډکروزر او یو سیمرغ موټر و ، قابو ۲۵ ساعته په دښته کې مزل و ، په دې دښته کې طیارو ډیر مجاهدین مخکې هم ویشتلي و ، ځای ځای به مرتدینو کمینونه هم نیول ، دا لار په څو ولایتونو تیره شوې وه او باید له څو ولایتونو تیر شوي وې ، موږ پوره بلد هم نه و ،او په دې دښته او لارو کې نابلده کسان ورکیدل ، موږ بارود ، مخابرې ، ریموټونه او نور اړوند شیان بار کړل ، بسم الله مو کړه او په دې قاچاقي لارو ورسم شو ، سفر مو ډیر په پټه او په احتیاط کاوه په لاره مو څو شپې راغلې ، د سپرلي موسم و او په دې موسم کې عموما بارانونه او سیلابونه زیات وي، موږ هم د لارې په اوږدو کې د هلمند په ساحو کې د یو خوړ په څنډه کې باران رالاندې کړو چې څو شیبې وروسته سخت سیلاب راووت او موږ ته هم موټرونه په دغه سیلاب او خټو کې خراب شول ، د عبدالجلیل په شمول موږ ټول پنځه تنه مسلح ملګري و ، باران او سیلاب د زیاتیدو په حال کې و ، عبدالجلیل (نصرت) ته مو وویل : چې څه کول په کار دي ؟

په پوره ډاډ یي وویل : همدلته پاتې کیږو داسې خو نه کیږي چې موږ ځانونه روغ وباسو او داد بیت المال وسایل او نور سامان ضایع شي .

ورته مو کړه : نو څه کول په کار دي د ټولو ملګرو دلته یو ځای ورسره اوسیدل هم څه نه دي .

ویل یي : بس چې څه تقدیر وي ، نصرت امر صیب په بیت المال ډیر ټپریده او تل به یي کوشش دا و چې د بیت المال یوه وړوکې ستن هم بیځایه نه شي .

اخر مو ډیر په سخته قانع کړ چې څلور ملګري به ددې پورې غرونو لمنو ته لاړ شو ، هلته ممکن د کوچانو کورونه وي ، یو ملګری به موټرونو سره پاتې شو ، په دې خبره مو سلا راغله ، زه موټرونو سره پاتې شوم او دوی رآخڅه لاړل ، زه بهر ولاړ وم، باران سره سخت باد او طوفان هم ملګرې و ، د سیلاب زور هم رو رو زیاتیده ، زه بهر باران لوند کرم ، نور نو موټر سیټ ته ورننوتم ، ښیښې مې اوچتې کړې ، د طوفان شدت لا زیاتیده ، اوبه د موټر تر دروازو راوختلې ، هره شیبه به امر صیب په مخابره احوال اخست ، راغږ یي کړ : وروره څه کیسه شوه ؟

ورته مې وویل : بس خیر دې ، کراري ده .

ویل یي : که سیلاب زیات وي او ځانته درته مشکل وي زه هم بیرته درځم .

ورته مې کړه : نه ستا راتللو ته اړتیا نه شته که سیلاب زیات شو ، خیر یوازې ما به یوسي ، تاسې خو به پاتې شئ کنه ، په خندا مو الله په اماني وکړه .

اخر هم د دیرې ستړیا له امله راباندې خوب غلبه کړې وه او همداسې د اشترنګ شاته په سیټ ویده شوې وم ، یو وخت و چې راپاڅیدم ، په مخابره کې مې پرلاپسې د امر صیب ناري اوریدې ، ورغږ مې کړ : اورم وروره .

په ډیره وارخطایي وویل : زموږ خو دې زړه راوچاوه ، ژوندي یي شکر ؟

ورته مې وویل : هو الحمد لله جوړ تیار یم .

لنډه دا چې امرصیب د جهاد د اغزنې لارې په ستړي کونکي یون کې هیڅ د ستړیا احساس نه درلود او په دې لاره کې یي هر کار په ډیره مینه او اخلاص تر سره کاوه .

امر صیب د وزیرستان په مرکزونو کې د کردي او عرب مجاهدینو په شمول د بهرنیو مجاهدینو سره هم پوره پیژندګلوي درلوده ،او دلته به هم د تجوید ، سیرت او عقیدې په ذده کړو بوخت و ، بهرنیو مجاهدینو هم ورته ځانګړې احترام درلود ، خپل ملګري به یي هم د تربیت لپاره همدې بهرنیو مجاهدینو تربیت سنټرونو ته استول ، هلته به یي د اسلحې تر څنګ نورې مسلکي او تخنیکي ذده کړې هم کولې چې د برق او ماین جوړونې په برخو کې یي هم پوره مهارتونه درلودل ، عقدوي تربیت یي هم ډیر خه و، چې د همدې له برکته یي زیات ملګري د توحید په سپیڅلې عقیده خایسته و .

امر صیب په ۱۳۹۳ کال د آی ایس آی له لورې ونیول شو ، چې بیرته بیا د آی ایس آی له لورې د امارت د بګیل شویو مشرانو په سفارش اذاد شو ، سمدستي خپلې سیمې ته راستون شو ، دغه وخت ورته د امارت د خباثتونو پوره مالومات شوي و امارت په دې وخت کې خپل ارتداد نه شو پټولي او د عبدالجلیل نصرت په څیر مخلصو مجاهدینو نور د امارت په صف کې وخت نه شو تیرولي ، امر صیب په وزیرستان کې ډیرو مخلصو عرب مجاهدینو سره پیژندګلوي شوې وه چې ډیرې دا مجاهدین عراق ته ستانه شوي و او هلته د اسلامي دولت په لیکو کې و ، عبدالجلیل دغه مجاهدینو سره مسلسل رابطې درلودې او هغوی ورته د یو نړیوال اسلامي خلافت د زر اعلانیدو زیري ورکول او امر صیب هم په ډیره لیوالتیا د داسې یو ورځې انتظار کاوه ، د امر صیب یو ملګرې کیسه کوي وایي : په 1435 هجری قمری کال د خلافت اعلان شو، د خلافت له اعلان څخه وړاندې، د عراق د مجاهدینو له حالاتو موږ خبر و چې خلافت اعلانیږي، کله چې د روژې په مبارکه میاشت کې د جمعې په ورځ اعلان شو، موږ له اعلان څخه دوه ساعته وروسته خبر شوو، بیعت مو وکړ، امر صیب لا خبر نه و، له ما سره څو تنه استشهادیان ملګري وه، کله چې د خلافت له اعلان څخه خبر شول، د خوښۍ سجدې یې وکړې او نژدې یو ساعت یې د خوښۍ اوښکې تویولې ، ماته یې وویل : اوس مهال مونږ په خپل حال پرېږدئ ، مونږ اوس په امارت کې عملیات نه کوو ، الله دې دلته خلافت قایم کړي موږ په خلافت کې یې خپل عملیات کوو، غوښتل مو چې عملیات د امارت په نوم تر سره کړو،خو استشهادي وروڼه تیار نه شول .

قریشي "تقبله الله" (عبدالجلیل) په بله سیمه کې وو، مونږ د قریشي لور ته ورغلو، استشهادیانو راته وویل: قریشي به بیعت وکړي؟

که څه هم زه د زیړي لپاره امر صیب ته ور روان وم او په زړه کې سخت مطمین وم چې امر صیب به ډیر زیات خوشاله شي خو دغه استشهادیانو ملګرو ته مې وویل راځئ له نیږدې ورشو له نژدې به یي احساسات وګورو.

کله چې مرکز ته ورغلو استشهادیانو وویل: قریشي ته غږ کړه، که بیعت یي وکړلو، مرکز ته ورځو او که ویي نکرلو بیرته ځو.

ورته مې وویل: سمه ده.

کله چې ورسیدو قریشي ته مو ور غږ کړ، استشهادیانو ورته وویل: حاجي صاحب! خلافت اعلان شو، څه کوې؟ څه اراده لرې؟

قریشي "تقبله الله نهایت زیات خوشاله شو ، " ورته یي وویل: نو څه به کوو، زما خو بیعت ده، له کلونو راهیسې دهمدې ورځې په انتظار وم ، زما ټوله مبارزه ، خواري او قرباني د خلافت لپاره وه ، اوس له الله عزوجل څخه غواړم چې توفیق راکړي تر څو د دې نعمت شکر اداء کړم، هو! د دې نعمت شکر په ژبه نه اداء کیږي، تیار یم ځان او مال مې په دې لاره کې قربان کړم، هر رنګه قرباني ته تیار یم.

استشهادي زلمو چې د مشر حاجي صیب خبرې واوریدې،

له ډېرې خوښۍ رب ته یو ځل بیا د شکر په سجده پرېوتل، له قریشي سره بیا ډېر په مینه غاړه غړۍ.شول او ددې مبارک نعمت په لورینه مو ډېر شکرونه وویستل

ملګرې کېسه کوي وایي امر صیب له همدي وروسته خپل نوم سره قریشي تخلص اضافه کړ ، خپل بیعت یي پټ وساته ، خپلو عملیاتونو ته یي دوام ورکړ خو راپور به یي امارت ته نه ورکاوه بلکې د خلافت د سورې اوبیعت لاندې یي د صلیب او ددوی له مرتدو مزدورانو سره جګړې ترسره کولې ، ډېر زر خراسان هم د نړیوال اسلامي دولت په توګه اعلام شو ، امر صیب د عراقي مجاهدینو په وساطت د هغه وخت د والي د نایب شیخ عبد الروف خادم سره په رابطه کې شو ، قریشي امر صیب د خادم صیب ملګرو سره زیات کومکونه وکړل ، هغه وخت په فراه ولایت کې هم د شیخ خادم ملګري د اسلامي خلافت مجاهدین موجود و، شیخ خادم تقبله الله د امریکایي ډرون په برید کې په شهادت ورسید ورسره سم طالب مرتدینو د اسلامي خلافت په مجاهدینو هجوم راوړ ، رب ته به همداسې منظوره وه فراه ولایت سقوط وکړ ، په زابل او فراه ولایتونو کې امارتي مشرکینو د اسلامي دولت په لیکو کې د ازبک مجاهدینو په شمول نورو بهرنیو مجاهدینو سره سخت وحشتونه وکړل ، ددوی زنانه او ماشومان یي هم په ډله ایز شکل په شهادت ورسول چې ان شاء الله ډېر ژر به دوی ددې هر څه سزا وویني ، د شیخ خادم تقبله الله له شهادت وروسته امر صیب د خراسان د والي حافظ سعید خان تقبله الله سره رابطه برابره شوه ، دغه وخت حافظ صیب په ټولو ولایتونو کې مجاهدینو ته تمکین ته د هجرت امر وکړ ، امر صیب قریشي هم سره د ۴۰ تنه ملګرو دارالاسلام ته د هجرت په نیت روان شو ، له دې ډله یي لس تنه لارو کې ونیول شول او بندیان شول باقي نور دیرش تنه یي دارالاسلام ته ورسیدل ، قریشي امر صیب یوه میاشت مامند کې تېره کړه ، وروسته بیا د چپرهار مسول وټاکل شو ، هلته یي په ډېره ایمانداری خپله وظیفه ترسره کړه ، د قریشي امر صیب اخلاص او دیانت ددې سبب شو چې د خراسان مشرانو پرې د زیاتو درنو مسولیتونو باور وکړ ، وروسته یي بیا د هسکې مېنې ولسوالۍ مسولیت ورکړ چې دلته یي هم په ډېر خه انداز د اسلامي خلافت هر اړخیز نظام رامنظم کړ ، ډېر درانه او قوي جنګونه یي رهبري کړل ، د هغه وخت د جنګونو څخه یي تعرضي جنګ د هسکې مېنې د امنې قومندانۍ فتحه او د قهر سیلاب په نوم د عملیاتو په وړاندې مقاومت ډېر مشهور دي .

د امر صیب قریشي یو د څنګ ملګرې چې په ډېرو سړو تودو کې ورسره یو ځای پاتې شوې (توحیدي حفظه الله) د قهر سیلاب د عملیاتو کېسه کوي وایي : (کله چې امریکایانو او افغان مرتد حکومت ورځ تر بلې په خراسان کې د اسلامي دولت له نفوذ څخه په ډار او تنګ شو نو د اسلامي دولت په تمکین یي له څو لوریو ډېر په زور او قوت سره د قهر سیلاب په نوم هوایي او زمیني عملیات پیل کړل ، ددغه خونړي او توند سېلاب څپه په هسکې مینې ولسوالۍ اړوند د اسلامي دولت د تمکین په سېمو هم راغله خو دلته د داسې فولادي کمرونو سره ولګیده چې بیرته په شا ورماته شوه ، هغه وخت مو په پایین کې خط و، په لمړۍ ورځ د پایین په مکتب کې د پوخ سرک پر غاړه زمونږ خط و، په دې ورځ خط کې مجاهدین 8 ځله شهیدان او ټپیان شول،یاني اته ځله مو سنګرونه له ملګرو ډک کړل خو بیرته به شهیدان او زخمیان شول او دا تشه مو اته ځل ډکه کړه ، خو د قریشي امر صیب استقامت او شجاعت داسې و چې ماتې یي نه منله او د ټولې نړۍ د کفارو په وړاندې یي داسې کلکه ګونډه وهلې وه چې دوی د راپرځولو توان نه درلود ، په اوله ورځ د کفارو څو ځل مسلسل درانه او قوي تعرضونه مو د الله په فضل ورمات کړل ؛ سبا مو تر غرمې استقامت وکړ، زه هم زخمي شوم، په قریشي مې غږ وکړ، خواته مې راغی، ویې لیدم چې زه زخمي شوی یم، راته یې کړه: ځه لاړ شه. ورته مې وویل: خط را مات نشي.

ویې ویل: تر څو چې ژوندی یم، دومره پا آسانۍ دا سیمه نه پرېږدو.

ریښتیا هم عملیات تر 50 ورځو وغځېدل، ډېر ملګري شهیدان او ټپیان شول خو قریشي په لس ، پنځلس ملګرو د الله له کومک څخه وروسته په ډېرو ستونزو او سختو خونړیو جنګونو کې د دارالاسلام له حدودو دفاع وکړه ، او تر اخره یي دا سېمې کفارو ته پرینښودې .

توحیدي ورور وایي زه په زخمي حال کې په کلا او شیخا کې وم، په همدې وخت حافظ صیب شهید شوی و،د شیخ صیب عبدالحسیب له لورې یو مکتوب راغی، چې قریشي د خراسان امیر الحرب ټاکل شوی او توحیدي د دیبالا ولسوالۍ امیر ټاکل شوی. لنډه دا چې مکتوب مې ولید حرکت مې وکړ، ګورګورۍ ته لاړم، رابطه مې وکړه او د قریشي خواته ورغلم، په داسې حال کې چې قریشي "تقبله الله" د

ډوډۍ پخولو په حال کې و، په ډېر لوړ مورال او ډېره خوښۍ يې خندل، زه يې وليدم روغبړ مو وکړه، بيا يې وويل: څنګه راغلې؟ ته خو تېږې يې.
ورته مې وويل: تاته د شيخ صاحب مکتوب را رسېدلی؟
ويې ويل: هو را رسېدلی.
ورته مې وويل: نو ته لاړ شه خپل کار وکړه، زه پوهېږم او دا سيمه.
راته يې وويل: والله ترڅو دا قوه ماته ونخوري، په ځان مې لازمه کړې چې دا سيمه به نه پرېږدم، ته بېغمه واوږه چې صحت دې ښه شي او رب دې غوره صحت در کړي.
ما ورته وويل: کار دې ډېرېږي.
ويې ويل : ته انديښنه مه کوه ، د الله په مرسته او نصرت ان شاء الله ، الله به د ټولو کارونو د کولو توفيق راکړي ، ټول کوم.
لنډه دا چې ډېر مې ورته وويل تر دې چې زارۍ مې ورته وکړې چې يو څو ورځې دمه وکړه او نور دې خپل کار وکړه.، خو په چا يې منې .
قريشي امر صيب د جنګ په تودو معرکو کې په ګرمو لمبو کې لوبيدلې هغه زمرۍ و، چې د ګرمو جنګونو سره يې عدت اخستې و ،کفارو او مرتدينو سره بغير له جګړې پرې سات نه تيريده او نه يې چرته دمه او ارام پيژانده)
قريشي امر صيب ته الله عزوجل د مشرۍ داسې وړتيا او استعداد ورکړې و چې سړې ورته ګوته په غاښ حيران پاتې کيدل ، امر صيب ته الله عزوجل داسې جنګي مهارتونه ورکړې و چې د دښمن لوړ رتبه جنرالان يې په ماته او اعتراف اړ کړې و ، کله چې د خراسان اميرالحرب شو ، نو د لوی الله په فضل او مرسته يې حربي نظام داسې منظم کړ چې د مومنانو سينې يې يخې کړې او د دښمنانو زړونه يې له يرې وچول ، کله چې نوموړي د خراسان د جنګ امر و نو په دغه وخت کې ۱۲ فعالې کتيبې موجودې وې ، او د خراسان د جنګيدونکو زمرو شمير ۱۵۰۰ تنو ته رسيده ، په دغه وخت کې د پچير ستره فتحه هم رامنځ ته شوه او الله عزوجل په دغه سيمه کې د څو ډوله بې شميره دښمنانو غرور د خاورو سره خاورې کړ ، چې ددې جګړو هم ځانګړې داستان دې ، چې الله عزوجل پراخه سيمې ، بې شميره غنايم او اسيران د اسلامي دولت مجاهدينو ته په لاس ورکړل .
قريشي امر صيب د ډيرو اغيزمنو او موثرو کارونو په پايله کې د مشرانو د حکم په اساس د غور ولايت لپاره انتخاب شو او ورته امر وشو چې هلته لاړ شي د هغې ځاې مجاهدين سره منظم کړي څکه هلته يې له مخکې پيژندګلوي هم درلوده او د هغې سيمې زيات مجاهدين پرې راټوليدل ، له ډيرو سختو تکليفونو او کړاونو وروسته نوموړي د نورو ملګرو سره د غور ولايت بالامرغاب والسوالۍ ته ورسيدل ، هلته هم سمدستي دامير الحرب په حيث وګمارل شو ، مجاهدين يې منظم کړل او د طالب مشرکينو سره يې ډير سخت جنګونه راغلل چې الله عزوجل قريشي امر صيب ته فتحه او دښمن ته شکست ورکړ .
امر صيب په دغه سيمو کې د اسلامي خلافت د يو مظبوط نظم د رامنځ ته کيدو په لټه کې و ، غوښتل يې چې په غور ، جوزجان ، فارياب او سرپل ولايتونو کې د اسلامي خلافت مجاهدين سره همغږي کړي او دا منطقې سره وصل کړي ، په همدې هدف د روژې په مياشت کې د خپلو ملګرو مفتي ابو حنيفه او خان اقا اکبري سره يو ځاې د جوزجان په لور حرکت وکړ ،
چې د فارياب ، سرپل او جوزجان په پوله د تاشقله په سيمه کې د امارتي مشرکينو له لوري اسيران شول ، مفتي ابو حنيفه او جان اقا اکبري هم داسې مخلص مجاهدين و چې تر اوسه يې لا د ډيرو په زړونو کې د اخلاص او ديانت کيسې ژوندۍ دي ،خان اقا اکبري چې په بلال اکبري هم مشهور و ، د بادغيس ولايت د قادس والسوالۍ د قريه کاريز

د خليفه محمد زوی و، دده د اخلاص او ديانت هم ډيرې خوږې کيسې موجودې دي چې په خپل وخت به يې له لوستونکو سره شريکې کړو
نوموړي چې د امر صيب له ډيرو پخوانيو او نيږدې دوستانو څخه و او هر چرته په هر سفر کې به امر صيب سره ملګرې و نهايت تقواداره ، مخلص او خوش اخلاقه او عاجز انسان و، ټول عمر يې د جهاد په لار کې په هجرتونو او کړاونو کې تير کړ، امر صيب سره يې لومړې ننګرهار او بيا غور ته هجرت وکړ او امر صيب باندې هم ډير زيات ګران و، د سيمې خلک يې له اخلاقو او نورو ځانګړتياو تر اوسه متاثره دي، چې چرته به هم لاړ نو د خپلې سيمې خلک به پرې راټول و اکثره به چې بازار ته ووت ځوانان به ترې راچاپيره شول او ده به هم په ډير اخلاص په عوامو خواږه ويشل ، د خلکو ورسره نهايت زياته مينه وه د سيمې خلکو ته يې اخلاص ، ديانت او تقوا مالومه وه ، کله يې چې بيعت وکړ خپلې سيمې ته ستون شوې و، هلته يې قوم کې يو امارتي خبر شوې و نو ورته يې ويلې و چې که هر څه غواړې خه ژوند درته محيا کوم ماسره جبهه کې اوسه نظر بند يې ساتلې و خو اکبري خپله سپيڅلې عقيده هيڅکله د دنيا په سهولتونو نه ورکوله بيا يې ځان راويستلې و او ننګرهار ته ولاړ ، زړور دومره و چې تل به يې د مرګ په سترګو کې سترګې ورکړې وې ملګرې يې د ميړانې او شجاعت ډيرې نادرې کيسې کوي ، يو ځل يې د هرات ولايت په اوبه والسوالۍ کې چشمه صفا په نوم سيمه کې په يو درې منزله هوټل کې د اشرف غربي د حکومت په يوه پوسته انغماسي زمرو سره دې هم په عملياتو کې شريک و ، هوټل کې يې لاس په لاس مرتدينو سره جنګ کړې و، ملګرې ترې شهيدان شوې و، ده خه بې دريغه مرتدين له تيغه تير کړې و او بيرته ژوندی خپلو ملګرو ته ستون شوی و .

مفتي صيب ابو حنيفه چې خپل نوم يې عبد القيوم و د فراه ولايت و او په قوم نورزی و ، په مفتي صيب هم الله عزوجل د يوې خايسته ځوانۍ او پراخه علم لورينه کړې وه ، نوموړی هم په خپل منهج او عقيده کلک انسان و ، د حق په مقابل کې يې د هيچا پروا نه کوله تل به د اسلامي خلافت د منهج او عقيدې په اړه په دعوت بوخت و ، هميش به يې

له مختلفو لارو امارتي مرتدینو سره مناظرې او مباحثې کولې ، یو ځل د اسلامي خلافت ساحې ته امارتي مرتدینو خپل هغه ملایآن چې په دوی کې د خبرې خلک و را واستول ، او مجاهدینو ته یې وویل چې موږ سره مناظره وکړئ ، تاسې موږ ته خپل ځان حق ثابت کړئ او که داسې ونه کړئ له سیمې ووځئ ، موږ ته درد سر مه جوړوئ ، همغه و چې مفتي صیب ورسره ډېر مدلل بحث وکړ دا مناظره به شاید ډېرو لوستونکو اوریدلې وي، نه یوازې دا چې راغلي وفد ته یې د اسلامي خلافت حقانیت ثابت کړ بلکې د امارت په ارتداد یې هم ورته ګڼ دلایل وویل تر دې چې په راغلو کسانو کې یو په لوړ غږ چغې کړې چې والله اسلامي خلافت په حقه دی ، کله چې دغه راغلي هیئت په مناظره کې مات شو نه یې د اسلامي خلافت د بطلان لپاره کوم دلیل درلود او نه یې د امارت د ارتداد څخه په دلایلو دفاع کولای شوه نو بیا په دې پلمه ولاړل چې موږ ستاسې دا دلایل خپلو نورو مشرانو ته وایو که یې جواب درلود خه ده ګنې موږ هم د امارت صف پرېږدو (العزایم اداره اراده لري چې د قریشي امر صیب په ژوند او جهادي کارنامو یوه ځانګړې ویډیو برابره کړي چې دا مناظره به هم په یاده ویډیو کې سره له نورو جزیاتو نشر شي ان شاء الله) خو کله چې دغه د امارت د ملایانو راغلي وفد بیرته مات او ذلیله ستون شو نو په ځای دې چې په خپل عهد وفا وکړي دلایل راوړي د نورو مشرانو سره یې یوځای په مختلفو سیمو کې دا تبلیغات وکړل چې دوی د امارت ټول کسان مرتد ګڼي او کافر ورته وایي بغیر له دې چې همغه دلایل ورته وړاندې کړي کوم چې مفتي صیب پرې د امارت ارتداد ثابت کړي و ، همغه و چې له څو لوریو په ډېر لوړ تعداد کې له دین څخه ناخبره هغه چرسیان او بې بندوباره ټوپکمار چې د امارت په صف کې یې په غلاو ، اخلاقي فساد او نورو ناروا کړنو شهرت درلود راټول او د اسلامي خلافت په مجاهدینو راوشکارل ، دغه چرسي لښکرې چې د شمال ، جنوب او غرب له دولسو ولایتونو راټولې شوې وې تعداد یې زرګونو ته رسیده چې د ګوتو په شمیر مجاهدینو له لوري یې د لوی الله عزوجل په فضل ماتې وخوړه او ذلیله ستانه شول ، دا احزاب چې له لوې اختره مخکې راټول شوې و ، یو ځل بیا یې له اختر څخه وروسته هجوم راوړ دغه وخت په سیمه کې اتیا کسه مجاهدین موجود و، ۲۰ کسه مجاهدین ترې شهیدان شول باقي هغه یې هم په پوره میړانه او استقامت جنګیدل ، ددغه مجاهدینو مسول وایي چې په دغه سخت وخت کې د حکمتیار مرتد پیغام راورسید چې ۲۰۰۰ کسان مرستې ته در استوم تاسې د خلافت بیرغ ښکته کړئ، د اشرف غربي مرتد حکومت چورواکو له ډلې یې عبد الله عبدالله ویل چې درې رنګه بیرغ اوچت کړئ موږ مو هوایي او زمیني مرسته کوو بل طرف طالبانو هم همدا غوښتنې کولې چې له جنګ څخه لاس واخلئ هر څومره امتیاز چې غواړې او هر ډول شرایط چې لرې موږ ته منظور دي ، خو د اسلامي خلافت په پاکه عقیده سنبال دا د نړیوال اسلامي خلافت اتلان داسې کلک روزل شوي و او دي چې هیڅکله به په هیڅ وخت کې هیڅ ډول ، کفر ، طاغوت او شرک سره نه معامله وکړي او نه به ورته سر ټیټ کړي باذن الله .

لنډه دا کله چې امر صیب ، مفتي صیب ابو حنیفه او خان اقا د امارتي مرتدینو له لوري اسیران شول له سختو شکنجو او تعذیبونو وروسته یې کوهستانات والسوالی ته انتقال کړې و ، په زندان کې امارتي مشرکینو مفتي صیب او ملګرو ته یې ویلي و تاسې په یو ویډیوي کلیپ کې خپله فتوا بیرته واخلئ، ووایه چې امارت په حقه دی او موږ په غلطه روان و ، موږ مو ازادوو او که داسې ونه کړئ نو وژنو مو ، خو مفتي صیب ورته په پوره جرآت او میړانه ویلي و چې اوس هم ستاسې ټول امارت ته چیلنج دی چې راشئ اسلامي خلافت ناحق او امارت حق ثابت کړئ نو زه به له خپلې داعیې تیر شم او که داسې نه وي نو چې سل ټوټې مې کړئ هم له خپل دریځ او منهج څخه مې نه شئ اړولې ، زه نه غواړم چې د خپل مرګ له یرې خلک په فتنه کې واچوم .

د امر صیب یو ملګرې کیسه کوي چې کله یې امر صیب دوی ونیول نو د امر صیب روزل شوي نور د صحرا زمرې په یادو سمیو کې موجود و ، هغه وخت د سرپل ، جوزجان او فاریاب اړوند یو غر و ډیر دنګ غر و د قرچې په نوم دا ددوئ د حاکمیت لاندې و د فاریاب ولایت د بل چراغ والسوالی اړوند د د تیشک په نوم یو ډیر لوړ دنګ غر دې دلته ددوئ سنګر و ، هر چا چې دا سنګر نیولې مقابل لوري ماتوه ، کومو خلکو چې امر صیب دوی نیولي و ددې خبیثانو همدغه لوړ ځای کې پوسته وه د امر صیب ملګرو د الله په نصرت ددغې سختې پوستې تر دیوالونو ځانونه ورسول ، په پوسته کې شته اته تنه مو ووژل دوه میله پیکا یو راکټ او څو میله کلاشنکوفونه مو ترې غنیمت کړل او د امر صیب نیونکي کسان مو له تیغه تیر کړل ، بل ځل مو هم ددوئ په کسانو عملیات وکړل دوه کسه مو ترې مردار کړل ، یو ځل مو د امر صیب د تبادلې په نیت په سیمه کې ددوئ مهمو کسانو ته کمین ونیوه چې ژوندي به یې ترلاسه کړو او بیا به پرې امر صیب دوي تبادله کړو خو هغه کسان ټول راڅخه هغه کمین کې مردار شول ، شپه او ورځ مو په ډېرو سختو شرایطو کې د امر صیب مجرمان وژل ، د کوچنې اختر شپه وه ، او موږ ځینو سره خبره کړې وه چې په اتیا لکه افغانۍ له زندانه راوباسي ضمانت مو هم ورکړ چې پیسې درکوو، په زندان مو د انغماسي برید ترتیب هم برابر کړ، لا مو اقدام نه و کړی امارت ته په سیمه کې د امر صیب مخلص سرښندویان مالوم و ، پوهیده چې په هر حال وي دا به ورڅخه اذادوي ځکه یې نو پرې تادي وکړه او د روژې په نهه ویشتمه شپه یې دوی له زندانه ویستلي و هملته یې په یوه سخته شګلنه او سوځونکې دښته کې په ډېر وحشت په شهادت رسولي و تقبلهماللله جمیعا .

دغه شهداؤ جسدونه څو ورځې سوځېدونکې لمر ته پراته و ، اخر پرې بیا یو شپون ورپېښ شوې و، بیا د سیمې خلک هم ورتول شوې و ، چې کتلي و، جسدونه یې همغسې تازه پراته و ، بیا د سیمې زیاتو خلکو یې جنازه کړې وه او دوی دفن کړې و ، چې د یو څه وخت تیریدو وروسته د امر صیب خپلوانو د امر صیب جسد ویستلې و او غوښتلې چې خپلې سیمې ته یې انتقال کړي ، د امر صیب جسد له څو ورځو وروسته له قبر څخه هم ښه تازه راووت ، بیا د امر صیب خپلوان لاره کې د افغان مرتد حکومت له لورې بندیان شول او د امر صیب جسد یې ترینه واخست او په دې تمه چې خراب به شي څو ورځې یې په پلاستیک کې وپیچه خو بیا هم د امر صیب جسد همغسې تازه و او هیڅ قسم نقصان ورته نه و رسېدلې چې ددې پېښو د سیمې ډیرې خلک شاهدان دي ،

د امر صیب زمریو ملګرو ددوی په انتقام کې پنځلس تنه امارتي مشرکین همغه وخت ووژل او دا د انتقام اور لا مړ نه دي ان شاء الله د امارت ټولو مرتدینو سره زموږ د داسې زرګونو شهیدانو د وینو پور پروت دي هغه چې دوی په ملاتړ ددوی او امریکایانو په وروستي شریک جنګ کې په ننګرهار او کنړ کې یې د اسلامي دولت د تمکین په ساحو د خپلو باداراو امریکایي درنده ګانو د هوایي بمبارونو په پایله زموږ کومې باعفته زنانه او واړه ګلالي کوچنیان وژلي د هغې حساب خو لا بیل دي او یا اوس هم لګیا دي د چاپو په نوم په شبخونونو او خپلو وحشتونو کې زموږ خویندې او بچې راوژني .

دوی یوازې په هرات کې په یوه چاپه کې زموږ اوه تنه ماشومان او ګڼې زنانه په ډیره بې رحمې په شهادت ورسولې ، هغه هرات چې امر صیب یې د کفارو او ددوی د مرتدو غلامانو څخه په ازادۍ کې داسې مبارزه او نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې چې نه تنها د هرات بلکې د شا او خوا ټولو ولایتونو نر او ښځې یې شاهدان دي ، امارتي مشرکینو څخه د امارت له صف څخه هغه وخت د امیر صیب او ملګرو په څیر مخلص مجاهدین د خلافت لیکو ته راغلل او هغه چې د همغوی په قربانیو ګټل شویو ساحو کې یې دا نوې امارتي مشرکین ګرځي او دا پروپاګنډې کوي چې د امریکایانو خلاف دا شل کاله جنګ خو امارت کړي خو خبر نه دي چې امریکا ته چا ماتې ورکړه همغه خلک د خلافت په لیکو کې دي او یا یې ځینې هغه وخت شهیدان او یا د امارت د ارتداد له کبله په کورونو کېناستل خو د همغه مخلصو مجاهدینو د وینو او قربانیو په پایله کې لګیا دي دا تیار خواره یې د امریکا او نوري ټولې کفري او طاغوتي نړۍ د امنیت ساتلو او د شریعت په نامه په یوه نوې بڼه د دیموکراسۍ د تحکیمولو لپاره لګیا دي زموږ باعفته خویندې او ماشومان بې دریغه راوژني ، داسې نه ده چې ګنې موږ ددوی ښځې او ماشومان نه شو وژلې دا کار ددوی له وژلو راته اسان دي اوس چې د خرپ ، ترپ په مرګوني بریدونو کې ددوی مسلح افراد هره ورځ وژنو نو ددوی ښځې او بچې هم وژلې شو خو موږ دا کار ځکه نه کوو چې موږ خپل دین له دې کاره منعه کړي یو خو دوی دې ځان سره حساب نیسي ډیرې سختې د حساب ورځې یې رارواني دي باذن الله ، دوی به وګوري چې موږ دوی په کومو مرګونو وژنو ، د امرصیب او ملګرو په ستړیاو ، زخمتونو، اوښکو او وینو ګټلي د فاریاب ، سرپل ، تخار ، جوزجان ،بادغیس ، هرات او اړوندو نورو سیمو پراخه دښتې ، کلي او ښارونه اوس هم د امر صیب له لارویانو ډک دي دښمن دې دا فکر نه کوي چې ددوی وینې هسې ضایع لاړې زر ده چې د همغوی په وینو ساتلې شوې او پالل شوې دا خاوره چې پرې امر صیب خښ دي ، باید پرې د نورې نړۍ په شمول د الله عزوجل رښتیني حقیقي نظام حاکم شي ډیر زر به یې د امر صیب لارویان د امارتي مشرکینو له نجسو قدونو ازادې کړي باذن الله .

هو !

دا د ایثار د هغه دنګ منار عبدالجلیل (نصرت ، مکي ، قریشي) خر قبر دي چې ورپسې روانو لارویانو ته یې، په درسته نړۍ د الله عزوجل د نظام د حاکمیت پیغام ورکوي .

موږ په هرات ، بادغیس ، فاریاب ، سرپل ، جوزجان او نورو اړونده سیمو کې په هغه اولسونو غږ کوو چې د امر صیب او ملګرو قربانۍ ، اخلاص ، دیانت او صداقت ورته له هر چا ښه معلوم دي .

راشئ ! د امر صیب په څېر د اسلامي خلافت د قافلې لارویان شئ او د اسلامي خلافت د مجاهدینو سره مو په هر ډګر کې هر ډول مرستې ونه سپموئ تر څو اسلامي امت خپلو ارمانونو ته ورسیږي .

ځوانه...

ای د پالنگ ښځه خوندونه اخستونکی ځوانه
ای د دنیا په لذتونو غولېدونکی ځوانه
یوه شپه راشه د سنگر دا بې خوبي وگوره
دا ولړې تندې دا بې کوره زندگي وگوره
دلته دا خلک لېوني نه دي نه ژوند نه تنگ دي
سترگې کړه خلاصې ورته وگوره د گل په رنگ دي
دوی د جنت بدل کې نفس باندې سودا کړې ده
هغوی هلاک شول چا چې دوی پورې خندا کړې ده
ته ملامت نه یې ستا فکر استعمار دی ځوانه
گرام تحقیق لپاره من عقل په کار دی ځوانه
زما شپې ابله مجاهد ته ترهگر مه وایه
رب طاقتور دی بل هیڅا ته طاقتور مه وایه
دا د بمونو بارانونه چې هر خوا ورېدل
ریښتیا ریښتیا وایه په تا او که په ما ورېدل
ته بې روزگاره یې په کار کړلې ډالر یې درکړل
تا ته یې پول جوړ که ټانگونه او رېنجر یې درکړل
زما مسجد او مدرسه یې کړله لوټې لوټې
زما انگړ زما حجره یې کړله لوټې لوټې
کروز میزایل او هره نوې او زړه اسلحه
شوه استعمال مې په تمکین لویه وړه اسلحه
تا ته یې جوړ که د سازونو او سندرو تالار
زما یې ژبه کړله غوڅه د توحید په شعار
زما تور سرې یې کړې خاورو سره خاورې ځوانه
په حق به پوه شې که د حق خبرې واورې ځوانه
کوم یو وحشت نه وه چې ونه کړو کفارو په مونږ
پېرزو قلعه د اسلام کله شي د اغیارو په مونږ
هغه ماشوم چې یې لا نوم ډوډۍ ته مم اخیسته
تازه تازه یې د قدم په سې قدم اخیسته
هغه ماشوم هم د باروتو په اور وسوځېده
تمکین هم وران شو د بمونو په مور وسوځېده

بیا هم کافر زه خوارج زه تکفیري زه شومه
بیا هم د کفر پروژه او صلیبي زه شومه
ښه راته یاد شي تا خندل په تا اختر وه ګڼانه
زما د زړه له درده یو الله خبر وه ګڼانه
ستا وې په تن نوې جامې نوي بوټان یاد مې شي
ما لټول تر خاورو لاندې ماشومان یاد مې شي
په ما ټاپه د کفر مه وهه زه نه یم کافر
که له طاغوته انکار کفر وي بیا زه یم کافر
چې ورځ د حشر وي نو رب ته به حساب ورکوې
زما باره کې به ته څرنګه ځواب ورکوې
چې زه کافر وم تکفیري که خوارج وم ګڼانه
زه مسلمان وم که اسلام څخه خارج وم ګڼانه
دا هغه څه دي په دنیا یې ځواب نه راکوې
بغیر له دروغو تهمتونو راته څه راکوې
رب ته توبه وکړه سپېڅلی خلافت ومنه
له تنظیمونو را جدا شه شریعت ومنه
له هر طاغوت څخه انکار او بغاوت ومنه
مرګ نه خلاصی نه شته دی ورځ د قیامت ومنه
قبر، برزخ، پل صراط، دوزخ، جنت ومنه
بدعات کړه ترک راشه قرآن راشه سنت ومنه
د عرش د پاسه استوا د رب صفت ومنه
په ټول عالم یې احاطه علم قدرت ومنه
باطل ته شا کړه باطل پرېږده حقیقت ومنه
د حق طرف ته دي رابولمه دعوت ومنه
زما فراق دا مختصره نصیحت ومنه
ای د پالنګ څخه خوندونه اخیستونکی ګڼانه
ای د دنیا په لذتونو غولېدونکی ګڼانه
یوه شپه راشه د سنګر دا بې خوبي وګوره
دا ولږې تندې دا بې کوره زندګي وګوره

کوږ بار تر منزله نه رسیږي

کوږ بنیاد کږه ابادي

له کوچنیوالي مې له خپلو مشرانو، استاذانو، او پوهانو دا متل اورېده:

چې کوږ بار تر منزله نه رسیږي.

هو! د کوږ بنیاد ابادي او تعمیر کوږ وي، ددغه متل مصداق او حقیقت مې کلونه وروسته د ژوندانه د مزل په مختلفو پړاونو کې مشاهده او مختلفې نمونې مې د مثال په ډول ددې خبرې د اثبات لپاره تر سترګو شوې، چې یوه له هغو یې د طالبانو د امارت په نامه طاغوتي، ماړرن تش په نامه اسلامي نظام دی، ممکن زیات خلک به په دې اند وي چې د امارت بنسټ به صحي و خو وروستیو کې به د ځینو عواملو او بهرنیو مداخلو په وجه له شرعي مسیر څخه منحرف شوی وي!

شاید هغه خلک ملامت نه وي چې ددې نظام په اړه یې همداسې مثبت فکر درلوده، ممکن له نوموړي نظام څخه یې ژور، بشپړ او کره معلومات نه درلودل او یا هم شاید د یاد نظام څخه په لرې واټن کې واقع و، خو که چیرې د طالبانو د پخوانۍ واکمنۍ انځور د کره کتنې په موخه ارزیابي او د لا غور په موخه یې په فکري قالب کې ځای پر ځای کړو نو ددې خبرې حقیقت به راته جوت شي چې د طالبانو د نظام بنیاد کوږ و نو ځکه یې بیا ټولې ابادي هم کږه شوه.

طالبانو لا شل کاله وړاندې په خپل تېر نظام کې د قرآن او سنت سره هغه دښمني کړې چې ډېر سکولر نظامونه یې هم نه کوي:

د قران او سنت په نوم د مدارسو، حلقاتو او ټولو دیني مراکزو دروازې د همدې پرنګیانو له خوا تړل شوې وې، چې نن دا دی بیا عامو مسلمانانو ته په خپلو سپینو جامو، ږیره او اوږدې لونګۍ دهوکه ورکوي او ځانونه د اسلام ټیکه داران معرفي کوي، نو څنګه به د هغه نظام بنیاد مونږ صحي وګڼو چې د رب العالمین د کتاب او د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو دروازې پکې بندیږي، قران او سنت خو زمونږ د ژوند روح او اساس دی، کله چې دا هرڅه له مینځه ولاړل نو باید تش اسلامي نوم یې هم پاتې نشي.

مؤحدینو هم شل کاله وړاندې د افغانستان په جغرافیه کې د طالب نظام لاندې د وېرې، هجرتونو، زندانونو، شکنجو او تعذیبونو ورځې شپې تیرولې او د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم پر سنتو عمل کول جرم بلل کیده او سزا یې وهل، ټکول، او زندانونه و، نو کله چې په یو نظام کې د هغه مؤمن زندګي نه برداشت کیږي چې د محمدرسول الله پر سنتو عمل کوي نو څنګه به دا بنیاد سم وګڼل شي.

قبر پرستي، د حلول عقیده اوشرکیات خو یې د مشرانو په زړونو کې لکه د سامري اغیړل شوېدي، چې د همدې انګېرنې له مخې به یې په جنګونو کې د تېغ بندۍ، فتح صغیر او فتح کبیر لپاره خصوصي تعویذونه کیدل او د هر جګړه مار په غاړه کې به یې راځړول، حال دا چې شرک د اسلام پر خلاف یو ناکاره بنیاد دی نو په همدې اساس کله چې په یو نظام کې د رهبرۍ په سطحه پلیت او شرکي عقایدو ځاله کړې وي، بیا نو له هغه خلکو د اسلام او خیر تمه کول جهالت، خوب اوخیال دی، د طالب مشرکینو د منحرفو عقایدو په لیکلو کتابونه ډکیږي، او په دې اړه د اسلامي دولت مناصرینو پوره لیکل هم کړي دي، ددوی د عقیدې، سیاست او د ژوند د نورو اړخونو د نړیدونکو ودانیو بنیاد له پیله همداسې کوږ دی، ځکه به یې نو د پردیو استخباراتي معمارانو په لاسونو په کږو بنیادونو جوړ شوي تعمیرونه زر راونړیږي باذن الله.

دې مرکبو جاهلانو دوه لسیزې وړاندې هم د اسلام او مسلمانۍ معیار اوږدې جامې، لویه ږیره او لونګۍ په سر کول و، له دې هاخوا ورته د چا ایمان، عقیده او اسلام کوم ارزښت نه درلود او نن یې هم همغه حال دی.

د طالبانو د تحریک بنیاد آی ایس آی ایښي او دا د لمر په څیر روښانه خبره ده چې د روسانو په وړاندې د مقاومت واګې چې څنګه آی ایس آی رهبري کولې همغسې له هغې راورسته یې له همغې لیکو یې د امارت په نامه د یوې بلې پروژې د تطبیق لپاره ځینې اخوندان ملایان را واخستل او د تربیت لاندې یې ونیول، دغه ملایان د امریکا خاص ایجنټ کرنیل امام ډیر خه وروزل.

شل یا پنځه ویشت کاله مخکې که جنرال حمید رهبري کول اوس یې نو فیض حمید رهبري کوي او اوس که جنرال حمید نه شته نو فیض حمید هغه دی په ارګ کې فاتحانه مانورونه کوي، تاسې ولیدل چې د امریکا څخه د کابل د واک په هډوکي نښتي اخوندان یې څنګه سره راټول او پخلا کړل، څومره زر یې کابینه ورجوړه کړه او څنګه یې سره په دې مرداره راټول کړل.

همغه زوړ ملا او زړې تراوې دي خو فرق يې دومره کړې چې د طالب مشرانو په تربيت او تجربو کې ډېر پرمختګ شوی ، دوی ته په ډېر هنر او کمال دا هر څه ورښودل شوي ،چې دادی اوس ورته له اسلام ، ناموس ، غيرت او نورو ارزښتونو پرځای د پاکستان ګټې مقدمې دي او دوی نو دا وفاداري په کراتو ثابته کړې او لا هم لګيا دي د آی ايس آی په وندر ترلي دا سخوندر

هيڅکله هم د خپلې غوجلې د ورانيدو فکر نه کوي .
دادی د همغه تور ډېرې ملا مد اسن ډېره اوس سپينه ده د ملا برادر په څېر دا ګونګه شهزادګۍ چې نه يې خبرې زده دي او نه يې چرته بل هنر او کمال زده دی فقط آی ايس آی ته د وفادارۍ زوال يې زده دی ځکه نو لا هم په خپل حال پاتې دی ، اوس نو فقط د بادار يو ورور يې تللې بل

راغلې اوس نو د ملا مد اسن ډېره سپينه شوه خو له غاړې يې د آی ايس آی غړوندې لرې نه شو کړای ،اوس د نواز شريف په ځای فيض حميد او باجوه ته د تعظيم سر ټيټوي .
اوس نو د پاکستان د سفير په نامه دا لنډی مکناټن د پاکستان د پنځمې صوبې افغانستان وايسرای او اداره چې دی ، عيان ته د بيان اړتيا نه شته دا هر څه لوستونکي عملي ګوري چې

دوی د چا له اړخه رهبري کيږي د بهرنيو او کورنيو چارو او سياستونو پاليسې او طرحه ورته څوک ورکوي ، دوی چاته ځواب ګوی دي ، چاته خپل راپور ورکوي او له چا نوي اوامر اخلي ؟؟؟

دا معلم صيب خپلو شاګردانو ته هره ورځ درس ورکوي ، هره اداره او هره لويه او وړه کېسه د خپل نظر او څار لاندې ساتي ،دا پټکي په سر اخوندان داسې لوبوي لکه يو هوښيار ماشوم چې په خپلو نانځکو لوبې کوي .
هو ! همدې هوښيار ماشوم (منصور احمد خان)د خپلې مور امريکا څخه ډېره ښه تربيه ترلاسه کړې او اوس نو نن سبا ډېر ښه روان دی .

خو دا د کرنيل امام شاګردان دومره په وياړ په خپلو ناموسونو او ارزښتونو سودا کوي چې بيخي ورته د انسان عقل کار پرېږدي .
دادی طالب مشرکين اوس نو د خپلو پاکستاني بادارانو په لارښوونه د کمونسټو چينايانو سره د دوستۍ او ورولۍ داسې يو خواږه پړاو ته ننوتي چې دا يې په خوا او خاطر کې هم نه ګرځي چې دا چينايان خو کمونسټان دي ، دا خو مشرکان دي ، دا خو حربي

کفار او د اسلامي خاورې شرقي ترکستان لاندې کونکي اشغالګران دي ، دا خو د ايغور د ميلونونو مسلمانانو قاتلان دي ، دا خو زموږ د ايغور مومنو تور سرو ناموس لوټونکي درنده ګان دي .
دوی سره دوستي او داسې راشه درشه په کوم کتاب کې روا ده ؟
په ځای ددې چې ددغه چيت پوزو رزيلانو سره د محکوم اسلامي امت او اشغال شوې خاورې حساب وشي دوی سره پټ او ښکاره د دوستۍ او صميميته ډک مجلسونه کيږي .
دوی ته ميلمستياوې دي ، ورسره چکرونه ، ترونونه ، بنډارونه او خنداوې دي .

خو له ټولو څخه زياته د درد او افسوس خبره بيا داده چې آی ايس آی دا رانده چرګان دومره په ارزانه قيمت په خپلو نويو او زړو بادارانو پلوري او بيا پرې داسې کېسې او معاملې ترسره کوي چې زموږ ګوټې د دوی دداسې خيانتونو او جنايتونو په ليکلو له خجالته خوله کيږي



دغه مور او خور نه پیژندونکي وحشیان دا د شرقي ترکستان د میلونونو باعصمته تور سرو ناموس لوټونکي درنده ګان دي زموږ په مسلمانو خویندو په زور او جبر جنسي تیري کوي ، خو د طالب د ذلت او پست والي دا حد دی چې زموږ په مسلمانو خویندو جنسي تیري کونکو ته ډېره بې حیایي ځومره په خندا او ویاړ جنغوزي ډالۍ کوي ، د خپلو غرونو د جنغوزیو دا وړه ډالۍ د ټنونو جنغوزیو د هغه سترې ورکړې نمونه ده چې چینایي کمونستانو سره د دوستۍ ، تجارت ، صمیمت ، محبت او دوی ته د جنسي قوت ورکولو یوه له شرمه ډکه او د تاریخ نه جبرانیدونکې دسیسه او معامله ده .

چینایي کمونستان دې د شرقي ترکستان نوم په سینګیانګ بدلوي ، د ایغور د مسلمانانو په زرګونو جماتونه او مدارس دې په طبیلیو او غوجلو بدلوي ،ددوئ نسل وژنه دې کوي ، دوی دې په اجباري کمپونو کې د اسلامي هویت او عظمت په پریښودو مجبوریږي خو د آی ایس آی په روزنتون کې دې دا روزل شوې کولنګي چرګ داسې په یو پښه کوږ ودریږي او بیا دې په خندا خپل وزر د چینایي چیت پوزې سره جنګوي ، خو بیا دې هم د

نړۍ د مسلمانانو غمخوار او د ازادۍ اتل (!) وي .
چینایي وحشي ځوانان دې

د ایغور د مسلمانو انجونو په تعذیب خونو کې د خپل عیاشۍ اور د هغوی د عصمتونو د لوټولو په پایله کې د هغوی د ندامت او بې وسۍ په خولو مړ کوي خو دوی دې بیا همغه مغرورو مردار خورو ته داسې په ویاړ او مینه غاړه غړۍ ورځي چې د دې چینایي وحشیانو په داسې جابرانه او مغرورانه انداز کې زموږ دلوټ شویو تور سرو د بې کسۍ یو لویه کېسه ترسترګو کیږي .
دې رزیلو چینایي مردار خورو



ته د خپلو پخوانیو شاګردانو او وفادارو پاکستانیو مرتدانو په لاسونو روزل شویو طالب جګړه مارانو غیرت ، ایمان او توره مالومه ده ، ځکه نو پرې ډول ، ډول رشخندونه وهي ، هم یې د اسلامي امت ، مال حال لوټ کړ ، هم یې ددوی دیني او معنوي ارزښتونه د پښو لاندې کړي، هم یې د مسلمانو میرمنو د حیا جنازې وویستې هم نو ورسره دادی په ډېره خوشالۍ او خندا داسې چسپې برګنډې ، د بړق خندا او د دوستۍ داسې شریک انځورونه او له محبته ډک دیدنونه کیږي

په هر صورت له هر څه زیاته د درد او افسوس خبره بیا داده چې چې همدا حشرات بیا ځانونه فاتحان او د ازادۍ اتلان بولي ، دوی بیا کله په کابل کې د اقصې په نوم د مسجد د قبة الصخرة سنبولیک نښان ددې لپاره نسبوي چې په دې منافقت د خلکو داسې ذهنیت سازي وکړي چې ګوندې دوی خو د مسلمانانو د لومړۍ قبلې د ازادۍ په غم کې هم دي خو دا احمقان داسې فکر کوي چې ترکې ته په یوه وخت ددوی د لوړ پوړو چورواکو او د اسرایلو د ولسمشر سفرونه او هلته د دواړو لوریو پټ مجلسونه به ګڼې همداسې پټ پاتې شي او یا د ټولې نړۍ کفارو ته د امن ډاډ ورکول او همدا راز تازه ددوی د مشرانو په خبرو کې د کشمیر د مسلمانانو مسله د هند کورنۍ مسله ګڼل او همداسې د ایغور د مسلمانانو په حق کې داسې معاملې ترسره کول ګڼې څوک نه ګوري، نه اوري او نه هم له دې شومو کړنو څوک خبریږي ؟

طالب چې ځان داسې غولوي فکر کوي چې نور مسلمانان به هم همداسې وغولوي خو داسې نه ده پوهه او هوښیار خلک ددوی په ټولو شومو موخو او کړنو پوره خبردار دي یوازې یو څه جاهله لنډه غر به تر یو وخته په خپلو داسې کړنو او تبلیغاتو غولیدلي وساتي خو دا ښکاره ده چې کوږ بار تر منزله هیڅکله هم

نه دی رسیدلی،
طالب ته اوس همغه د کلي لوچک لوفر ورپاتې دي، د خپلې علاقې لوچک او لوفر هم راته یاد شي چې په کور او کلي کې به په لواطت، زنا، نشو تماشو مشهور و خو د لونګۍ او سپینو جامو په اغوستلو به د دوی لوی قمندان و، چې اوس بیا کټ مټ همغه تاریخ تکراریږي: زموږ د علاقې یو تعداد کسان چې په تېر جمهوریت کې د ملي اردو، ملي امنیت او مختلفو جاسوسي ارګانونو ښکاره کارمندان وو نن بیا یواځې د ډیرو په اوږدولو ددوی با اعتماده کسان دي چې همدغه افراد یې په نژدې تېرو اوه اتو میاشتو کې په اخلاقي فساد، غلاوو، بې ګناه قتلونو او نورو مختلفو جرایمو د کره ثبوتونو او شواهدو سره د همدوی لخوا ونیول شول، مګر پرته له شرعي حدودو تطبیقولو د څو ورځو حبس کولو پس بېرته ازاد او په برګو سترګو خپلو وظیفو ته ستانه شول.
شل کاله وړاندې یې افین، چرس، نصوار او نورو نشه یې موادو کښت ته مشروعیت ورکړی وو او تر ځنګ یې د نړۍ لوی قاچاقبران د همدوی مشرانو وو، نو له داسې خلکو چې د بدن غوښې او هډونه یې به حرامو تغذیه شوي وي له دوی به د صحي بنیاد او اسلامي نظام تمه څنګه وشي.
نو په همدې اساس یې نن یو ځل بیا په هماغه کوږ بنیاد ابادي وکړه او د پخوا په نسبت یو څو قدمه نور هم د کفریاتو، شرکیاتو، او نورو محرماتو په پوړیو پښې کېښودې او ور پورته شول، افغانستان ته له راتګ څخه وړاندې یې په قطر کې د خپلو اصلي کفارو او مشرکانو ورونو سره د حقیقي مؤمنانو د وینو تویولو، شکنجه کولو او تعذیبولو قراردادونه امضاء کړل، او د نړۍ د حقیقي مسلمانانو څخه یې براءت اعلان کړ او له اسلامي اخوت او ورورولۍ څخه ورته منکر شول او له راتګ سره سم یې ورته په عملی ډګر کې

خپلې ژمنې پوره او یو ځل بیا یې هماغه پخواني بلکې له هغې هم څو چنده زیات ظلمونه تکرار کړل او د هغه مؤمنانو چې د توحید او سنت په عقیده سنبال و قتلول او تعذیبول شروع کړل چې د علماؤ تر څنګ یې د مدرسو معصوم ګلالي طالبالعلمان هم په شهادت ورسول.
د هغه مدارسو دروازې یې لا د مخه ورتړلې وې چې د رب العالمین توحید پکې بیانېده، د قرآن کریم د تفسیر تر څنګ به پکې د محمدرسول الله د سنتو تعلیم ورکول کېده خو د ډېر تعجب ځای دا دی چې د قران او سنت د دښمنانو، د صحابه کرامو د ګستاخانو، د هغوی د تکفیرونکو شیعه ګانو او روافضو مدارسو او مساجدو ته یې مشروعیت ورکړی او ترڅنګ یې د دفاع لپاره هر قسم اقدامات کوي!
نن یې هماغه د قران او سنت سره دښمني د ممبرونو پر سر پدې الفاظو اعلان کړه چې له هر چا څخه مو دا څلور الفاظ واورېدل: چې قرآن، سنت، سند او د شرک الفاظ دي هغه زمونږ دښمن دی او د افغانستان په ټولنه کې یې ځای نشته، د پیژندلو په صورت کې به شکنجه او زندان ته اچول کیږي.
نن یې یو ځل بیا ظاهري قیافة، خپلولي او واسطې د نظام معیار وګرځاوه او د استخباراتي شبکو اجنټان، شراب خواره، او د نجونو په رقصونو

کې ګډېدلي ډمان او مجرمان یې یو ځل بیا په چوکیو او منصبونو کینول.
په قطر کې د بربنډو ښځو سره مجلسونه او مرکې یې هم له چا پټې ندي!
د خوراک او څښاک پر سر ورته د ربابونو غږول یې هم د نړۍ مؤمنانو ولیدل!
د هغه کفارو سره چې لاسونه یې د مؤمنو معصومو ماشومانو، زنانه و، سپین ږیرو او ځوانانو په وینو سره دي خنداګانې، په خارجي رواجونو ښه راغلاست یې هم مسلمانانو ننداره کړ او د نفرت لاړې یې ورتوف کړې.
د اخلاقي فسادونو تر څنګ یې نصوار، سګرېټ او نورې نشې خو یې د سنګرونو په لیستونو کې رسمي ځای لري.
نو د نړۍ ټولو مسلمانانو ته وایو چې ای مظلومو، کړېدلو، او دردیدلو مسلمانانو پام چې د زړه امیدونه مو د داسې کاږه بنیاد او کږې ابادۍ سره ونه تړئ!
دوی به هېڅکله هم ستاسې د درد دواء نشي او نه به مو د زخمونو پټۍ او مرهم شي.
اې د توحید او سنت پر عقیده سنبالو عربو او عجمو مؤمنانو پام چې د نړۍ د مسلمانانو د دفاع تصور د دوی د ارادو او نظام لاندې تصور نکړئ!
طالب نن د داسې ابادۍ تر چتر لاندې ژوند کوي چې حقیقي مسلمان ورسره نشي اوسېدلای!
طالب نن په داسې مفکوره او عقیده سمبال دی چې نړۍ خو

لا څه چې د خپل نظام لاندې مسلمانان به ورڅخه د امن احساس ونکړي!
اې د ایغور او برما مظلومو، کړېدلو او شکنجه شویو مسلمانانو ستاسې حال خو مو ډېر زوروي د دې پرځای چې طالب ستاسې د انتقام له وجې د چینایي ملحدانو سره عداوت او دښمني کړې وای نن ورسره په خنداګانو په ماړرن سترې مشو څنګلې جنګوي!
ددې سربېره دا د مسلمانانو د وینو څښونکي نن په تندیو ښکلوي او په خندا ګانو ورسره سِلفیانې اخلي!
خو خیر نا امیدي مه کوئ لا تر اوسه ستاسې د دولت اسلامي هغه ورونه ژوندي دي چې ستاسې د انتقام وینې یې په رګونو کې جوش وهي او په زړونو کې یې اورونه بلیږي، ان شاءالله تاسې ته دا زېری او اطمینان درکوي چې د دې دهریانو او ملحدانو سره به مونږ د هر مؤمن ورور او مؤمنې خور تر څنګ د هر مؤمن بچي د ذرې ذرې حساب کوو إن شاءالله وَالْقَادِمُ أَدْهَى وَأَمَرْ.
او د شرکیاتو، بدعاتو، خرافاتو، کفارو سره د دوستۍ او موالاتو په کچه او کوږ بنیاد ددوی اباده دا کچه ابادي به ډیر زر راونړیږي باذن الله او دوی ته د نړۍ استخباراتو ورتړلې دا کوږ بار به دوی هیڅکله تر منزله ونه رسوي ان شاء الله

د سيرت درسونو ته پوځي کتنه !

۲

اقتصادي بنديزونه او د رهبرۍ پريکړه!

د خبرو اترو له ناکامېدو وروسته قريشو د اقتصادي بنديزونو د پريکړې په عملي کولو پيل وکړ، مګر په داسې ستونزمنو حالاتو کې مکه داسې ځای نه و، چې دا د مؤمنانو ډلګۍ په کې وساتل شي، بلکې وژل، وهل، ټکول او شړل وو...

په دې وخت کې د کافرانو نيت دا وو چې د دغو مؤمنانو جرړې له بيخه وباسي، مؤمنانو ته هم په کار وه چې د دغه اسلامي دولت لپاره يوه داسې سيمه وټاکي چې بيا ترې لويې لويې امپراطورۍ ولړزوي، په داسې حالاتو کې له مدينې منورې پرته داسې غوره ځای نه وو چې د اسلامي دولت د رهبرۍ شورا يې د نبي صلی الله عليه وسلم په قيادت کې د عملياتو د مرکز لپاره وټاکي.

سيد قطب رحمه الله ددې په اړه وايي: له همدې ځايه نبي صلی الله عليه وسلم د مکې پرځای د داسې يو پوځ ځای لټون کاوه چې د دوی عقيده او اسلام ته د غاړه ايښودونکو بېوسو خلکو ساتنه په کې وشي او هغوی له فتنو او مجبوريتونو خلاص شي، زما په ګومان چې د هجرت لومړی او اساسي لامل هم دا و.

د اسلامي دولت له لوري بعضو صحابه وو ته حکم وشو چې په لومړيو کې داسې ځای ته هجرت وکړي چې دغه مؤمنه ډلګۍ پکې خوندي شي او په امن کې د الله تعالی عبادت وکړي، د اسلامي دولت د رهبرۍ پريکړه هم دا وه چې بعضې صحابه دې حبشو ته هجرت وکړي او بعضې نور بيا وروسته مدينې ته هم مهاجر شول.

نبي صلی الله عليه وسلم غوښتل چې په دغې پريکړې سره له مکې پرته يو بل ځای هم د دعوت لپاره پيدا کړي او که احياناً په مکه کې داعيان له منځه وړل کېږي، نو يوه ډله به لږ تر لږه بل ځای هم شتون ولري چې دا د دعوت لاره مخته يوسي.

مګر سوچ وکړه!

د کورنۍ، قوم، کلي، مالونو او اولادونو پرېښودل کوم آسانه کار نه دی، بلکې دا ځانګړيو نفسونو ته اړتيا لري، داسې نفسونه چې د الله تعالی په لاره کې قربانۍ او ايثار معنا وپېژني.

داسې پريکړه چې په ټوله کې د سختيو او بوجونو پورته کول وو، دې کې هدف دا نه و چې د زنده ګۍ کچه ښه شي، يا ژوند سهولت کې شي او يا مالونه راټول کړي، نا بلکې دا داسې پريکړه وه چې انسان به د الله تعالی په لاره کې هر څه پرېږدي او دا داسې شخصيتونه وو چې په زړونو کې يې د الله تعالی په لاره کې د قربانۍ، ايثار او فداکارۍ معناوې سمې کېوتې وې، الله تعالی فرمايي: {وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوٓا أَوْ مَاتُوا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ الرَّٰزِقِينَ * لَيُدْخِلَنَّهُم مُّدْخَلًا يَرْضَوْنَهُۥ وَإِنَّ اللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٌ} [سُورَةُ الحَجِّ : 58، 59].

ژباړه: او کومو کسانو چې د الله په لاره کې هجرت وکړ، بيا ووژل شول يا په خپل مرګ مړه شول، الله به هغو ته غوره روزي ورکړي. او بېشکه يوازې الله ډېر ښه روزي ورکوونکی دی. هغوی به داسې ځای ته ننباسي چې هغوی ورباندې خوشحاله شي. بېشکه الله د پوهې او زغم څښتن دی.

بايد پوه شې چې دې د مؤمنانو ډلګۍ حبشې ته هجرت وکړ او هلته د اسلامي دولت د رهبرۍ د پرېکړې سره سم نږدې 15 کاله پاتې شول، ډېری پيښې هم تيرې شوې، لکه د بدر غزا، احد غزا، بنو قينقاع غزا، بنو نضير، أحزاب او بنو قريظه غزاوې او بيا د حديبيې سوله هم وشوه، خو رسول الله دوی راونه غوښتل، تر دې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ډاډه شو چې اسلامي دولت اوس له دې بچ دی چې جرړې يې وويستل شې، بيا يې دوی راوغوښتل.

قريشو په دې شيبو کې اقتصادي پريکون شروع کړ او د نبي صلی الله عليه وسلم په ضد کې دې حد ته ورسېدل چې کلابندي يې خورا سخته کړه، هغه دره چې مسلمانان په کې کلابند وو، هغې ته ټولې تللې لارې يې وتړلې، ځکه دوی ويريدل چې بعضې غيرتي خلک شته او دوی ته د خوراکي توکو د وړلو لپاره ټوله هڅه کوي، کلابندي درې کاله وغځېده، مسلمانان له هر ډول

بنديزونو سره مخامخ وو، تنگسيا وروستي حد ته رسېدلې وه او مسلمانان ډېر زيات وربړول شول.

ابن اسحاق فرمايي: کله چې قريشو وليدل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ملگرو د امن او وسېدلو ښار وموند، نجاشي هم د دوی استازي تش لاس بيرته راولېږلي، عمر او حمزه بن عبدالمطلب هم ايمان راوړ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ملگرو ملتيا يې شروع کړه، قريش راټول شول او په دې سره سلا شول چې داسې ليک به وليکي چې له بني هاشمو او بني المطلبو سره به څوک خپښي نه کوي، نه ترې کومه جينۍ په نکاح کوي او نه به يې هلک ته کومه جينۍ ورکوي او پر دوی به هيڅ څيز نه پلوري او نه به ترې څه پيري، کله چې په دې ليک سره سلا شول، دا يې وليکه، مضبوط لوظونه او عهدونه يې وکړل او بيا يې دا ليک د کعبې په يوه څنډه کې راځوړند کړ.

کله چې قريشو دا کار وکړ، بني هاشم او بني المطلب د ابوطالب څنگ ته ورغلل او له هماغه سره د ابوطالب په دره کې ديره شول، يوازې له بني هاشمو څخه ابولهب وو چې له دغه تړونه مستثنا وو، ځکه هغه د قريشو پلوي وکړه او له هغوی ودريده.

د سختې اقتصادي جگړې سره سره بيا هم د نبي صلى الله عليه وسلم او د هغه د ملگرو غښتلتيا ورځ تر بلې پياوړې کېده، دغې کلابندۍ يوازې د صحابه وو او د نبي صلى الله عليه وسلم د ايمان له زياتېدو پرته هيڅ ونه کړل، صحابه وو به د نبي صلى الله عليه وسلم کلکه پيره کوله، خو په دې موده کې هم د دعوت چارې ولاړې نه وې، بلکې د کلابندۍ په دې موده کې د قريشو شاوخوا ډېرى قبيلو ته د اسلام انگازې خپرې شوې او زيات خلک دې ته جوړ شول؛ تر څو مکې ته سفر وکړي او د اسلام له دين څخه ځان خبر کړي.

له درې کلنې کلابندۍ، ولږې، بنديزونو او پريکون وروسته د قريشو د بعضو مخوريزو خلکو ضميرونه راويښ شول او دا يې احساس کړه چې دوی د بني هاشمو او بني المطلبو يعنې خپلو ورونو، ترونو ځامنو او خپلوانو په حق کې لوی ظلم کړی، دغه کسانو دا پريکړه وکړه چې دا د تيري او بدبينۍ تړون به له منځه وړي او کلابندي به ختموي، تر دې چې خبره دې ته ورسېده تر څو په خپلو لاسونو د کعبې په څنډه کې راځوړند ليک څيري څيري کړي.

د دغه کسانو نومونه:

1 هشام بن عمرو بن الربيعة العامري، چې وروسته يې شکلی اسلام راوړ او نبي صلى الله عليه وسلم ورته د حنين له غنيمتونو پنځوس اوښان ورکړل.

2 زهير بن أبي امية بن المغيرة، دا د أم سلمه رضي الله عنها چې د نبي صلى الله عليه وسلم بي بي وه، د هغې ورور و او د مکې له فتحې وروسته يې ايمان راوړ.

3 مطعم بن عدي بن نوفل بن عبد مناف، ابن حجر په [الإصابة] کې ويلي چې دا کافر ومړ.

4 البختري بن هشام، د بدر په ورځ ووژل شو، نبي صلى الله عليه وسلم ده سره د ده د احسان د اعتراف په بنسټ امر کړی و چې دا مه وژنئ، خو الله غوښتې وه چې ووژل شي، مجدر بن زياد البلوي وروسته له هغې وواژه چې ده له تسليمېدو انکار وکړ او جنگ يې ټينگ ونيو.

5 زمعة بن الأسود بن المطلب الأسدي، د بدر په ورځ دا هم مشرک له دنيا لاړ، خو په ځامنو کې پلار ته گران څوی هم دا و.

دوی پنځه واړو داسې پلان جوړ کړ چې په مسجد کې به زهير بن اميّة د قريشو د پارلمان مخ ته ودريږي او له بني هاشمو او بني المطلبو سره به د قريشو شوی پريکون وغندي او وبه غواړي چې د هغوی په حق کې دې دا ناوړه پريکړه له منځه يوړل شي، که د قريشو نورو مشرانو د دې کار مخالفت وکړ نو نور کسان به د پريکړې سره يو يو په نوبت سره د زهير بن امية د خبرې تائيد وکړي.

په سبا سهار زهير بن أمية د قريشو د پارلمان مختته ودريد او په لوړ غږ يې وويل: ای د مکې خلکو! مونږ به خوراکونه کوو، کالي به اغوندو او بني هاشم دې هلاکېږي نه دې پرې څه پلورل کېږي او نه دې ترې څه اخيستل کېږي؟

قسم په الله تر هغې به نه کښېنم تر څو مې دا د تيري او ظلم ليک نه وي څيري کړی!

ابوجهل له غوسې په ډکه لهجه په زهير بن أمية چيغه کړه: دروغ دې وويل، قسم په الله دا به نه څيرل کېږي!

د ابوجهل د مخالفت پر وخت د پريکړې سره سم زمعه بن الأسود وويل: ای ابوجهله! قسم په الله ته غټ درواغجن يې، مونږ د دې په ليکلو هم خوښ نه وو خو تا وليکله!

بيا د زمعه په ملاتړ ابوالبختري بن هشام وويل: زمعه رښتيا وايي، مونږ د دې په ليکلو خوښ نه وو او مونږ دا پريکړه نه منو!

بيا د درې واړو د نظر په تائيد مطعم بن عدي وويل: تاسې دواړو رښتيا وويل، څوک چې نور څه وايي درواغ وايي، مونږ له دې ليکلو څخه بېزار يو او دا پريکړه نه منو!

ابوجهل پوه شو، چې دې کار ته له مخکې پلان نيول شوی، نو خپله هغه مشهوره خبره يې وکړه: "دې کار ته له شپې فيصله شوې ده...! "

پوه شو چې د دغو مخوريزو خلکو او د دوی د هوډ مخ ته ودريدل آسانه نه دي، له خپل دريځ په شاه شو او چوپتيا يې غوره کړه، مطعم بن عدي د ليک په لور ولاړ تر څو يې څيري کړي، خو کله چې يې ليک ولېد د "باسمک اللهم" لفظ څخه پرته نور ټول ليک د ځمکې ويانو خوړلی وو.

د ليک له څيري کېدو مسلمانان او د بني هاشمو او بني المطلبو څخه د هغوی مرستندويان له کلابندۍ او درې د مکې په لور راووتل، د پير او پلور په برخه کې هيڅ ستونزه نه وه، اسلامي دعوت يو ځل بيا ساه واخيسته او د لوړوالي په لور يې يو ځل بيا مزل پيل کړ.

قريش په دې وخت کې باوري شول چې د دوی دعوتي، رسنيزه، د تنگسيا، کلابندۍ او اقتصادي پريکون جگړې څومره چې دوی گومان کاوه بريالی نه شوې او دوی ته يې هيڅ گټه ونه کړه، حال دا دوی گومان کاوه چې دا جگړې به د دوی د موخو د ترلاسه کېدو لپاره بسنه وکړي.

مگر داسې ونه شوه...!

له دغه لوی انقلاب وروسته څه وشول... دا به په نورو برخو کې بيان کړو، ان شاءالله.

(جريان لري...!)

مؤسسة العزائم الإعلامية

شیندو په دین به ځوانی پورې وورې
حیرانوو به نړی پورې وورې

د مستې حورې یوې کړس خندا نه
قربان شه دا دنیاگی پورې وورې

غازیانو بیا غلیم ښه سم ویشتی دی
ترې دي وتلې مرمی پورې وورې

فتحې شروع شي، شریعت نافذ شي
وي سکون، امن، خوښی پورې وورې

د رب رضا، لقاء، جنّته ځیني
ځار شه زمونږ زنده گی پورې وورې

ټوپک مې راکړه چې غزا ته درومم
جنگ شروع شوی مورکی پورې وورې

دا ځل به خامخا راوړي رنگونه
دا تاریخي قربانی پورې وورې

د لر او بر مؤمنان ټول یوځای شول
د خلافت په شړی پورې وورې